# بسم الله الرحمن الرحيم

# کډوالي او ستونزې

د کتاب نوم: کډوالي او ستونزې

لیکوال: ابراهیم نعیمي

د چاپ ځای: ډنمارک

د چاپ نیټه: ډسمبر ۲۰۱۸ زکال

ډیزاین: بسم الله اغایګل



Download from:aghalibrary

لړلیک


مقدمه: ........................................................................ 7
لومړی څپرکی................................................................ 9
د پیل خبري............................................................9
په ملګرو ملتونو کې د کډوالو لپاره د عالي کمیشنرۍ د اداري جوړيدل ........................................................................10
د کډوالۍ نړیوال حالت ...................................16
دوهم څپرکی.............................................................. 19
د افغانستان د کډوالو وزارت................................19
د کډوالو د وزارت د راپور پر بنسټ د سند لرونکو او پرته له سند څخه د کډوالو شمیر:.........................................................21
دریم څپرکی................................................................ 23
په لویدیزه اروپاه کې د پناه اخیستلو شرایط.................23
عمومي معلومات:.............................................39
د بشري اقامي د اخیستلو شرایط: ..................................51
د کورنیو د الحاق (یوځای کیدو) قانون د اروپایي ګډ بازار د امتیازاتو له مخي ..............................................................63
د دایمې اقامې د اخیستلو نوی قانون ..................................64
د کورنیو د یو ځای کیدلو (الحاق) قانون: ..................................65
د څلرویشت ۲۴ کلنو قانون: ..........................................66
په افغانستان کې د والیدینو د پاملرنې وړ:...............................68
څلورم څپرکی ............................................................ 70
د کډوالو ماشومان او زده کړې......................................70
ـ د کډوالو بچیان باید خپل راتلونکي ژوند ته پام واړوي .................70
هغه ځوانان چې د دولت څخه نقدي مرسته تر لاسه کوي، باید په پوځ او پولیسو کې داخل شي .......................................71




Download from:aghalibrary

په ډنمارک او اروپاه کې د افغاني ځوانانو حالت د زده کړو په تړاو .... 75

څه وخت لویدیزو هیوادونو کډوالو ته په ورین تندي ښه راغلاست وایې؟ ........................................ 81

هسپانیا، یونان او ایټالیا ته د سمندر د لاري د راتلونکو کډوالو په تړاو: ................................................ 84

پنځم څپرکی ................................................................. 89

په کډوالې کې کلتورې ستونزې ............................................ 89

په اروپایي هیوادونو کې د کورنیو شخړو اساسي عوامل ............. 89

۷ ـ په ښوونځي کې لامبو..................................... 103

په اروپاه کې د میرمنو ځانګړې ستونزه......................... 106

د افغانانو تر یوې زیاتې میرمنې: ................................ 106

شپږم څپرکی.................................................................. 108

د افغانستان په ګاونډ هیوادونو کې د کډوالو ستونزې................. 108

په ایران کې د کډوالو شمیره او ستونزې ........................... 108

د کډوالو اوسنی ستونزې او د حل لاري لټون........................... 113

د کډوالو د نړی والې ورځي په ویاړ د بی بی سی رپوټ............ 122

په لویدیزه اروپاه او یا ګډ بازار کې د کډوالو مجموعي شمیر......... 126

افغاني کډوال په بحرونو کې غرقیږي او یا د ځان وژلو هڅې کوي ................................................................. 128

اووم څپرکی ................................................................ 131

د کډوالو ټولنې، مسجدونه او د بنسټپالو مرکزونه ....................... 131

ـ د کډوالو کلتوري ټولنې د اړوندو هیوادونو او افغانانو د کلتور ساتندوي................................................... 131

مسجدونه د مسلمانانو د عبادت مرکزونه................................ 136

د بنسټپالنې د عقایدو د ترویج مرکزونه............................... 137

افغان کډوال او بنسټپالنه................................................ 140



Download from:aghalibrary

اتم څپرکی.......................................................................... 144
په افغانستان کې د کډوالۍ تاریخي بهیر تر ۱۹۹۲ زکال پورې ...... 144
افغانستان ته د کډوالو راتلل: ................................................ 146
د کډوالو بهیر د ۱۹۷۳ ـ ۱۹۹۲ زکال پورې:................................... 153
نهم څپرکی ......................................................................... 162
په افغانستان کې د اسلامي (جهادي) حکومت پیل او کډوالۍ نوی بهیر ................................................................ 162
د ۱۹۹۲ زکال د اپریل اتمه ویشتمه نیټه................................. 162
د طالبانو واکمنۍ ۱۹۹۶ سپټمبر ......................................... 167
د حامد کرزي او اشرف غني د واکمنۍ دوران............................... 170
د لیکوال محمد ابراهیم نعیمي لنډه پیژندنه................................ 173



Download from:aghalibrary

دا کتاب ټولو هغو میندو او پلرونو ته ډالۍ دي چې نازولي بچیان یې د وژونوکو جګړو په وجه د پلرنـي هیواد څخه کډوالي ته اړ شوي او د ستونزمنو سفرونو په جریان کې په دښتونو او سمندرونو کې خپل خوږ ژوند د لاسه ورکړي. د مظلومو کډوالو روح دې ارام او فردوس جنت دې ځای وي چې ژوندون یې د لاسه ورکړي. انا لله و انا الیه راجعون



Download from:aghalibrary

**مقدمه:**

ـ د کډوالي د کتاب د لیکنې لپاره مې ځکه هوډ وکړ چې ډېر تنکي زلمیان په ډېرو امیدونو او د لارو د مرګونو ستونزو سره د اروپاه په شوق کې دي، والیدینو یې هم ډېر امیدونه لري چې ځوان به اروپاه ته ولیږم چې هم د لوړو زده کړو خاوند شي او هم به د کورنۍ سره د اروپایي پریمانه ډالرو مرسته کوي. ډېر افغانان داسې فکر کوي چې دیوال ته ودریږي پیسي را ویستلای شي. هو دا خبره درسته ده خو چې په دیوال (په بانک) کې پیسي شتون ولري. دیوال وچ په وچه هیڅچا ته پیسي نه ورکوي.

ـ د کتاب د لیکلو دوهمه موخه دا ده چې د نړۍ د بې ځایه شوو کډوالو سره په ګډه د افغانانو د تیرو څلویښت کلونو د مهاجرت ستونزې بیان کړم او هم دا روښانه کړم چې څنګه او په کوم چل بهرنیو څارګرو ادارو او د اسلام ټیکه دارانو زموږ د ولس د ښه نیت څخه ناوړه ګټه پورته کړه او په زرګونو کورنۍ د غم پر ټغر کښینستلي.

ـ دریمه موضوع دا ده چې ایا د شورویانو پر ضد جهاد په رښتیا اسلام په خطر کې و، د پاره وشو که د امریکایانو د کسات اخیستلو او د اوه ګونو، اته ګونو د شتمن کیدلو لپاره وو؟

ـ هڅه مې وکړه چې په لنډه توګه د جهاد پایله وڅیړم خو اوږد بحث مې ځکه ورباندې و نه کړ چې په نورو کتابونو کې مې په بشپړه توګه د جهاد په نوم کثیفي څیرې رسوا کړي دي.



Download from:aghalibrary

ـ د کتاب د لوستلو په وخت کې په (ل:سره چې مخامخ شي یانې زما لیکوال تبصره ده.) د ټولو لوستونکو څخه د زړه له کومې هیله کوم چې په کتاب کې د تیروتنو څخه راته بخښنه وکړي. ستاسو نیوکې او وړاندیزونه په ورین تندي را ته د منلو وړ دي. زما د پاڼې او ایمیل پته لاندې شته:

د بریښنایي پاڼې پته:www.nahimi.dk

د ایمیل پتې: nahimi051@hotmail.com یا e.b53@hotmail.com

اغوس د اکتوبر میاشت ۲۰۱۸ زکال

آواره ترین طایفه در بحر و بریم

بی یاور و بی پناه و بی راهبریم

محکوم طواف بر کلیسا شده‌ایم

گرچه به حریم کعبه نزدیکتریم

احسان پاکزاد

د پیل خبري
د انسان د پیدایښت په پیل کې د خوراکي توکو د موندلو لپاره انسانانو د یوې سیمې څخه بلې ته په خوځیدو وو، ځکه انسانانو اړتیا درلوده چې خپل ژوند ته پایښت ور کړي. په پیل کې انسانانو د خوړو لپاره په ګډه ښکار ته تلل او څه به یې چې لاسته راوړل په ګډه یې خوړل. انسانان د طبعي پیښو او د خپل چاپیریال نورو حیواناتو په وړاندې هم ډیر کمزوري وو، نو ځکه په ډله ایزه توګه یې ژوند کولو تر څو د پیښو په وړاندې بریالی مبارزه وکړای شي. د انساني ټولنې د لږ پرمختګ سره سم د توکو د ویشلو سیستم پیل شو، نو ځکه حریصو د کمزورو د لاس محصول په غبند، چل او زور تر لاسه کولو. انسان برسیره د طبعي پیښو او د چاپیریال د دښمنانو په وړاندې په خپلو کې هم په جنګ او جګړو بوخت وو نو ځکه مهاجرتونو ته اړتیا احساس کیدل. کله چې انساني ټولنې یو څه نظم خپل کړي نو ډیر وختونه د کډوالي اصلي دلیل جګړې وګڼل شوي، البته طبعي افتونو، د اوبو اړتیا او د اوبو سره نژدي کر او کښت هم ډیره اغیزه درلوده.

که اسلامي متونو ته مراجعه وکړو، حضرت محمد (ص) هم اړ شو چې د مکې معظمې څخه مدینې منورې ته هجرت وکړي تر څو په مدینه کې خپل ملاتړي منظم کړي او د مکې د نیولو تدابیر ونیسي چې همداسې وشول.

د ملګرو ملتونو د کډوالو د اداري د رپوټ په اساس د نړۍ د مختلفو هیوادونو څخه په هره دقیقه کې (۲۲) تنه د جګړو او سیاسي تعقیب له ډاره خپل هیوادونه پریږدي. باید وویل شي چې د کډوالو یوه لویه برخه ماشومان هم جوړه وي.

په ملګرو ملتونو کې د کډوالو لپاره د عالي کمیشنرۍ د اداري جوړیدل

د ۱۹۵۰ زکال د ډسمبر پر (۱۴) نیټه د ملګرو ملتو په عمومي غونډه کې پریکړه وشوه چې د ملګرو ملتو په چوکاټ کې د کډوالو لپاره د عالي کمیشنري اداره جوړه شي. په هغه وخت کې دغه اداري ته دري کاله وخت وټاکل شو چې د کډوالو سره کار وکړي ولې دا دي په لسګونو کلونه تیر شول چې دغه اداره د کډوالو د ساتلو لپاره نه ستړې کیدونکي مبارزه کوي.

په ۱۹۵۴ زکال کې د کډوالو اداري ته په اروپاه کې د نه ستړې کیدونکو هلو ځلو په اړوند د نوبل جایزه ورکړل شوه.

دلته د ورایه ښکاري چې دا اداره په حقیقت کې د دوهمې نړیوالې جګړې تر پای ته رسیدو وروسته د اروپایانو د سوکالۍ لپاره جوړه شوه چې وروسته یې د نوبل جایزه هم ورکړه.

د ریپوټونو له مخې په ۱۹۵۶ زکال کې د هنګري تر انقلاب وروسته (۲۰۰۰۰۰) تنه کډوال و اطریش ته وتښتیدل چې نوموړې اداري یې د ځای پر ځای کولو چارې په ښه توګه پر مخ بوتللي او تجربه یې تر لاسه کړه چې په راتلونکي کې ستونزې په څه ډول حل کړي.

په ۱۹۶۰ زکال په افریقایي هیوادونو کې کړکیچونه را منځته شوه چې په زرګونو کډوال د اداري تر پوښښ لاندې راغلل او هم دا ډول یې وروستې شل کاله د لاتیني امریکا او اسیا د کډوالو مرستو ته ور ودانګل، نو ځکه د کډوالو اداري یو ځل بیا په ۱۹۸۱ زکال د نوبل جایزه تر لاسه کړه.

افغانستان ښایي د نړۍ په لومړنیو هېوادونو کې وي، چې ډېر زیات کډوال لري او برسیره پر دوو ګاونډیو هېوادونو، پاکستان او ایران  په سلګونو زره نور کډوال د نړۍ په نورو هېوادونو کې هم خواره دي. هندوستان هم یو د هغوي هیوادونو څخه دي چې د ګاونډي هیواد په څیر ډیر افغان کډوال لري. افغان کډوال په درو برخو ویشلای شو، په ګاونډیو هېوادونو کې مېشت کډوال، چې د شوروي یرغل یا تنظیمي جګړو پرمهال او یا هم د امریکایي اشغال په پایله کې کډه شوي دي.

دوهمه ډله هغه کاریګران دي، چې د خلیج په عربي هېوادونو، لکه عربي امارات، سعودي قطر، کویټ، یو وخت عراق او حتا په لیبیا او نورو هیوادونو کې د خپلو بچیانو د مړۍ په پیدا کولو لګیاه دي. د دوي انګېزه یوازې او یوازې په کار پسې سرګرداني ده، دغه شمېر چې د تعریف له مخې کډوال نه ګڼل کیږي خو بیا هم د خپل ټاټوبې څخه مسافر دي چې په اروپایي هیوادونو کې میلمانه کارګران ور ته وایي چې یو وخت ډیره لویه شمیره ترکان لویدیزو هیوادونو ته د کار کولو لپاره تللي وو. دا کارګران نه یواز ې دا چې سیاسي ستونزې نه لري خو د خپل هیواد لپاره لویه اقتصادي سرچینه هم ګڼل کیږي.

دریمه ډله کډوال په اروپا، امریکا،کاناډا، استرالیا، روسیه او نورو هېوادو کې مېشت افغانان دي، چې هلته منل شوي او یا هم له نړیوالو موازینو سره سم هلته کومه لویه ستونزه نه ګنل کیږي.

باید ووایم چې ګاونډیو هیوادونو پاکستان او ایران د یوې ډلې کډوالو څخه، په افغانستان کې د نفوذ، لاسوهنې، ویرې اچولو، د اړتیا پرمهال د سیاسي فشار راوړلو او افغانستان ته د ګواښ په توګه کاراخیستي دي او آن د خپلو موخو لپاره یې د جګړو د سونګ توکو لپاره هم کارولي دي چې بیلګې یې د کشمیر او سوریې جګړه یادولای شم.

لاندې متن مې د یوې مقالې څخه اخیستي چې متأسفانه د لیکوال نوم را څخه هیر دي نو په بخښنې سره متن پرته د لیکوال د نوم څخه د لوستونکو د ګټې اخیستنې لپاره خپروم:

«کډوالي د بشریت یوه لرغونې ستونزه ده، تر ټولو لویه شمېره ډله ییزه کډوالي د یهودو( بني اسراییلو) وه، چې تر میلاد سلګونه کاله وړاندې د بابل، مصر، ایران او اوسنۍ ترکیې سیمو ته په زوره کډوال شوي وو او په وروستیو پېړیو کې یې د کډوالۍ لیکه تر اروپا او امریکا هم وررسېدلې وه. د کډوالۍ د ډله ییزه بېځایه کېدو نړیواله اصطلاح ډیسوپرا [1] هم د همدوی د کډوالۍ له تاریخي پېښې څخه را اخیستل شوې ده، د ډایاسپورا یا ډله ییزې کډوالۍ په اړه ټولنیزې، سیاسي، اقتصادي او تر ټولو مهمې کلتوري څېړنې شوې دي، چې د

[1] - Diaspora

کډواليو ډولونه، ستونزې او ګټې راپېژني. په دې اړه نړيوال کنونسيونونه، هوکړه ليکونه، موازين او مقررات رامنځته شوي دي او د ملګرو ملتونو يوه لويه څانګه د کډوالو عالي کميشنري [2] څېړنې بنيي، چې د کډوالۍ اوږد مهالې او نړيوالې عقدې د دې لامل هم شوي، چې ځينې قومونه خپل تاريخي برخليک ته متوجې کړي او په لوی سر کې قومي شعور راويښ کړي. يهود همدغو پوښتنو او عقدو دومره سره نږدې کړل، چې يو پياوړی قومي شعوري خوځښت يې رامنځته کړ، چې بيا وروسته د نولسمې پېړۍ په پای کې ( صهيونيزم ) وبلل شو. په دې توګه يې نه يوازې ځانته بېرته هېواد تر لاسه کړ، چې لا د نړۍ په اقتصاد، پوهنه، پوځي – ستراتيژيک انډول کې يې هم ځان د يوه ټاکونکي ځواک په توګه مطرح کړل.

په معاصر تاريخ کې په تېره بيا تر دوهمې نړيوالې جګړې راوروسته ترټولو لويه ډله ييزه کډوالۍ د افغانانو ګڼل شوې ده، چې پيل يې پر افغانستان د شوروي اتحاد له يرغل څخه وشو او وروسته د سړې جګړې په ټول بهير کې د يوې نړيوالې سياسي سيالۍ په يوه ستراتيژيکه اجندا او وسيله بدله شوه. افغان کډوال د ګاونډيو لپاره د ګټې او سياسي پانګونې په يوه لويه کارخانه بدل شول. په لومړي سر کې يې ميلياردونه ډالر د دوی د کوربتوب له درکه ترلاسه کړل، چې دلته د پاکستان نوم په سر کې راتلای شي. د کډوالو له ارزانه بشري ځواک څخه يې پوره ګټه واخيسته او د خپلو هېوادونو زيربنا يې پرې

[2] - UNHCR

ورغوله. د خپلو ګټو لپاره يې په افغانستان کې وجنګول او د خپلو راتلونکيو سياسي اجنداوو لپاره يې پرې پانګونه وکړه. دوی چې ليدل، افغانستان د جګړې په بهير کې ويجاړ شوی دی، نو پوهېدل، چې يوه برخه کډوال د اوږدې مودې لپاره له ځانه سره ساتلای شي، نو په دوی کې يې ( له استثنأتو پرته ) د ډلو ټپلو جوړولو ته دوام ورکړ، مذهبي افراطيت يې په کې وروزه، له بېپايه فقر او محروميت څخه يې په کې عقدې رامنځته کړې او پر خپل هېواد او هېواد مېشته هېوادوالو يې په غوسه کړل. د وسلوالو ډلو نوي نسلونه يې په کې وروزل او د اړتيا پرمهال يې څپه څپه د تاوتريخوالي لپاره په هېواد راننه ايستل. د بېلګې په توګه اوه ګوني، اته ګوني او آن طلبان يادولای شم. له پيله تر پايه يې د دوی کلتوري روزنه د استخباراتي کړيو له خوا ترڅار لاندې ونيوله اوپه ګواښمنو مذهبي يا قومي تعصباتو يې ككړ كړل، نوې مذهبي ډلې يې ترې جوړې کړې، په تېره، دې ته په پام، چې نيم كډوال شيعه ايران او نيم يې نور د ګڼو سني مذاهبو خاوند پاکستان کې اوسېدل، د مذهبي تقابل او قومي اختلاف روزنه په کې ښه ترسره کېدلای شوه. په پاکستان کې په زرګونو مدرسې ورته جوړې چې يوازې يې د افغانستان د ورانۍ او نړيوال اخوانيزم زده کړې ورکولې. په ورته وخت کې ايران هم د شيعه افراطيت پر کرښه شيعه مذهبه افغانان وروزل چې په راتلونکي کې په افغانستان کې خپلې موخې ور باندې پياده کړي. د دري، پښتو، تاجک او پښتون توپيري چلند د همدغه ځای څخه سرچينه اخيستي ده. نن يې وينو چې د افغانستان په بدل کې د خراسان غوښتنه د همدغو روزولو او پلورل شوو

کړیو لخوا د هیواد د تجزیې لپاره کارول کیږي. محمد محقق چې د اجرایي ریاست دوهم مرستیال دي په ټوله سپین سترګي یې د فاطمیونو د لښکر بریالیتوب وغوښتي.

د ګڼو منفي اړخونو ترڅنګ ، ځینو کډوالو دا چانس هم وموند چې په دغو ګاونډیو هېوادونو کې زده کړې وکړي، حرفې زده کړي، په کمپیوټري برخه کې وروزل شوه او پوهنتونونه ولوستل، سوداګري او نورې چارې زده کړي، چې البته دایې مثبت اړخونه ګڼلای شو، لویه برخه افغان کډوال چې د پیاوړې هېواد پالنې، غرور او پرخپلو ملي ارزښتونو د درېدلو ځانګړې وړتیا او ښېګڼې درلودې، د ګاونډیو د زهرجنو پلانونو په وړاندې حساس شول او یو شمېر یې، چې خپل هویت او هېواد ته د وفادارۍ ارزښت یې له ګواښ سره مخامخ لیده، په بېړه راستانه شول او له ګاونډیو څخه یې ګواښمنې عقدې او کرکې هم له ځانه سره راوړې، په دې توګه په ځینو برخو کې د ګاونډیو غشي په ډبره ولګېدل، بیلګه یې د افغان کډوالو ژوره کرکه د پاکستان څخه یادولای شم. خو په ډېرو برخو کې دوښمن ګاونډیان خپلو شومو موخو ته ورسېدل، ځکه خو لاهم په افغانستان کې د همدوی په لمسون د وینو ویالې بهیږي. ګاونډیو لویه برخه افغانان په خپله خاوره کې په جنګ کې ښکېل کړل او یوه برخه یې په نړیوالو جګړو کې د خپلو ګټو لپاره وجنګول، چې بېلګې یې په تېرو لسیزو کې د پاکستاني ګټو لپاره په کشمیر، منځنۍ اسیا او نورو هېوادونو کې د پاکستان او همدا اوس د ایراني ګټو لپاره په سوریه، عراق او نورو سیمو کې د افغانانو جنګول دي. همدا اوس هم دواړه هېوادونه له افغانستان سره په تعاملاتو کې د کډوالو له شتون

څخه د فشار په وسیله کار اخلي، هرکله چې په افغانستان کې د مداخلې او لاسوهنې له اعتراض سره مخامخ شي د کډوالو د ځورولو او راشړلو ګواښونه کوي او په دې توګه نړیوال او افغان عامه ذهنیتونه له اصلي ستونزو څخه منحرفوي، له دې امله د افغانستان لاس تر ډبرې لاندې دی او د کډوالو له مجبوریته یې د سیاسي شکنجې په توګه کار اخیستل کیږي، وخت یې دی، چې دغه شکنجه پای ته ورسول شي او په هرقیمت چې وي باید کډوال راستانه شي. پای»

د کډوالۍ نړیوال حالت

د ملګرو ملتونو د کډوالو د عالي کمیشنري د ۲۰۱۶ زکال رپوټ ته پاملرنه وکړئ:

په نړۍ کې (۶۵،۶) میلیونه انسان اړ ایستل شوي چې خپل پلرنۍ هیواد پریږدي، (۱۰) میلیونه انسانان دولت نه لري. د کډوالو د ادارې د نظر په اساس هغه کسان چې د تابعیت درلودلو، درس لوستلو، د روغتیایي خدمتونو نه رسیدل، د کار اجازه نه ورکول  او په اړوند هیواد کې ازاد تګ او راتګ کولای نه شي، د دولت نه درلودونکي ګڼل کیږي، لنډه دا چې هغه کسان چې بنسټیز انساني حقوق و نه لري، خپل دولت او هیواد نه لري. روښانه بیلګه یې په برما کې مسلمانان او د فلسطین ولسونه یادولای شوو.  په پورته شمیره کې یوازې (۱۸۹۳۰۰) کسان ځای پر ځای شوی دي.

په نړۍ کې (۵۵٪) سلنه کډوال د څو محدودو هیوادونو دي چې په لاندې ډول ښودل شوي دي: د افغانستان څخه: ۲،۵ میلیونه (لیکوال: باید ووایم چې د افغانستان کډوال څو برابره

تر يادې شوې شميرې ډېر دي.) جنوبي سوډان ۱،۴ میلیونه، سوریه ۵،۵ میلیونه، لبنان (۱۰) میلیونه، اوګاندا ۹۴۰۸۰۰ تنه، ایتوپیا ۷۹۱۶۰۰ تنه، ایران ۹۷۹۴۰۰ تنه او نور.

باید ووایم چې واقعي کډوال چې د جګړو څخه تبنتیدلي دي د افغانستان، لبنان او سوریې کډوال دي. د نورو افریقایي هیوادونو څخه زیاتره هغه کسان دې چې د نامناسبه اقتصادي حالت څخه تبنتیدلي او غواړي په اروپاه کې د مرفه ژوند خاوندان شي.

په یویشتمه پیړۍ کې د نړۍ په ډیرو هیوادونو کې د اسیا په ګډون او په ځانګړي توګه په افغانستان کې د کډوالو شمیري ډیرې او د نوموړي اداري کاري ساحه هم پراخه شول.

د کډوالو اداري د ۲۰۱۷ زکال د جون په (۳۰) نیټه په ټولیزه توګه (۱۰۹۶۶) کارکوونکي په (۱۳۰) هیوادونو کې درلودل چې د دې شمیرې څخه یې (۸۷٪) سلنه د خیمو د کډوالو سره مرسته کوي. نوموړی اداره د کډوالو سره په روغتیایي، حقوقي، اداري او نورو برخو کې مرستې کوي.

د کډوالو د ادرې بودجه په لویه کچه (۸۷٪) سلنه د خپلې خوښې مرستندویو موسیساتو، حکومتونو او ګډ بازار څخه تأمینږي، تقریباً یوه سلنه بودجه د ملګرو ملتونو د ګډو پیسو څخه ورکول کیږي، نورې خصوصي اداري پیسي او یا هم خیمې، لاري موټران، دوا او نور د اړتیا وړ توکي د مرستې په توګه ورکوي.

د کډوالو د ادرې د پیل کلنۍ بودجه (۳۰۰۰۰۰) امریکایي ډالره وه خو ورځ تر بلې په نړۍ کې ستونزې زیاتې شولې، کارکوونکي هم ډیر شول نو په نیویمو کلنو کې بودجه تر یو میلیارد ډالره جګه شوه خو په ۲۰۱۷ زکال د کډوالو د ادارې بودجه سرسام اوره لوړه چې کچه یې (۷،۷) میلیارده امریکایي ډالرو ته ورسیدل. دغه ادارې تر اوسه پورې د (۵۰) میلیونو انسانانو سره مرسته کړي او ځای پر ځای کړی یې دي. نوموړې ادارې کډوالو ته دوباره ژوند، ارامي او ازادي وربخښلي ده. کډوالو ته په بیړنیو حالاتو کې د اړتیا وړ توکي خیمې، کمپلې، خراغونه، د پاکو اوبو ډبې، روغتیایي خدمتونه، پاکه غذا، د اوسیدلو ځای، صابون او نور اړین توکي ویشل کیږي.

د کډوالو د عالي کمیشنرۍ د رپوټ له مخې په هیواد کې د ناامنیو او جګړو په وجه په ۲۰۱۷ زکال کې هم تر (۲۰۰۰۰۰) زیاد افغانان اړ ایستل شوي دي چې خپل هیواد پریږدي.

خو د رپوټونو له مخې په ۲۰۱۶ زکال (۳۷۰۰۰۰) تنه دوباره افغانستان ته راګرځیدلي دي او د ۲۰۱۷ زکال د اکتوبر تر میاشتي نور (۵۵۰۰۰) کډوال هیواد ته را ستانه شوي دي. البته په دغه شمیره کې د هیواد په دننه کې د بی ځایه شوو کورنیو شمیر په نظر کې نه دي نیول شوي.

## دوهم څپرکی

د افغانستان د کډوالو وزارت
د ویکیپیډیا د معلوماتو پر بنسټ د افغانستان د کډوالو د وزارت د تاریخچې په تړاو لنډ معلومات وړاندې کوم:

د ډاکټر نجیب الله د حکومت په دوران (۱۳۶۷ ل.ل یانې ۱۹۸۸ زکال) د کډوالو او بیرته راستنیدونکو په نوم (وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان) د یوې کمیټې په نوم چې د وزیرانو د شورا تر مشرتابه لاندې په فعالیت پیل وکړي. (ل: زما لیکوال په آند دا کمیټه چې د وزارت په صلاحیت یې هغه وخت په کار پیل وکړي چې ډاکټر نجیب د ملي پخلاینې پروګرام په ډیرو امیدونو پیل کړي.) خو دغه کمیټه په ۱۳۶۹ ل.ل (۱۹۹۰ زکال) د وزارت کچې ته لوړه او د وزارت امور مهاجرین و عودت‌کننده گان په نوم ونومول شول.

د مجاهدینو او طالبانو په وخت کې نوموړي وزارت د نورو دولتي ادارو په څیر فلج شوه خو د طالبانو په وخت کې د ریاست کچې ته راټیټ شوه او ژر د هغه وخت د شهیدانو او معلینونو په وزارت کې ور ګډه کړل شوه.

د طالبانو د سقوط سره سم کله چې لنډ مهاله اداره جوړه شو، په ۲۰۰۱ زکال دوباره د کډوالو د وزارت په نوم رامینځته شوه.

نوموړي وزارت د کاغذ پر مخ یې موخې د نړیوالو قوانینو، د بشر د حقوقو د نړیوالې اعلامیې پر بنسټ چارې باید تنظیم

کړي وای. وروستنۍ موخه يې دا وه چې کډوال په خپله خوښه او عزت سره دوباره هیواد ته راستون شي، دوباره د خپلو کورنیو سره یوځای، د حقوقو او امتیازاتو څخه یې دفاع وشي. د ګاونډیو هیوادونو سره چې هلته افغاني کډوال وو، لوظنامې لاسلیک شوي چې د کډوالو د نړیوالې ادارې په مرسته به د کډوالو ستونزې حل او په خپل هیواد کې د کار زمینه ورته برابره کړي.

دا چې په تیرو شپاړلسو کلونو کې د امریکا ډالرونه د سیل په شان را بهیدل، نو ځکه د فساد او چور لپاره ښه زمینه برابره وه. جهادي مافیا چې د پخوا څخه یې په چور او تالان کې پخې تجربې درلودي، لیځې را ونغښتلي چې په میلیونونو ډالر ذخیره کړي. دا ځل د امریکا ملاتړ هم ور سره وو نو ځکه غاښونه یې تر پخوا ډیره تیره وو. همدغه علت و چې د کډوالو د راستنیدلو ستراتیژي هم یوازې د کاغذ په مخ پاتې شوه. کډوال د راستنیدو په وخت کې د ډول ډول ستونزو سره تر همدا اوسه لاس او ګریوان دي. اوس غواړم د نوموړي وزارت بل رپوټ تاسو ته وړاندې کړم: دا چې په عمومي توګه تر (۵) میلیونو ډیر افغانان د بیرته راستنیدو په حال کې وو، دوی ته باید دوباره د اوسیدلو ځای برابر شوی واي. همدا ډول تقریباً (۱۵۰۰۰۰) کسان د هیواد په دننه کې د خپلو کورونو څخه بیځایه شوي وو، باید دوباره خپل کورونو ته ګرځیدلي وای. تقریباً (۲،۲) میلیونه راجستر شوي او (۲۰۰۰۰۰) غیري راجستر کډوال د پاکستان څخه، د ایران څخه هم یو میلیون راجستر شوي او یو میلیون غیري راجستر شوي کډوال او تقریباً (۵۰۰۰۰) کډوال چې په غیري ګاونډیو هیوادونو کې

وو، ځاي پر ځاى کول يې لويه ستونزه وه. نو ځکه د افغانستان په (۳۴) ولايتونو کې د کډوالو د راګرځيدلو اداري پرانيستي شوي چې د رياست امور مهاجرين وګڼل شو. د پاکستان اسلام اباد، پيښور، کويټه، بلوچستان او د ايران په تهران، زاهدان او مشهد کې د کډوالو د چارو د تنظيمولو لپاره اتشې پرانيستل شوې.

د نوموړي وزارت د ادعا له مخې د کډوالو د راستنيدو لپاره بايد ښارګوټي جوړ شوي واي. د کډوالو د نړيوالې اداري په مرسته (۷۵) ښار ګوټي و سلو ښار ګوټو ته جګ شول. او تقريباً د استوګنې لپاره (۳۰۰,۰۰۰) نمرې وويشل شوي.

د نوموړي وزارت د ادعا له مخې (۱۲۰,۰۰۰) کورنۍ په خپل اصلي ټاټوبي کې ځاى پر ځاى شول.

د کډوالو د وزارت د راپور پر بنسټ د سند لرونکو او پرته له سند څخه د کډوالو شمير:
د ۲۰۰۷ زکال د احصايي پر بنسټ په نړۍ کې (۵،۶) ميليونه افغان کډوال شته.

په پاکستان کې د کډوالو شمير:

په ټوليزه توګه يو ميليون ۹۴۷ زره (۱۹۴۷۰۰۰) د دې ډلې څخه (۷۹۹۹۶) څخه قانوني اسناد نه لري. (ل: ويل شوي شميره راته درسته نه ښکاري ځکه په پاکستان کې کډوال په لوړه کچه تر ايران زيات دي.)

په ټولیزه توګه په ایران کې دوه میلیونه ۱۶۰ زره (۲۱۶۰۰۰۰) کډوال چې (۳۰۰) زره کډوال قانوني اسناد نه لري.

په هیواد کې دننه (۲۰۰) زره کورنۍ چې په ټولیزه توګه یو میلیون ۴۰۰ زره (۱۴۰۰۰۰۰) بې ځایه شوی دي. پورته شمیرې دقیقي نه دي ځکه په پاکستان کې د کډوالو شمیره تر دوو میلیونو زیاته وه.

په ۲۰۱۷ زکال کې (۶۹۰) کډوال بیرته هیواد ته راستون شوي دي.

په شمالي وزیرستان کې (۴۷۵۹۶) تنه د خپلو کورونو څخه بیځایه شوی دي.

په لویدیزه اروپاه کې د پناه اخیستلو شرایط

په لویدیزه اروپاه کې د کډوالۍ د اسنادو د تر لاسه کولو شرایط په پرتلیزه توګه سره ورته دي ځینې ډیر واړه توپیرونه شته خو باید ووایم چې د پناه اخیستلو شرایط یې د ژینو د ۱۹۵۱ زکال د کنوانسیون سره په ټوله اروپاه کې بشپړ مطابق او یو شان دي. لاندې لیکنه څو کاله مخکې ما د افغان کډوالو د لارښوونې په خاطر کړی وه، ولې اړتیا یې ګڼم چې د اوسنی کتاب د یو ځپرکۍ په ډول یې تاسو ګرانو لوستونکو ته وړاندې کړم. په مختلفو لویدیزو هیوادونو کې د پناه اخیستلو شرایط ډیر سخت شوي دي خو بنسټیزو قوانینو او د پناه اخیستلو دلایلو کې کوم توپیر راغلي نه دي. دا په دې مانا چې مخکې د پناه غوښتونکي ستونزې پرته د ډیرې خیړنې څخه د منلو وړ ګڼل کیدلي خو اوس پر اسنادو یې ژور غور کیږي او تر ډیره بریده د پناه غوښتونکي اسنادو او بیان ته د شک په سترګه ګوري.

اوس چې ۲۰۱۸ زکال دي لا هم ډیر افغانان په دې سوچ کې دي چې یوازې اروپاه ته رسیدل د پناه اخیستلو لپاره کافي ده، په داسې حال کې چې دا یو خوب او خیال دي یا په زغرده ووایم د ځان تیر ایستل دي.

هرڅوک چې د کوره څخه د اروپا پرلوری حرکت کوی په زرګونو ډالرونه لګوی او یا د لارې وژونکي خطرونه زغمي. باید دا هم په پام کې ونیسي چې لویدیزهیوادونه هم د کډوالو د منلو څخه ستړي دي، نوځکه باید د پناه غوښتونکي د

ژوند کیسه د لاندې اساسي ټکو په چوکاټ کې وی که نه نو لګول شوي ډالرونه او د لاری نه زغمونکي ستونزې په هیڅ بدلیږي او بیرته هیواد ته تردیرو روحیو ستونزو وروسته لیږدول کیږي.

غواړم په لیکنه کې زما د ورځني تجربې څخه په ګټه اخیستنه او د ډنمارکي رسنیو د خپرونو پر بنسټ د هغوکډوالو له پاره چې غواړی ډنمارک او یا بل اروپایي هیواد ته راشي او پناه واخلي، تریوې کچې دقیق عمومي معلومات وړاندی کړم. باید ووایم چې تر شلو کلونو مې زیات وخت د ژباړونکي په توګه دنده تر سره کړي او اوس هم په همدغه دنده کې یم، د دندې اساسي برخه مې د وکیلانو او یا نورو اړوندو ډنمارکي مقامانو سره د پناه اخیستلو د دوسیو څیړنه او د پناه اخیستلو د اسنادو تر لاسه کول دي. په همدغه وجه د پناه غوښتلو د همیشنۍ بدلونونو څخه بشپړه خبرتیا لرم. د لیکنې په لومړی برخه کې زما پاملرنه وسیاسي پناه غوښتلو ته ده چې د ډنمارکي قوانینو اووم پاراګراف لومړی او دوهمه فقره په برکې نیسي البته ورته شرایط په ټولیزه توګه په اروپاه کې شته خو کیدلای شي د قوانینو په لړ توپیر سره اقامه تر لاسه شي. د اقامي اخیستلو نور ډولونه به په وروسته کې بیان کړم دا هم باید ووایم چې زما دغه معلومات دپناه غوښتونکو له پاره یوعمومي لاربنود دی نوځکه هغه متل ته باید مراجعه وشی چې وایي :«هوښیارخلک په نیمه پوهیږي»

همدا ګړی په سلګونو کډوال په کمپونوکې شتون لري او یوشمیریي په شخصي ادرسونو (میره/ماینه) کې استوګن دی. دغه کډوال پرڅوبر خوویشل کیږي.

۱ ـ هغه کډوال دی چې د کډوالی ټول مراحل یي تیرکړی دی خو د ټولو مقامونو څخه یي د سیاسي پناه غوښتلو د رد ځواب ترلاسه کړی دي. زیات شمیریي بیرته هیواد ته د استولو پرلیکه ولاړ دي.

۲ ـ هغه کسان دي چې د کډوالو د اداري څخه یي منفي اخیستي ده خو د کډوالو د شورا (محکمې) وروستۍ پریکړې ته انتظار باسي.
یادونه: د ډنمارک او نورو اروپایي هیوادونو د کډوالي په سیستم کې د سیاسي پناه غوښتلو له پاره دوې مرحلې شته.
۱ ـ کله چې څوک ډنمارک ته تازه راشي او د پناه غوښتلوعرض پاڼه ورکړي. مقامات یي عرض پاڼه ارزوی او پریکړه وروباندی کوی چې د نوموړی د پناه غوښتلوعرض پاڼه د ارزیابی کولو وړ ده که نه؟ که د ارزیابی وړ وګڼل شي نو په ډنمارک کې د کډوالو په ژبه دوهم فازته موضوع داخلیږي په دې مانا چې د کډوالی عرض پاڼه تر ارزوني لاندی نیول کیږی.

۲ ـ که عرض پاڼه د وروستۍ ارزونې وړ ونه ګڼل شي نو نورشرایط رامنځته کیږی چې وروسته به په تفصیل بحث وروباندی وکړم. خو باید ووایم چې تقریباً د پناه غوښتلو ټول غوښتنلیکونه تر ارزونې لاندې نیول کیږي، پرته د ځینو استثنایي حالتونو څخه.

د پناه غوښتلو په پنډغالو (کمپونو) کې دري ډوله پناه غوښتونکي شته:

۱ ـ هغه ځوانان چې عمرونه يې تر اتلسو کلونو کښته وی او یا يي خپل عمرکښته ویلی وي. د دغو ځوانانو زیاته برخه دعمر د ټاکلو له پاره صحي مرکزونو ته ورپیژندل کیږي چې ډیره لویه برخه يي ترطبي معایناتو وروسته تراتلسو کلنو لوړتثبتیږي. دغه کسان په ډیرو ستونزو ډنمارک ته رارسیدلي وي.
۲ ـ هغه کسان دی چې د ازدواج په نتیجه کې په ویزه راغلي وی. یوشمیر يي په کمپونو کې او نور يي دخپل جوړي سره استوګنه کوي.

۳ ـ هغه کسان دی چې د لومړی ډلې په پرتله لوړعمر لری او په ناقانونه ډول د قاچاقبرانو په مرسته ډنمارک ته رارسیدلي وي. دغو کسانو یا ډیري پیسي قاچاقبرانو ته ورکړی وی او یا يي هم ډیرې سختې لاری طی کړی وی. د رسنیو په حواله پردغو لارو ډیرکډوال ژوند د لاسه ورکوي. لومړی ډله ځوانان په لوړه کچه نالوستي وی او د ژوند تجربه يي هم ډیرلږ وي نوځکه يي دلایل دومره کافي نه وې چی د کډوالۍ سند ترلاسه کړی.

دوهمه ډله چې په ویزه د خپل مایني او یا میړه له خوا را بلل شوی وی او په قانوني ویزه ډنمارک ته راځي، د کډوالۍ د سند اخیستلو له پاره د نارینوو او ښځوستونزې په ټولیزه ډول توپیرلري.
الف: نارینه په ډیرو حالاتو کې زده کړی لری او د بهرنیانو د

اداري پوښتنو ته د قناعت وړ ځوابونه ورکولای شي. ولې ستونزه دا ده چې د دوی ستونزې ځکه د ډنمارک مقاماتو ته د باور وړ نه وي چې په قانوني ویزه د میړه/میرمنې په تړاو تر واده کولو وروسته راغلي وي. نوهرڅوک د دغې ډلې پناه غوښتونکو ستونزو او دلایلو ته په شک ګوري .

ب : ښځې چې په ویزه راځې د نارینوو د پورتنیو ستونزو برسیره په ټولیز ډول د نالوستئ ستونزه هم لري. دا چې نوی واده یي کړی دی نو ډیری یي د لږعمر(ځوانې) وي او په ژوند کې یي د بیګانه نارینه سره دماړه نس خبری هم نه وی کړي. د دوی ستونزې د کډوالی د سند اخیستلو له پاره د نارینوو په پرتله څو برابره ډیرې وې.

دریمه ډله چې د قاچاق برپه واسطه راځي د پاخه یاني لوړعمر وی او ډیري یي لوړې زده کړې لري. نو ځکه اسانه ده چې د کډوالی سند ترلاسه کړي.

که د راغلو کډوالو شمیرې ته وکتل شی په تقریبي ډول ویل کیدای شی چې ۸۰ ـ ۸۵ سلنه نوی ځوانان ډنمارک ته راځې چې په ډیره لوړه کچه د رد ځوابونه ترلاسه کوي. واده شوی نارینه یا ښځې چې د ویزو په اخیستلو ډنمارک ته راځي د ټولو کډوالو ۱۰ ـ ۱۵ سلنه جوړوي . د دې ډلې د رد ځواب اخیستولو چانس هم ډیردي.

دریمه ډله چې شمیره یي په ورستیو کلنو کې ترپنځه یا لس سلنه لوړه نه ده او د رد ځواب اخیستلو چانس یي هم لږ دي. که ارزونه راټوله کړم ویلای شم چې لومړی ډله یانې ځوانان د کډوالی د سند اخیستلو چانس په ډیره لږ کچه لری ، دوهمه

ډله يي ميړه/ماينه چې په ويزه راځي، هم ورته ستونزه لري. که وپوښتل شی چې په ډنمارک کې د پناه اخيستلو چانس څومره دی نو ځواب يي دا وی چې ډير لږدي. ولې زه د دغه نظرسره همږغی نه يم ځکه پورته دوې ډلې د دې سبب ګرځې چې د رد د ځوابونو شميره لوړه بيايي يا په حقوقي اصطلاح دغه دوي ډلې د کډوالي مستحق نه وي يانې سياسي ستونزې نه لري، دلايل يي قانع کوونکي نه وي او يا د پناه هنده ګې دلايل يي دومره کمزورې وې لکه د بل چا کيسه چې بيانوي. په واقعيت کې حالات د کډوالو له پاره دومره خراب نه دي کوم چې تبليغات کيږي. بايد ووايم چې زما دغه نظر د ۲۰۱۱ زکال دي اوس چې ۲۰۱۸ زکال دي د کډوالی شرايطو ژور بدلون کړي دي ځکه په ۲۰۱۶ او ۲۰۱۷ زکلونو کې د ختيزې اروپاه د سرحدونو د خلاصيدو په وجه په زرګونو کډوال د سيل په شان لويديزې اروپاه ته راغلل چې ډيري يې په جرمني او سويډن کې استوګن شول. همدغه علت دي چې په ټولو هيوادونو کې تر پخوا څو برابره د کډوالی غوښتلو اسناد دقيق څيړل کيږي او کډوال بايد ثابته کړي چې په رښتيا يې ژوند د مرګ د ګواښ سره مخامخ دي.

په وروستيو وختونو کې يو شمير ژباړونکي او يا نور کسان چې په افغانستان کې د بهرنيانو سره د کار سابقه درلوده، د اسنادو سره لويديزې اروپاه ته راغلل. دوی هم داسې فکر کولو چې اروپاه ته يې پښه ورسيږي سملاسې به د کډوالی اسناد تر لاسه کړي خو دا لويه غلطي وه چې زه لږ تفصيل ور کوم:

کله چې یو کډوال اروپاه ته راشي، د کره اسنادو درلودل (د بهرنیانو سره د کار کولو کره اسناد، د افغانستان په امنیتي ارګانونو کې د کار کولو ثبوتونه...) ډیر ارزښت لري. باید دا هم په پام کې ولرو چې یوازې د بهرنیانو او یا امنیتي ارګانونو سره کار کول د پناه اخیستلو لپاره کافي دلایل نه دي. هر ډول اسناد چې شتون ولري باید د کډوالی د اسنادو سره وپیول شي، یانې ژوند ته ګواښ د کار د اسنادو سره پیوند ولري. که څوک د امریکایانو سره په جګړو کې ژباړن وي او کلونه یې دا دنده سرته رسولي وي او اروپاه ته راشي چې زه پناه غواړم. نوموړي په هغه وخت کې د پناه اخیستلو وړ ګرځي چې په ورته دنده کې د مخالفینو لخوا پیژندل شوي وي او مخامخ ورته د مرګ ګواښ شوي وي او دا ګواښ داسې وي چې د پناه اخیستونکي ژوند ته جدي ګواښ وي. باید هیره مو نه وي که یو څوک کلونه د بهرنیانو سره په عمده امنیتي دنده بوخت وي، او یو ځل اروپاه ته کډوال شي او د خپل ژوند ته د مرګ ګواښ دلایل په کره توګه وړاندې کړي بیا هم پوښتنه کیږي چې ولې دومره کلونه کومه ستونزه نه وه او نابیره ستاسو ژوند ته د مرګ ګواښ را مینځته شو، د دې ټکي لپاره هم باید ښه دلایل شتون ولري.

د دندې په وخت کې مې هغه کسان ډیر لیدلي چې د بهرنیانو سره یې دنده درلوده او هڅه یې کوله چې دا اثبات کړي چې د بهرنیانو سره نژدي همکار و، خو هیڅوخت یې دا تلاښ نه کولو چې ولې د دندې په وجه ورته د مرګ ګواښ را مینځته شوه.

مخکې له دې نه چې د لیکنې دغه برخه پای ته ورسوم غواړم څو ټکې د کډوالو له پاره ولیکم:

سیاسي کډوال هغه څوک دی چې د ژینوو د کنوانسیون مطابق په خپل هیواد کې د حکومت له خوا دغه کس چې د سیاسي عقیدې، ژبې، نژاد، د پوټکې رنګ، او مذهب په خاطر تر تعقیب لاندې وې د اوږده زندان او یا وژلو خطر یي موجود وي، سیاسي کډوال ګڼل کیږي. کیدلای شی چې ستونزې د حکومت سره نه وی خو د یو داسې ګروپ یا ډلې سره وي چې حکومت نوموړي کس په امن کې ساتلی نه شي. باید ډیره پاملرنه وشي چې عمومي ستونزې، شخصي دښمني او یا ورته ستونزې د کډوالي د سند اخیستلو له پاره کافي دلایل نه ګڼل کیږي. د څو بیلګو یادوونه کوم:

د ښځو ژوند په عمومي ډول په افغانستان کې ډیرخراب دي، په افغانستان کې فقر، لوږه یا بیکاري ده، په افغانستان کې د تحصیل او زده کړو چانس نه شته، غواړم د خپل میړه/ماینې سره ګډ ژوند وکړم...دغه ډول ستونزې د پناه اخیستلو له پاره کافي نه ګڼل کیږي.

دا ځکه چې عمومي ستونزې ډیرهیوادونه لری نو د ټولو هیوادونو ښځې او یا ځوانان اروپا ته را وستلای شي؟ هیڅکله داسی نه شی کیدلای. که یو کډوال په خپل دوسیه کې د سیاسي ستونزو په څنګ کې د خپل هیواد عمومي ستونزې د یواضافي کومکي دلیل په توګه بیان کړي د اصلې ستونزې تاثیر ډیر کمیدلای شی یانې دوسیه یي منفی صدمه وینې. ستونزه باید خپله شخص ته د پورته دلایلو پربنسټ برابره وي.

اوس غواړم د ډنمارکیانو د رسمي ارقامو پر بنسټ معلومات وړاندي کړم چې ډنمارکیان د کډوالو راتلل د نورو هیوادونو په پرتله څه ډول ارزوي: د دې موخې له پاره د ډنمارکي ورځپاڼې پولیټکن [3] څخه داړوندې موضوع په هکله ځینې برخې ژباړم.

**کډوال ډنمارک ته د راتلو څخه ډه ډه کوي**

د کډوالو ویش په لویدیزو اروپایي هیوادونو کې غیری متجانس دي خو په تیرکال کې ډنمارک د نورو اروپایي هیوادونو په پرتله لږ کډوال راغلي دي. سره د دی چې په ټولیز ډول د کډوالو شمیره ۱۹ سلنه زیاته شوی دي خو ډنمارک ته لږ کډوال راغلي دي. په ۲۰۱۱ زکال کې په ډنمارک کې ۳۸۱۰ کډوالو د پناه غوښتنه کړی وه چې د۲۰۱۰ زکال په پرتله ۲۳ سلنه لږ دي. د کډوالو د زیاتوالي اصلي دلیل په عربي هیوادونو کې شخړي او د افغانستان د جګړې شدت ګڼل کیدای شي.
دا چې یو کډوال د پناه غوښتلو له پاره کوم هیواد ټاکي، دلایل یې مختلف دي. خو یو اساسي دلیل دا دی چې کډوال ته د قاچاق وړونکو له خوا مشوره ورکول کیږي چې په کوم هیواد کې د اقامې د اخیستلو چانس ډیر دي. د بیلګې په توګه د کلونو په اوږدو کې سومالي کډوالو ته ویل شوی دي چې په ډنمارک کې تر نورو هیوادونو د اقامې اخیستل لویه ستونزه ده.
د کډوالو د ادرې د پناه غوښتونکو د ادرې مشره، ایوا سینګر [4]

[3] - Politiken d.8.4.2012

[4] - Eva Singer

وايي : کيدلای شی دليل دا وي چې په  وروستيو کلونو کې د اقامې اخيستلو له پاره سخت قوانين تصويب شول خو زما په آند دا يوازنۍ دليل نه شی کيدلای ، بلکې ځينې روحي تاثيرات هم کډوال ډنمارک ته د راتلو څخه منع کوي. بيا هم لويه شميره کډوال ځکه ډنمارک ته نه راځي چې د کډوالۍ د سند اخيستل د سختو قوانيو په وجه ستونزمن کار دي. خو پوښتنه دا ده چې ترڅو به ډنمارک ځان پټوی او د نورو اروپايي هيوادونو په پرتله به لږشميرکډوالو ته پناه ورکوي. دا چه د ګډ بازارهيوادونه هغه کډوال چې د جنوبي اروپايي هيوادونه د لاري راغلي وی او هلته د ګوتو نښانه ولري، دوباره هغه هيوادونو ته استول کيږي. په واقعيت به د داسې يو حالت سره مخامخ شو چې د جنوبي اروپا هيوادونه به د کډوالو د جذبولو څخه لاس پرسرشي.

د ګډ بازار د کورنيوچارو کميشنره سيسيليا مياسترېو [5] سويډنی وايي: پريکړه وشوه چې د کډوالو د جذبولو په اړوند بايد ټول اروپايي هيوادونه مرسته سره وکړي خو په ۲۰۱۱ زکال کې ټول هيوادونه په دغه ازموينه کې ناکام شول. په ډنمارک کې د راډيکال ګوند د کډوالو مسول زينيا ستمپاه [6] وايي چې دا غيری عادلانه ده چې د ټولو کډوالو مسوليت د يونان په غاړه ور واچوو. زه وړانديز کوم چې پرته له دي نه چې اروپايي هيواد چيری واقع دی، بايد د کډوالو د جذبولو له پاره ګډ قانون جوړشی چې د هر هيواد برخه ځانګړي کړی. دا

---

[5] - Cecilia Malmstrøm

[6] - Zenia Stampe

ډول قانون به د دی سبب شي چې کډوال په عادلانه  توګه د هیوادونو په مینځ کې وویشل شي. نوموړی وایي زموږ ګوند د کډوالو په  اړه دوو موضوعاتو ته زیاته پاملرنه کوي: لومړی باید دغه ډول ګډ قانون جوړشي او دوهم  د ډنمارک ځانګړتیا چې د نورو اروپايي هیوادونو څخه يي د کډوالو په موضوع کې لري، له مینځه ولاړه شي. موږ پوهیږو چې په دی موضوع کې به د مقاومت سره د حکومت په دننه کې هم مخامخ شو. موږ به  کوښښ وکړو چې  د ډنمارک د ځانګړتیا موضوع په راتلونکو ټاکنو کې د خلکو رایو ته واچوو. تر ټولو قوی مخالفین د ډنمارک د خلکو ګوند دی. د دغه ګوند یو لوړ پوړی پیټر سکاروپ [7] وايي:

موږ نه غواړو چې د اروپا سره د کډوالو په تړاو ګډ قوانین ولرو او هم نه غواړو چې زموږ ځانګړتیا له منځه ولاړه شي. موږ همدا اوس د کډوالو د انټګریشن (په ډنمارکي ټولنه کې ورګډیدل) سره ستونزه لرو. که ګډ قانون جوړشي په یقین سره به ډیر کډوال ډنمارک ته راشي چې دا په حقیقت کې د قاچاق وړونکو سره هم مرسته ګڼل کیدای شي.

یادونه : دلته باید د نورو هوادونو په اړوند هم څه ووایم: د پورته ارقامو پر بنسټ د کډوالو شمیره لږ شوی ده. دا منم چې قوانین د پخوا په پرتله سخت شوی دي خو په هیڅ وجه په نورو هیوادونو کې لکه سویډن، ناروي، جرمني، اطریش ... د ډنمارک په پرتله د اقامي اخیستل اسانه نه ده. اصلي خبره دا ده

[7] - Peter Skaarup

چې د پناه غوښتونکي ستونزه باید د ژینو کنوانسیون د غوښتنو سره نژدیوالی ولری او پناه غوښتونکي د دی توان ولري چې خپل دلایل په درست ډول وړاندي کړای شي. د ډیرې پاملرنې وړ ده:

ـ پرته له یونان څخه که په نورو لویدیزو او یا د ګډ بازار په هیوادونو کې پناه غوښتونکي ونیول شي او د ګوتو نښان ور څخه واخیستل شي نو بل هر لویدیز هیواد ته چې ولاړ شي بیرته هغه لومړی هیواد ته لیږل کیږي.

هغه کسان چې د مځکی له لاری راځي ډیر وخت په یونان کې نیول کیږي. کیدلای شی چې په ایټالیا او نوروهیوادونو کې هم د ګوتو نښان ور څخه واخیستل شي. خو ډنمارک هغو کډوالو ته یو امتیازمنلی دی، که یو کډوال د ګوتو نښان په یونان کې ولري بیایی هم په ډنمارک کې د پناه غوښتلو دوسیه ارزول کیږي، خو په یاد ولري چې هیڅ بل اروپایي هیواد په دغه استثنی کې شامل نه دي. په دی مانا که کډوال په اطریش، ، ناروی او یا پرته د یونان څخه بل ځای د ګوتو نښان ولري، دوباره هلته استول کیږي. په هره چاره کې استثناوی شته. ما څومحدود کسان لیدلی دي چې د ناروی څخه ډنمارک ته راغلي دی ولې د پناه غوښتلو دوسیه یي ارزول شوی ده. (دغو کسانو په یونان کې هم د ګوتو نښان درلود، د ناروی حکومت هلته لیږل، ځکه ناروی د ډنمارک په ډول د یونان څخه راغلو کډوالو ته استثنایي حالت په نظرکې نه دی نیولی. دا چه یونان ته یی لیږل نو ډنمارک ته راتښتیدلي او ډنمارک یي دوسیې ارزولې دي.) . د نوی حکومت څخه هیله شته چې دکډوالی په

قوانيوکې به زيات سهولتونه رامنځته کړي ځکه وعدې يې کړې دي. زما د ليکنې په وخت کې د سوسيال ډيموکراټانو حکومت د واک د تر لاسه کولو په درشل کې و، خو اوس د کيڼ ليبرال [8] چې په واقعيت کې ښۍ لاسې ګوند دي، په واک کې دي. د ډنمارک د خلکو ګوند هم په پارلمان کې ډيره کې دي او د حکومت په جوړولو کې ور سره مرسته کوي نو ځکه د کډوالو لپاره چې اوس ۲۰۱۸ زکال دي، ډير سخت قوانين يې نه يوازې د پناه اخيستلو بلکې د ورځني ټولنيز ژوند په تړاو هم رامينځته کړي دي.

د ډنمارکي چارواکو د پورته ادعاوو چې په ټول اروپاه کې بايد ګډ مرکز جوړ شي او کډوال د اروپايي هيوادونو تر مينځ عادلانه وويشل شي، هميشه په اروپاه کې بحثونو جريان درلود چې دا دي اوس د اروپايي هيوادونو د مشرانو غونډه دا موضوع ارزوي.

د خواشينۍ ځای دا دي چې لويديزه اروپاه د امريکا په مشري په نړۍ په ځانګړې توګه په اسلامي هيوادونو کې د جګړې اور تازه ساتي خو د محتاجو، مجبورو ښځو، ماشومانو او بوډا کډوالو د مخنيوي لپاره پلانونه جوړه وي. هغه څه چې ډير اروپايان يې حيران کړي دي دا ده چې ولې بډای عربي هيوادونه د مسلمانانو د ځاي پر ځای کولو لپاره کوم پروګرام نه لري. سعودي عربستان او نور بډاي عربي هيوادونه وايي چې موږ د مسلمانانو د مشرانو حيثيت لرو، خو جالبه دا ده چې

---

[8] - Venstre

ولې مسلمانان اړ باسي چې د کفارو څخه پناه وغواړي، په داسې حال کې چې عربي هیوادونه دومره بډای دي چې د نړۍ د هر ګوټ جګړه ځپلي انسانانو ته په خپله توده غیږه کې ځای ورکولای شي. سعودي او نور عربي هیوادونه بهرنیان (مسلمانان) د غلامانو او کنیزو په ډول په خپلو هیوادونو کې مني او هیڅوخت تیار نه دې چې د اروپایي او امریکایي هیوادونو په څیر د بشري حقوقو په رعایت د انسان په سترګه ورته درناوي وکړي. زما سره یو ډنمارکي ډاکټر پر همدغه موضوع ډیر بحث وکړ چې ولې بډای مسلمانان د بې وزله مسلمانانو سره مرسته نه کوي او مسلمانان اړ باسي چې د عیسویانو څخه مرسته وغواړي؟ زه کونګي شوم او ځواب مې نه درلود. (عجیبه اسلامي اخلاق. یو عربي شهزاده د نوي کال په شپه یوې امریکایي ښځې ته یو میلیون ډالر ورکوي تر څو شپه ور سره تیره کړي خو په زرګونو بې وزله مسلمانان پر عیسویانو ګدایي کوي!!!)

اوس ستاسو پام د اروپاه د ګډبازار د مشرانو د هغې غونډې بحث او پریکړې ته را ګرځوم چې موضوع یې د کډوالو د مخنیوي لپاره د پلان جوړه ونه وه، چې د ۲۰۱۸ زکال د جولای په (۲۸) مه او (۲۹) مه په بروکسل کې جوړه شوی وه.

د ډنمارک مشهوره ورځپاڼې یولند پوست [9] د جولای په (۲۸) او (۳۰) مه د غونډې رپوټ خپور کړي چې لنډیز یې ژباړم:

[9] - Jyllands-Posten

«په غونډه کې د ډېرو اروپايي هيوادونو صدراعظمانو ګډون درلود. لومړي بحث داسې پيل شو چې کډوال بايد په عادلانه توګه د اروپايي هيوادونو تر مينځ وويشل شي خو دا وړانديز د ډنمارک په ګډون د ډيرو هيوادونو د ملاتړ او خوښي وړ ونه ګرځيد. بل وړانديز چې ډيرو هيوادونو ور سره علاقه ښکاره کړه دا و، چې د اروپا د سرحدونو څخه بهر د بيلګې په توګه په مصر، ليبيا، تونس، نايجريا او مراکو کې کمپونه جوړ شي، او کډوال په دغو کمپونو کې ځای پر ځای شي. هغه کډوال چې د پناهنده ګي وړ وګڼل شي ، اروپايي هيوادونو ته انتقال شي او پاتي کډوال تر هغه وخت پورې وساتل شي تر څو بيرته خپلو هيوادونو ته ستانه شي. په بحث کې پر بشري نړيوالو قوانينو ډير بحث وشو، چې کيدلای شي په پورته هيوادونو کې د کډوالو په وړاندې ناوړه چلند وشي. ځينو مشرانو وړانديز وکړي چې د کډوالو کمپونه د اروپايي پرسونل په واسطه وڅارل شي، خو بيا هم مشران وروستۍ پايلې ته و نه رسيدل. د جمعې په ورځ د جولای په (۲۹) مه نيټه لاندې پايلې ته ورسيدل:

ـ اروپاه ته د کډوالو د طوفان د مخنيوي لپاره افريقا، د ليبيا سواحلو او جنوبي ټولنو ته مادي مرستې ډيرې شي. د کډوالو اصلي هيوادونو او ترانزيت هيوادونو ته هم مرستې ورکړل شي چې د کډوالو د خوځښت مخه ونيسي.

ـ د ګډ بازار اروپايي کميسيون بايد هغه امکانات وڅيړي چې په نورو هيوادونو کې د بيلګې په توګه په شمالي افريقا کې کمپونه جوړ کړل شي.

ـ په اروپا کې د يو ګډ مرکز پر جوړولو فکر وشي چې ټول راغلي کډوال هلته راجستر شي.

ـ هغه معاهده چې د ترکيې او اروپاه تر مينځ شوي وه، يو ځل بيا وغځول شي او د وعده شوي پيسو دوهم پړاو (۲۲ ميليارده کرونه) ترکيې ته ورکړل شي

ـ افريقا ته د تسليت لپاره د مرستې پيسې (۳،۵) ميليارده کرونه زياتي شي.

ـ په بيړه د پناه ورکولو نوي قوانين (د ډوبلين د معاهدې) په تړاو وڅيړل شي او د حل لار پيدا شي.

بايد ووايم چې د کډوالو زيات فشار پر يونان او ايټاليا دي خو په غونډه کې نورو هيوادونو د خواخوږي کومه وعده ور نه کړه.)»

که پورته لنډيز په غور ولولو، لومړي ترکيې ته پام اوړي چې په لويه کچه د اسلامي هيوادونو پر کډوالو ناوړه تجارت کوي په داسې حال کې چې اردوغان ځان د اسلام خليفه ګڼې. اردوغان د مسلمانانو زوريدلي حالت په پيسو معامله کوي او د اسلامي وروروليي احساس يې په پريکړو کې نه تر سترګو کيږي.

اروپايي مشرانو په غونډه کې ټينګار کولو چې کډوال دې د اروپاه څخه ليري وساتل شي نور چې هر چيري او په هر شرايطو اوسيږي.

داسې ښکاري چې د اروپایانو د بشري حقوقو لافي اهسته اهسته د دوي د مخ څخه پرده پورته کوي. هم مو په جګړه اچوي او هم مو د خپلو سرحدونو څخه لیري ساتي.

زه باور لرم چې اروپایي هیوادونه به حتماً په یو یا بل ډول د کډوالو د لیري کولو لپاره پلان جوړه وي، او د جګړه ځپلو هیوادونو څخه را تښتیدل خلک به په یو بل ناورین اخته کوي.

ګرانو لوستونکو! په دې برخه کې د پناه غوښتلو په اړوند څه نورګټورمعلومات وړاندی کوم.

**عمومي معلومات:**

هغه دوستان چې ډنمارک ته د میړه/ښځې په مرسته د ډنمارک ویزه ترلاسه کوي. کله چې ډنمارک ته را ورسیږي او پلان یې دا وي چې په ډنمارک کې پاته شي نولاندې اساسي ټکې باید په کلکه په پام کې نیسئ:

ـ کله چې ښځه / نارینه د ډنمارک په خاوره کې پښه کښیږدي، ډیرژر باید د پناه غوښتلو له پاره په کوپنهاګن او یا د لویوښارونو د بهرنیو پولیسو ادارو ته مراجعه وکړي او د پناه غوښتلو عرض پاڼه وړاندي کړي.

پوښتنه : څومره وخت وروسته به ښه وي؟

ځواب: د حقوقي لحاظه په همهغه ورځ چې د ډنمارک په خاوره کې پښه کښیږدی، که په رښتیا ستونزه لري، نو باید د پناه غوښتلو مرکزته مراجعه وکړي. خوعملي او ممکن ځواب دا دي چې هرڅومره ژر تیارشي، ډیربه ښه وي خو په هیڅ وجه تریوې اونۍ زیات وخت باید تیرنه شي. ځینې کسان

عملي ستونزې لري چې په يوه اونۍ کې نه تياريږي، خو زما د تجربې له مخې په هيڅ وجه تر لسو ورځو زيات وخت بايد تيرنه شي. لنډيز دا دی:(هرڅومره چې ژر مراجعه وکړی په هغه کچه په دغه برخه کې د رد«منفي» دليل تاثيرلږيږي).
داسې دوسيې مې هم ليدلی دی چې تر درو ورځو وروسته يې مراجعه کړی وي ولې د منفي په سند کې يي ليکلي وی چې ستونزه دی نه درلوده چې دري ورځې وروسته دی پناه وغوښتل. تاسو اوس خپله پوهيږي چې څومره بيړه په کار ده.
ستاسوجدي پاملرنه راړوم: ځيني کسان ډول ډول دلايل جوړوی چې ګواکې د دلايلو پر بنسټ مو ناوخته مراجعه وکړه. بايد په کلکه درته ووايم چې په دې اړوند هيڅ دليل نه منل کيږي. دا هم په ياد ولري چې يوازې د ناوخته مراجعې په صورت کې کيدلای شي، ډير قوي دوسيه منفي واخلي. دليل دا دی: که څوک په رښتيا داسې ستونزه ولري چې ژوند ته يې ګواښ وي نو تر هر څه ژوند مهم دی او مراجعه کوي.
پوښتنه : نر/ښځه که په ويزه ډنمارک ته راغلي وي. د پناه غوښتلوله پاره چيري مراجعه وکړی؟

ځواب: په دی هکله نظريات توپيرلري. ځيني کسان يي د خپل ښار پوليسو ته ورولي او ځيني کسان يی مرکزي کمپ سنهالم ته بيايي. زه پردی موضوع ډير څه نه وايم خپل نظرپه لنډه توګه داسې بيانوم: بايد مرکزي کمپ سنهالم ته بوتلل شي او بس. که ښځه وی ميړه يي او که نر وی ښځه يي ورسره ولاړه شی او د کمپ مسولينو ته يي ور وپيژنئ.
پوښتنه : ايا په کمپ کې پاته شي او که خپل د ميړه / ميرمنی کورته راشي ؟

ځواب :

نارينه :کومه ځانګړې ستونزه نه لری خو په هرصورت ترهغه وخت په کمپ کې واوسي چې ابتدايي مراحل طی شي. ښه به داوی چې ترهغه وخته صبر وکړی چې د مرکزي کمپ څخه بل کمپ ته تبديل شي. که پلان داسي وي چې نوموړی بايد د خپلې ميرمنې سره ګډ ژوند وکړي نو بايد په لومړی ورځ د تسليميدو په وخت کې د ګډ اوسيدولوعرض پاڼه پوليسو ته تسليم کړي (د ګډ ژوند له پاره د بهرنيانو اداره د شپږ مياشتو له پاره اجازه ورکوی، خو هر ځل بايد دغه وخت په قانوني ډول اوږد شي. په خپل سرکورته راوستل ښې پايلې نه لری.) او که غواړي چې د جيب خرچ څخه هم ګټه واخلي نو ښه ده چې ښځه د خپل اوسيدلو ځای ته نژدي کمپ ته د راتبديلولو عرض پاڼه ورکړي. او خپله هم د هغه نژدی کمپ سره اړيکه ونيسی چې ځای لری او که نه؟ که د دغه کمپ موافقه واخيستل شي او مرکزي کمپ ته وليږل شي نو به ډيرښه وي. خو يوه خبره په کلکه په پام کې ونيول شي هغه دا چې بايد د پناه غوښتونکي ډاکتری مسايل خلاص وي په دی مانا چې هغه وخت کور ته راوستل شي چې اړوند کمپ دا ومني چې د ناروغتيا په وخت کې د معالجې پيسې ورکوي.

ښځه : ستونزه د ښځو په اړوند شته چې ډير وخت يي کورنۍ تياره نه وي چې په کمپ کې پريږدي. خو زه په کلکه وايم چې تر څو يي د ډاکترموضوع روښانه نه شي، کورته راوستل يي وروسته ډيره پښيمانې لري.

په دواړو حالاتو کې په لومړی ورځ د کمپ مسولین ټینګارکوي چې همدا اوس یي کورته بوزی، خو زما تجربې داسي ښودلې ده چې لږ صبر په کار دي یو څو ورځي یي باید پریږدي چې ټول مسایل د ډاکټری د ستونزي په ګډون روښانه شي، کورته یي راولي.

هغه کسان چې نورو هیوادونو ته په ویزه راشي او وروسته وغواړی چې په ډنمارک کې پناه وغواړي، د پورته مسایلو څخه مثتثنی دی. نوکله یي چې زړه وغواړی، کولای شي د پناه غوښتلو مرکز ته مراجعه وکړي. ډیرکسان په مرکز او یانورو ښارونو کې د پولیسو مرکزونو ته مراجعه کوي. د دی له پاره چې پناه غوښتونکی بیځایه سرګردانه نه شی او یا هم شپه په توقیف کې تیره نه کړي نوډیره ښه ده چې په نیغه د پناه غوښتلو مرکزي کمپ سنهالم ته ورشي.

نوټ: دا په هغه صورت کې کیدلای شي چې پناه غوښتونکي د ویزې په اړه چوپ پاته وي او داسې ووایي چې په قاچاقي ډول راغلي دي. هیره دې نه وي چې اوس ټول سفارتونه د ویزې ورکولو په وخت کې د ګوتو نښان اخلي نو ځکه د ویزې پټول هم ناممکنه چاره شوي ده.

هربهرنی چې په ډنمارک کې داستوګنې اجازه لری، کډوال ګڼل کیږي؟ غواړم نن پر دغه موضوع رڼا واچوم: بهرنیان چې ډنمارک ته راځي د کار او استوګنې اجازه ترلاسه کوي په څو ډلو ویشل کیږي.

ـ هغه کسان چې په خپلو هیوادونو کې د ژینو د کنوانسیون مطابق او یا دهغه معادل ستونزې د خپل حکومت او یا نورو

داسې ډلو سره ولري چې حکومت يي ژوند نه شی ژغورلای.
د کډوالۍ تر پروسې وروسته د ډنمارک د قوانينو د اووم پاراګراف د لومړی او دوهمې فقرې په اساس د استوګنې اجازه تر لاسه کوی چې دغه کسان لومړی درجه او دوهمه درجه سياسي کډوال دي.په ياد ولري چې د لومړي فقرې کډوال ځينې امتيازونه لری چې عادی کډوال يي احساسولای نه شی، دوهم ګروپ هم سياسي کډوال دي چې په ډيره لږه کچه د لومړی ګروپ سره توپيرلري.

ـ که يو کډوال نر/ ښځه په ډنمارک کې د اووم پاراګراف د لومړی او دوهمې فقرې په اساس د استوګنې اجازه ترلاسه کړي. کولای شي چې بيله کومې ستونزې خپل ښځه/ميړه او ماشومان چې عمرونه يي تر(۱۵) کالو لږوي د فاميل د يوځای کيدو(د فاميل الحاق) د قوانيونو په اساس په يوه ټاکلي موده کې را وغواړي. (مخکي د ماشومانوله پاره تراتلسوکالو لږعمرسرحد و، خوزيات وخت کيږي چې قانون بدلون موندلي دي نو د ماشومانو د عمرسرحد يي پنځلس کاله ټاکلي دي).

نوټ: د ماشومانو او د کورنۍ د الحاق قوانين په اروپايي هيوادونو کې توپير لري خو تر ټولو په سويډن کې د کورنۍ راوستل اسانه دي البته يو څه زيات وخت نيسي نو راوستل يې حتمي دي. په ډنمارک کې چې څوک د راتللو په وخت کې د واده په اړه معلومات ور نه کړي او وروسته واده وکړي، اوس يې د پخوا په پرتله نور هم قوانين سخت کړي دي. کله چې ښځه/نارينه ډنمارک ته را ورسيږي ، کيدلای شي چې د ماشومانو په ګډون په بيله توګه د سياسي کډوالۍ

اخیستلوعرض پاڼه د بهرنیانو اداري ته وړاندي کړي. خو دا عرض پاڼه باید تر راتلو وروسته هرڅه ژرتسلیم کړي. هر څه ژر په دې مانا ده چې په پرنسیپ کې باید د راتلو په لومړی ورځ عرض پاڼه تسلیم شي خو باید تر دوې اونۍ زیات وخت ونه نیسي.

په یاد باید ولری چې دعرض پاڼې د تسلیمیدو سره جوخت پناه غوښتونکي باید د یوې اوږدې مرکې له پاره تیاری ولری او د پناه غوښتلو دلایل یي باید دقیق اوپرځای وي. خو داسې هم کیدای شي چې میره/ښځه چې مخکې یې سیاسي پناه اخیستې وی او دلایل یي قوی وی نو بله جوړه یي هم د هغو دلایلو پر بنسټ کولای شي چې خپل دوسیه ترتیب کړي چې زما د جوړی په خاطر زما ژوند ته هم خطر شته. که پردغه دلایلو د پناه اخیستلو سند ترلاسه کړي په حقوقي ژبه دمیره یا د ماینې په خاطر ورته کانسیکوینس [10] وایي چې د حقوقي لحاظه کوم توپیر نه لري. او ماشومان چې تر۱۵ کالو لږعمر ولري په اتومات ډول سیاسي پناه ترلاسه کولای شي.

که دغه پناه غوښتونکی د منفي ځواب ترلاسه کړي بیا هم کولای شي چې شکایت وکړي او د دولت په لګښت وکیل ولري او دوسیه یي د پناه غوښتونکو(محکمه) کې وارزول شي. که بیا هم منفي واخلي د الحاق اقامي ته صدمه نه رسیږي.
ـ هغه کسان چې د کورنۍ د الحاق ترمقرراتولاندي پاته شي

[10] - Konsekvens Status

هیڅوخت داسې یو پاسپورت چې د ډنمارک د مقاماتو له خوا ورکول کیږي ، ترلاسه کولای نه شي. باید همیشه په افغاني پاسپورت باندې سفر وکړي. کله چې ټاکلې موده یې پوره شي او ټول شرایط پوره کړی ، کولای شي چې د ډنمارک تابعیت ترلاسه کړی، هله نو ډنمارکی پاسپورت اخیستلای شي.
ـ هغه کسان چې د پناه غوښتلو شرایط پوره نه کړي په دی مانا چې د اووم پاراګراف د لومړی او دوهمې فقرې په اساس سیاسي پناه ترلاسه نه کړي، خو د ناروغتیا په وجه اقامه واخلي نو حقوق یې محدود دي چې لاندې یې بیانوم :

ـ څوک چې د لاعلاجه ناروغتیا په وجه اقامه ترلاسه کړي ، دغه ډول اقامې ته بشری اجازه ویل کیږي. دغه کسانو ته لومړی د (۶) میاشتو اقامه ورکوی، بیایي ناروغې ارزوی او د ناروغتیا د دوام په صورت کې د(۲) کالو اقامه ورکوي او په دغه ډول بیا ارزول کیږي، کیدلای شي بیا ویزه ورته تمدید کړي. دا پروسه ترهغه وخت پورې دوام کوي چې د ټاکلو کلونو تر تیریدو وروسته دایمي اقامه ترلاسه کړي. باید ووایم چې دغه کسان هم هیڅ داسې پاسپورت چې د ډنمارکي ادارو څخه ورکړه شي تر لاسه کولای نه شي. مکلف دی چې د سفرپه وخت کې د افغاني پاسپورت څخه ګټه پورته کړي. دغه کسان په عادی توګه خپله کورنۍ ډنمارک ته نه شی راوستلای. یوازې د متخصصو ډاکټرانو د تصدیق په صورت کې چې نوموړی ته د ناروغی د زیاتوالی او یا د مرګ خطر تایید کړی، کیدلای شی، کورنۍ یي د الحاق د قانون په اساس ورته را وغوښتلای شی.

هغه کورنۍ چې د الحاق په توګه راغلي وی او یا هم د بشری قوانینو ترمقرراتو لاندی یي د اقامې اجازه ترلاسه کړی وی، یو شمیرحقوق اومکلفیتونه لری چې په بله برخه کې به یي بیان کړم.

ـ په ډنمارک کې د دندې د اخیستلوپه صورت کې هم د اقامې سند ترلاسه کیدلای شی. خو دا پروسه په اویایموکلونوکې ډیره ساده وه ځکه په ډنمارک کې صنایعو بې ساری وده کړی وه نو ځکه ډنمارک کارګرانو ته ډیره اړتیا درلوده. البته دا اړتیا یوازې د ډنمارک نه وه بلکې په ټوله لویدیزه اروپا کې د کارګرانو اړتیا په ښکاره محسوسه وه. دغه علت و چې ډیر زیات کلیوال خلک د ترکیې څخه اروپایی هیوادونو ته د میلمنو کارګرانو په ډول راغلل. په هغه وخت کې د دایمي اقامې قوانین ډیرساده وه. بیله کومې ازموینې څخه تر دوه کاله قانوني استوګنې څخه وروسته هر چا ته په اتومات ډول د دایمي استوګنې سند په پوست کې راتلي چې په (۹۰) کلونو کې دوه کاله په دری کلونو بدل شول، خو بیا هم کومه ځانګړې ستونزه نه وه. د کورنۍ د الحاق موضوع هم ډیره ساده وه او حتی مور، پلار، ورونه  او خویندو هم کولای شوای چې د دریم هیواد څخه د پناه غوښتلوعرض پاڼه د ډنمارک د سفارتونو د لاری ورکړي.

باید ووایم چې اوس هم ډنمارک د لوړوزده کړو بهرنیانو ته ډیره اړتیا لری خوشرایط یي دومره اسانه نه دي. په لوړه کچه ډاکټران او د کمپیوترکارپوهانو ته ډیره اړتیا لري چې زیاتره دهندوستان څخه غواړي.

د ګډبازار اروپايی هيوادونو اتباع هم کولای شی چې په ډنمارک کې ترځانګړو قوانيولاندی دنده اجرأ کړی.

په دی برخه کې غواړم د مختلفو کټګوريو کډوالو او يا د نورو بهرنيانو د حقوقو په اړوند معلومات وړاندي کړم:
ـ هغه کسان چې د کډوالی سند د اووم(۷) پاراګراف د لومړی او دوهمې مادې په آساس ترلاسه کړی، تر نورو بهرنيانو ډير حقوق لري.

دغه ډول کډوال د پرنسيپ له مخې بيله ځنډه د خپل کورنی غړي(اولادونه) چې عمر يي تر (۱۵) کلنو لږ وي او ميرمن/ ميړه ډنمارک ته راغوښتلای شي. که د يو کډوال عمرلوړ وي او يا کومه ځانګړې ناروغې ولري ، بيله دی ځخه چې کار وکړي، د وخت نه مخکې پوره تقاعد اخيستلای شي او که يي عمر تر۶۵ کالو لوړ وي د عمر په وجه اصلي تقاعد تر لاسه کولای شي. د ګډ بازار ټولو اروپايي هيوادونو ته بيله ويزې ځخه سفر کولای شي البته د وروستيو تحولاتو په وجه ځينو هيوادونو د سيلانيانو له پاره ځانګړې قوانين وضع کړی دي. د بيلګې په توګه فرانسه او انګليستان بيله ويزې ځخه دغه ډول کډوالو ته د ننوتلو اجازه نه ورکوي.

دغه کډوال په پرنسيپ کې خپل هيواد ته سفرکولای نه شی خو په وروستيو وختونو کې لس کاله ټاکل شوی دي چې سياسي کډوال بايد خپل هيواد ته سفر ونه کړی که سرغړونه وکړی په هوايي ډګرونو کې د راګرځولو امکان شته او که هيواد ته ولاړشي د بيرته راګرځيدو په صورت کې کيدای شي د اقامې کارت ورځخه واخيستل شي.

دغه کډوال که کوم داسې جرم  وکړي چې د قاضي له خوا د ډنمارک څخه د ایستلو حکم صادرشي. تر ډیرې کچې یي د ده و ژوند ته په خپل هیواد کې ګواښ په نظرکې نیول کیږي. که بیا هم د ایستلو پریکړه یي وشي او ژوند ته یي ګواښ وی نو تر  هغه وخته یي په ډنمارک کې ساتي چې و ژوند ته یي د خطرې ګواښ په بشپړډول رفع شي اونور...

ـ هغه کسان چې د کورنۍ سره د یوځای کیدو د قوانینو پربنسټ په ډنمارک کې د اوسیدلو او کارکولو اجازه ولري ، لږ تر لږه باید په ډنمارک کې لس کاله ژوند وکړی تر څو چې د وخت نه مخکې او یا د اصلي تقاعد مستحق شي. کله چې دا حق پیدا کړي نو د وخت نه مخکې تقاعد پیسې یي تر نورو لږ دی چې د بروک تقاعد [11] په نامه یاده وي. بروک د ریاضي اصطلاح ده چې کسرته ویل کیږي.

دغه کډوال هر وخت چې وغواړی خپل هیواد ته سفرکولای شی ځکه سیاسي ستونزه  نه لري.

ـ دغه کسان د ډنمارکي تابعیت غوښتنه تر نورو یوکال وروسته کولای شي.

ـ هغه کسان چې د ناعلاجه ناروغۍ په وجه په ډنمارک کې د استوګنې اجازه ترلاسه کړی، په حقوقي ژبه ورته بشری اقامه وایي. دغه کسان د کورنیو سره د الحاق په وجه ځینې توپیرونه لري. دوی په یوځل اوږد مهاله اقامه ترلاسه کولای نه شي. تر ټاکلې مودې وروسته  د بهرنیانو د ادارې له خو ایي روغتیایي

---

[11] - Brøk pension

حالت ارزول کيږي. البته د هغه کس په هيواد کې د ناروغتيا د علاج امکانات هم په نظرکې نيول کيږي، که د روغتيايي خدمتونو امکانات په افغانستان کې ممکن شي په پرنسيپ کې بايد دوباره خپل هيواد ته واستول شي. د وخت نه مخکې تقاعد او يا د عمر د بشپړيدو په وجه تقاعد يی لږترلږه لس کاله استوګنې ته اړتيا لري. کورنۍ يې په اسانۍ سره ډنمارک ته نه شی راغوښتلای. که کوم جرم وکړی او محکمه د ايستلوپريکړه ور باندې وکړی، کيدلای شی چې په فوری ډول يې د ډنمارک څخه وباسي. لږ تر لږه اوه(۷) کاله په کار دي چې دايمي ويزه ترلاسه کړي خو داسي يو پاسپورت چې په ډنمارک اړه ولری نه ورکول کيږي. خو د کلونو په تيريدو سره که شرايط پوره کړی، کيدلای شی د ډنمارک تابعيت تر لاسه کړی چې په هغه صورت کې ډنمارکی پاسپورت تر لاسه کولای شي. (بايد ووايم اوس ۲۰۱۸ زکال دي چې ډنمارک په قوانينو کې ډير بدلون راوستۍ دي. دايمي اقامه اخيستل د ډنمارکي ژبې په زده کولو او رسمي کار درلودلو پورې اړه لري، پرته له دې څخه ناشوني ده، بايد ووايم د سويډن په ګډون په نورو اروپايي هيوادونو کې لا هم په دې اړوند قوانين ډير سخت شوي نه دي خو ډير امکان شته چې په ۲۰۱۹ زکال کې هلته هم بدلونونه راشي.)

دوهم بدلون:(په ۲۰۱۸ زکال کې د بهرنيانو د ادارې د نوي چلند څخه خبر شوم. داسې يو ځوک چې پنځه کاله مخکې يې د سياسي پناهنده ګی سند تر لاسه کړی و، اوس يې د ويزې د تمديد غوښتنليک وړاندې کړی، دوباره مرکې ته وغوښتل. د لومړی ورځې په ډول يې مفصله مرکه (انټرويو) چې اوه

ساعت وخت يې ونيوي ورسره وکړل. پخوانۍ پوښتنې تکرارولي او ټينګار يې کاوه چې اوس تر پنځه کلونو وروسته بايد ستونزه ونه لري. د مرکې په پای کې درې اونۍ د انتظار وخت ورکړي چې پايله يې په مکتوب کې درليږل کيږي.)

زه په لږ وخت کې د دوو داسې پيښو سره مخامخ شوم، نو ماته يې داسې سيګنال راکړ چې په وروسته کې ډنمارک د ځينو هغو کسانو دوسيې يو ځل بيا ځيري که څه هم پنځه کلونه يې تير کړي وي. د موضوع په اړوند مې معلومات وکړي. د بهرنيانو اړونده اداره غواړي چې د نويوو سياسي پناهندګانو څخه چې د نوی ويزې غوښتنليک ورکړي، پرته د توپير څخه د ټولو سره دوباره مرکې وکړي چې په هيواد کې ستونزې نشته بايد بيرته خپل هيواد ته ولاړ شي. دومره چې زه تجربه لرم، ډنمارکي مقاماتو پريکړه کړي ده، ټول هغه کډوال چې دايمي اقامه نه لري د هر ځل اقامي غوښتلو په وخت کې مرکې ور سره وکړي چې د ايستلو شرايط يې برابر کړي. بايد په پام کې ولري چې ډنمارک د دايمي اقامې شرايط دومره سخت کړي چې پوره کول يې اسانه نه ښکاري، البته په نورو اروپايي هيوادونو کې د دايمي اقامې اخيستل تر اوسه دومره ستونزمن نه دي.

- موقتي اقامه: هغه کسان چې د کډوالۍ شرايط بشپړنه کړي او داسې جرمونه يي په خپل هيواد کې کړی وی چې د ډنمارک د بشري قوانينو سره په مخالفت کې وی خو ډنمارک يی محکمه کولای نه شی. په پرنسيپ کې بايد خپل هيواد ته واستول شی. ولې ستونزه دا وی چې په خپل هيواد کې کيدای

شی اعدام شی. دا چې په ډنمارک کې د اعدام جزا نه شته نو دغه کس په موقت ډول چې ترجدی څارنې لاندې ساتي، تر څو د ایستلو مناسب شرایط یي برابر شي. که مو یادوی څو کاله مخکی دعراق یو جنرال دا ډول اقامه درلودل. دا ډول کسان پرته له موقتي استوګنې نورهیڅ ډول قانوني حقوق نه لري.

**د کورنۍ دالحاق سره احتمالي خطرونه:**

هغه څوک چې د کورنۍ سره د الحاق د قوانینو پر آساس اقامه ترلاسه کړی، ترهغه وخت پوري چې دایمي ویزه تر لاسه کوی په اصلي نفر پوري تړلی وی. د بیلګې په توګه که میړه او ماینه په نظر کې ونیسو. که میړه اساسي کډوال وی او میرمن یي د اولادونو سره د الحاق د قوانینو پر آساس راغلي وی نو میرمن او اولادونه ترهغه وخت پوري په میړه/ پلار پوری اړه لري. که پلار مړ شي ټوله کورنۍ ته د ایستلو لوی خطرشته. که طلاق را منځته شی یوازې د میرمنې د ایستلو خطره شته

**د بشري اقامي د اخیستلو شرایط:**

بشری اقامه په ډیرو حالاتو کې د لاعلاجه ناروغۍ په صورت کې ممکنه ده. د بیلګې په توګه د سرطان ناروغۍ پیشرفته حالت، د ایډس ناروغي ، د شکرې ناروغتیا چې اینسلیون پیچکاری کوی...

په یاد ولری، هغه ښځې چې په هیواد کې خپلوان پلار، مور، ورونه، خویندې، کاکا، ماما، عمه ګانې او خاله ګانې او یانور داسې خپلوان ونه لري چې نوموړی ښځه د ناخوالو په مقابل

کې وساتلای شي هم کیدای شی بشري اقامه ترلاسه کړي.
د ځینوناروغیو په اړوند کیدای شی د افغانستان د روغتیا د وزارت څخه د ټاکلي ناروغي د علاج د امکاناتو په هکله معلومات وغواړی. که د افغانستان د روغتیاوزارت ولیکي چې د علاج ښه امکانات شته نو کیدای شي چې کډوال د منفي ځواب ترلاسه کړي.

څو کاله مخکې د یو نفر د شکرې د ناروغۍ په هکله یې د افغانستان څخه پوښتنه وکړل چې تر شپږو میاشتو ځنډ څخه وروسته ځواب را ورسید چې د ناروغۍ درست علاج کیدلای نه شي.

د قانون پر بنسټ د الحاق غوښتونکو څخه لاندې غوښتنې کیږي:
ـ ازدواج باید د ډنمارک د قانون پربنسټ قانوني بڼه ولري (یاني نکاحنامه باید د ډنمارک له خوا ومنل شي.)
ـ جوړه چې بیله واده ژوند سره کوي باید په اسنادو ثابته کړي چې دواړو په دومداره توګه په ګډ ادرس کې لږترلږه یو نیم کال ژوند سره کړی دی.( د مسلمانانو په تړاو یې د تطبیق وړ نه ګڼم.)

ـ واده کول باید د میړه او مایني په بشپړ رضایت صورت نیولی وی.

ـ واده کول په دی نیت نه وی شوی چې یوازي د اقامي اجازه د واده کولو په واسطه تر لاسه کړی.

په بهرکې دمېړه/ مابنې څخه غوښتنې:

ـ جوړه باید لږ تر لږه ۲۴ کلن وي.

ـ جوړه باید وډنمارک ته د قرابت شرایط بشپړکړای شی.
ـ مېړ/ یا مینه چې د الحاق د قانون پر بنسټ اقامه ترلاسه کړي باید د شپږو میاشتو په موده کې د ډنمارکي ژبې ازموینه ورکړي.
د هغه جوړو څخه غوښتنې چې دواړه په ډنمارک کې ژوند کوي
ـ میږه او ماینه باید لږ تر لږه د(۲۴) کلونوعمر ولري.
ـ میږه یا ماینه باید وروستې لس کاله د جزا د قانون پربنسټ د خپل پخواني میړ/ماینې او یا د هغه ښځې/نارینه سره یي چې ګډ ژوند کړی، په دغه اړوند په جزامحکوم شوی نه وی. (د کورنیو شخړو پر بنسټ چې په جزا محکوم شوی نه وی.)
ـ میږه یا ماینه چې د بهرڅخه یي خپل جوړه راوستی وی باید د استوګنې، اعاشې او اباتې ترعهده یي ووتلای شی.(باید دومره عواید ولري چې بیله د دولت د مرستې څخه په ډنمارک کې نورمال ژوند ورته برابر کړای شي. ژباړن)

ـ هغه بهرنیان چې په ډنمارک کې د اووم یا اتم پارګراف له مخې د کډوالۍ سندونه لری، باید داسې دایمي اقامه ولری چې لږ تر لږه دری کاله وربا ندي تیرشوی وي.(اووم او اتم پارګراف د کډوالۍ مقام یانې سیاسې کډوالې ده چې په تیرو برخو کې روښانه شوی ده.)

یو کډوال باید ټوله پورتني شرایط پوره کړی تر څو کورنۍ یي ورسره یوځای شي.

یادونه : په نورو لویدیزو هیوادونو کې هم ورته شرایط شرایط شته خو د ډنمارک په پرتله سخت نه دي. هغه څه چې په ټولو هیوادونو کې یو شانتي دي هغه دا چې نکاح خط باید بشپړ قانوني وي. ډنمارک په وروستیو وختونو کې د نکاحنامې تایید په کابل کې د ډنمارک د سیاسي نماینده ګي لخوا حتمي ګڼي.

د دی له پاره چې د کورنیو د یوځای کیدلو(د فامیل الحاق) د موضوع مهمه برخه مې هم بیان کړی وی، ښه به وی چې د موضوعاتو د تسلسل پخوانې سیستم ته لا دا ځل نه ورو ګرځم. اوس غواړم چې پر یوه مهمه موضوع د کورنیو د الحاق په اړوند وړ.غیړ.م. د دغه ډول الحاق مقرراتو ته د ډنمارکي اتباعو لپاره د ګډ بازار په هیوادونو کې ازادانه استوګنه [12] وایي چې تاسو یې د بهرنیانو د ادرې په ویبپاڼه کې لوستلای شی. خو زه به یې دلته لنډیز په روانه ژبه وړاندی کړم.

که یو کډوال میړه / ماینه په ډنمارک کې د کډوالۍ د قانون له مخې د بهرنیانو د ادارې او د کډوالو د شورا (محکمې) څخه د رد ځواب ترلاسه کړي. په داسې حالاتوکې بل هیڅ مقام نه شته چې شکایت وکړي تر څو د کډوالۍ دوسیه بیا وځیړل شي.(البته که دوباره افغانستان ته ولاړ شي او د نوې ستونزې سره راشي او یا داسې شواهد پیدا کړي چې په رښتیا دوسیه غلطه څیړل شوی ده نو کیدای شی چې د کډوالو شورا یې یو ځل بیا دوسیه وارزوی چې په عمل کې د دوسیي دوباره احیأ کول زما د تجربې له مخې یا هیڅ ممکنه نه ده او یا ډیره

[12] - Familiesammenføring til danske statsborgere efter EU-retten eller Fri bevægelighed

ستونزمنه پروسه ده چې ډیرو اسنادو ته اړتیا لري. که څوک په رښتیا افغانستان ته ولاړشي نو کیدای شی چې د بیرته راتګ په وخت کې خپل نوې ستونزې بیان کړي او کیس یي د نوو ستونزو پر بنسټ ارزول کیږي. ولې که په رښتیا ولاړ نه شي نو دا چې افغانستان ته تللی دی اثبات یي ډیره ګرانه چاره ده. ترهرڅه دمخه باید د بیرته تګ د الوتکې قانونې ټکټ ښکاره کړای شی.)

په داسې حالاتو کې خوشبختته هغه څوک دی چې د جوړې څخه یو یي ډنمارکی تابعیت ولري. که یو نفر دا ډول تابعیت ولري نوکولای شي چې د ګډبازار په اروپايي هیوادونو کې د ځان له پاره دنده ولټوی او د استوګنې ځای پیدا کړي. کله چې دا شرایط یي برابر کړل نو باید د هغه نفر په اړوند چې قبول شوی نه دی، د بهرنیانو ادارې ته په ښکاره تلیفون وکړي او ورته ووايي چې زه د خپل جوړې سره دغه هیواد ته ځم. تر اوسه پورې عملي امکان په سویډن کې زیات دي خو یو شمیر جرمني ته هم ځي. مهمه دا ده چې ناقبول شوي شخص چې پاسپورت نه لري بل هیواد ته ورسول شي خو که بل لیري هیواد وټاکې ، د الوتکې په ذریعه یي تلل ستونزه ده. داسې به اټکل وکړو چې سویډن یا جرمني ته وکولای شی چې ولاړشي. کله چې هلته ځای پرځای شول لاندې ټکې به په جدي توګه په پام کې نیسې:

ـ کورباید د هغه نفرپه نوم وي چې ډنمارکي تابعیت لري او په همدې ډول باید داسې یوه دنده ولري چې هره میاشت یي بانکې حساب ته دومره پیسي راشي چې د دواړو د لګښتونو له پاره

کفایت وکړي. برق، د تلویزیون لیسنس، د کورقرارداد او نور ټول اړوند مسایل یي پرخپل نوم وی. په بانک کې باید ځانته نوی حساب پرانیزي، هرڅه چې رانیسی ، ښه به وی چې د خپل بانکي کارت په واسطه یي رانیسي. ټول کوچني او لوي بلونه باید وساتي. د معاش ورقي او لنډه دا چې هر ډول اسناد باید وساتي. په ځینو هیوادونو کې که څه هم تابعیت ولري د کار کولو اجازې ته اړتیا وي نو باید په دغه موضوع هم مخکې له مخکې ځان وپوهوی.

د خپل واده قانوني سند چې د افغانستان څخه یي راوړی وی باید ورسره وي. ناقبول شوی نفر د سویډن یا جرمني اړوندې ادارې ته د واده د سند سره ورمعرفي کړي. په دغه ډول ناقبول شوی نفر په سویډن یا جرمني کې د کورنۍ د الحاق د قانون له مخې د استوګنې اجازه تر لاسه کوي. په قانون کې لیکل شوی دی چې بل اروپایي هیواد ته تلل باید په دی موخه نه وي چې یوازې د خپل جوړې د قبولۍ په خاطر وي. نو ځکه کوم ټاکلې موده نه شته. طبعي ده چې یوکس بل هیواد ته ځې دنده تر لاسه کوی باید لږترلږه دري ـ څلورمیاشتي خو به هلته اوسیږي. کله چې د دندې دوره بشپړه شي او یا جوړه وغواړي چې د ځینو دلایلو او اړتیاو له مخي بیرته ډنمارک ته را وګرځي نو د ناقبول شوی نفرسره ځکه بیرته راګرځیدای شی چې هغه په سویډن یا جرمني کې اقامه ترلاسه کړی ده. که وغواړی چې بیرته په ډنمارک کې د همیش یا اوږدې مودې له پاره واوسیږي نو ټوله اسناد باید د ډنمارک د بهرنیانو ادارې ته تسلیم کړي او د خپلې ناقبول شوی جوړې د قبولې له پاره ټاکلې فورمې ډکي کړي. په دغه ډول کیدای شي چې تر یو

ټاکلي وخت وروسته د اوسيدلو او کار کولو اجازه ترلاسه کړي. (په ياد ولري که د ډنمارکي پاسپورت لرونکي په ډنمارک کې کار پيدا کړي، ژوند په جرمني او يا سويډن کې وکړي هم کومه ستونزه نه شته.)

که ميره/مايينه په ويزه ډنمارک او يا بل اروپايي هيواد ته راشي او ارزونه دا وي چې د راغلی نفر شرايط داسې دې چې سياسي پناه هنده ګې نه شي اخيستلای، ښه به دا وي چې د پورته ميتود څخه ګټه واخلي. دا ځکه د يوې خوا د نوموړي نفر رسول په قانوني توګه بل اروپايي هيواد ته پرته له ستونزې تر سره کيږي او د بلي خوا به راغلی کس په مياشتو او يا کلونو د سياسي پناه هنده ګې د اخيستلو لپاره منتظر نه وي او وخت به يې نه ضايع کيږي.

ـ ډيرکسان په ډنمارک کې د وکيل څخه مرسته غواړي. په دې کې شک نه شته چې د دوسيې د مختته وړولو له پاره وکيل ډيره مرسته کولای شی خو د وکيل مرسته يو مقدار پيسو ته هم اړتيالري.
ـ هغه کسان چې د واده قانوني سند نه لري ، دا چانس نه لري چې د سويډن يا جرمني حکومت دی د واده کولو نوی چانس ورکړي.
ـ د جوړې څخه که هيڅ يو يی ډنمارکي تابعيت ونه لري دا کارشونی نه دي.

ـ د بل چا سره په داسې کورکي چې پوستې پته يی پرخپل نوم نه وي، د منلو وړنه دي.

ـ که د کور کرایه د بانک د لاری نه ورکوی باید هر ځل چې کرایه تحویلوي، قانوني بل واخلي. که د کور قراداد نه وی، هم باید دغه ډول بل ولري.

که د سویډن نه پرته بل اروپایي هیواد ته د تللو په تکل کې شی نو د ناقبول شوی نفر انتقال په ناقانونه ډول لویه ستونزه ده. په دې اړوند زه خپله تجربه نه لرم ولې ځینې کسان پیژنم چې انګلیستان ته تللي دي. د ناقبوله شوی نفرد انتقال په اړوند د انګلستان وکیل داسې مشوره ورکړی چې زه یي تایید او یا ردولای نه شم. په داسې حالاتوکې به ښه وی چې دوکیلانو څخه مشورې واخلي. که نورو معلوماتو ته اړتیا ولری کیدلای شي چې د بهرنیانو د ادارې د ویبپاڼې څخه ګټه واخلي. په دې برخه کې به د بشري اقامي په اړوند رڼا واچوم او هم به نوی بدلونونو ته چې د رسنیو د خبرتیا له مخې کیدای شي رامنځته شي، پام واړوم:

مخکې مې بیان کړل چې د بشري اقامي اخیستلو له پاره اساسي پرنسیپونه دادي:

۱ ـ کډوال داسې ناروغې ولري چې وژونکي وی او جوړیدل یي ممکن نه وي. ټاکلې ناروغې هم باید منفي خوا ته ډیر پرمختګ کړی وي. د بیلګې په توګه: پرمختللی سرطان، پرمختللی ایډس او نور...

ـ داسې تجربه هم لرم چې یو ځوان د جګر(اینې) پرمختللی سرطان درلود. ټول ډاکټران په دې همږغي ول چې د ناروغ جوړیدنه ستونزمنه چاره ده خو بیا هم ناروغ تر شپږ میاشتې انتظار وروسته بشري اقامه تر لاسه کړه.

ـ بله داسې پيښه وه چې ناروغ د بشري اقامې تر اخيستلو يوه ورځ وروسته مړ شو.

د دې بيلګو د ليکلو څخه مې موخه دا ده چې د بشري اقامې اخيستل هم اسانه چاره نه ده.

۲ ـ هغه ښځينه کډوالي چې په خپل هيواد (افغانستان) کې هيڅ خپلوان ونه لری، نو داسې ګڼل کيږي چې د افغانستان په څير هيوادونو کې د ښځې ژوند کول يوازې ممکن نه دي نو کيدای شي تر ډيرو څيړونو وروسته، بشري اقامه تر لاسه کړي. خو لاندې ځوټکي بايد په پام کې ونيسي:

ـ په خپلوانو کې ليري او نژدي د کورنۍ غړي لکه ماما، کاکا، زامن اولوړنې يي، خاله عمه او اولادونه يي، ورور، خور او نورليري خپلوان ونه لري.

ـ د اوږدو څيړونو څخه مې مقصد دا دي چې ډير احتمال لري، دهغه ټاکلي ادرس څخه چې تاسو ورکړی دي بيله ستاسو د خبرتيا څخه پوښتنې او ګرويږنې وکړي. په دي اړوند زه ډيرې بيلګې لرم.

د پورته ناروغيو اويا هم دښځو له پاره د نژدي کورنيو د نه شتون په صورت کې بشري اقامه غوښتل کيدای شی. ځينې کسان د نورو دلايلو څخه هم ګټه اخلي چې ځينې يي زما په آند د موراِل او اخلاقو په لحاظ دومره مناسب نه ښکاري. دبيلګې په توګه ځينې کسان داسې دلايل وړاندي کوی چې ګواکې همجنس بازه دی اويا يي په کومه فاحشه خانه کې دنده درلوده

نو استول یي دمرګ خطر ورته لري چې دا ډول کیسونه په افغانانو کې په ندرت لیدل کیږي.

ولې یو بل دلیل او پلمه چې د ډیر پخوا څخه مروجه ده هغه داده چې:

کډوال خپل مذهب پریږدي او دعیسویت دین قبلوی. زه د نورو هیوادونو د اتباعو په اړوند څه نه وایم خو په افغانانو کې یې ډیر رواج نه درلود. په وروستیو وختونو کې دغه میتود تر یوې لږ کچې په افغانانو کې هم رواج شوی دی. د پرنسیپ له مخې د بهرنیانو اداري د دین انتخاب شخصي موضوع ګڼلی ده نو د سیاسي کډوالي سند نه ورکوي. ولې په ډنمارک کې دمذهبي حلقو د هڅو او تلاښ په پایله کې د کلونو په اوږدو کې ځیني کډوال سیاسي قبول شوی او یو زیات شمیر یي د بشري اقامې په اخیستلو بریالي شوی دي. په وروستیو وختونو کې د کډوالي شورا پریکړه وکړه چې په هیڅوجه باید دا ډول کسان د کډوالي سند ترلاسه نه کړي. په ډنمارک کې په لوړه کچه کلیساګاني ناقانونه کډوال کلونه کلونه ساتي د اعاشې او اباتې چارې یي هم پر غاړه اخلي.

د هغو کسانو په اړوند چې د لیږلو په انتظار وی یانې انتظاري اقامه: [13]

ما مخکې هم په دی اړوند څه معلومات وړاندی کړی دي. دا داسې یو حالت دي چې کډوال یو جرم کړی وی چې د جرم په خاطر د کډوالۍ د سند اخیستلو مستحق نه وی خو په حقیقت

[13] - Tålt ophold

کې د نوموړی ژوند ته په خپل هیواد کې دومره خطر وی چې د ډنمارک د قوانینو پر اساس یې لیږل غیري انساني کړنه وي. که یې جرم کړي نه وای ، د قبلیدو مستحق و.
د بیلګې په توګه: که د افغانستان څخه داسې یو مجاهد، طالب او یا یو لوړ پوړی چارواکی ډنمارک ته د پناه غوښتلو له پاره راشي چې ښکاره بشري ضد جنایت یې کړی وی چې د بیرته لیږلو په صورت کې د اعدام سزا ورکول کیږي. دا کس تر هغه وخته نه لیږل کیږي چې د اعدام حکم لیری نه شي ځکه اعدام د ډنمارک په قانون کې روا کار نه دي. که یې سیاسي دوسیه د پناه غوښتلو وړ هم وی د هغه د جرم په خاطر پناه نه ورکول کیږی خو هیواد ته یې هم نه لیږي.

داسې کسان د اوسنیوقوانینو په اساس باید په مرکزي کمپ کې ژوند وکړي، لږ تر لږه په میاشت کې دري ځله باید پولیسوته حاضري ورکړي. د کار کولو اجازه نه لري او د نورو ټولو مدني حقوقو څخه بې برخې وي. تر هغه وخته باید انتظار ولری چې د خپل هیواد حالت داسې شي چې د ډنمارک د قوانینو په آساس عادلانه چلند ورسره وشي. په دی مانا که زندان ته هم لیږدل کیږي باید د یوې عادلانه محکمې د پریکړې وروسته زنداني شي.

دوهمه بیلګه: کیدلای شي چې یو کډوال د پناه هنده ګی سند ولری او په ډنمارک کې ډیر کلونه قانوني ژوند کړی وي. خو په ډنمارک کې داسې جرم وکړي چې محکمه یې محکوم کړي او تر ټاکلي مودې زندان وروسته داسې پریکړه هم وکړي چې د زندان تر تیرولو وروسته باید خپل هیواد ته ولیږل شي. مګر

تر زندان وروسته د نوموړي پخواني سياسي دوسيه داسي وى چې د ليږلو په صورت کې تعقيب او زنداني کيږي. نودغه کس ته هم انتظاري اقامه ورکوي. تر هغه وخته به دا نتظار په حالت کې ناست وي ترڅو شرايط داسې برابر شي چې په خپل هيواد کې عادلانه چلند ورسره وشي. دغه کس هم د اوسنيو قوانينو په آساس د کارکولو اجازه نه لرى او نه هم د مدني قوانينو څخه ګټه اخيستلاى شي.

يو ايرانى چې (۲۵) کاله يي په ډنمارک کې ژوند کړى دى د يو جرم په واسطه په يونيم کال زندان باندي محکوم شوى و. محکمي داسې پريکړه هم کړى وه چې تر زندان تيرولو وروسته بايد د ډنمارک څخه ويستل شي او بيرته خپل اصلي هيواد ته وليږل شي او هم لس کاله بيرته ډنمارک ته د راتلو اجازه نه لري.

دا پريکړه شپږ کاله مخکې شوى ده نوموړى دغه شپږکاله په مرکزي پنډغاله (کمپ) کې په پورته بيان شوو شرايطو ژوند کړى دي.

دا ځل دهغو کډوالو په اړوند معلومات وړاندي کوم چې په پنډغالو(کمپونو) کې د کډوالي د سند داخيستلو په اميد ناست دي او يا د رد ځواب يي تر لاسه کړى دى، انتظار باسي چې کله به خپل اصلي هيوادونو ته وليږول شي.

بايد ووايم چې په ورستيو کلنو کې او اوس (۲۰۱۸ زکال) ډير لويديز هيوادونه رد شوي کډوال په خپله خوښه او يا جبر دوباره افغانستان ته ليږي. که څوک د رد ځواب تر اخيستلو وروسته په خپله خوښه د استولو پر فورمه لاسليک و نه کړي،

د راتلونکو دوو کلنو په موده کې هیڅ اروپایي هیواد ته په رسمي او یا قاچاقي توګه راتلای نه شي.

د پورته ټولو سختیو سره کله کله چې په افغانستان کې د انفجارونو په وجه ډیر ناوړه حالت رامینځته شي، ځینې اروپایي مشران د رد شوو کډوالو د استولو پروسه د څه مودې لپاره وځنډوي.

ځینې کسان په پټه سرګردانه ګرځي یانې د ځواني ژوند په سرګردانیو تیره وي خو اوس په ایټالیا کې دغه رد شوو کډوالو ته پناهنده ګي ورکوي. ستونزه دا ده چې په ایټالیا کې کار نشته او د دولت مرسته دومره ده چې کډوال یوازې خواړه او د اوسیدلو ځای لري.

په ایټالیا کې قبول شوي کډوال نورو اروپایي هیوادونو ته ځي ځکه پاسپورت لري، په نورو هیوادونو کې تور (په ناقانونه توګه) کار کوي. هغه څوک چې د اروپایي هیوادونو تابعیت و نه لري، سفر کولای شي خو د کار او همیشه استوکنې اجازه نه ورکول کیږي.

**د کورنیو د الحاق (یوځای کیدو) قانون د اروپایي ګډ بازار د امتیازاتو له مخې**

پورته قانون د یوشمیرافغاني کورنیو چې نوي واده کوي، له پاره ډیراړین دی چې ورباندي پوره پوه شي. زما ډیرنژدي دوست د پورته قانون څخه د ګټې اخیستو په خاطر ډیرلګښت کړی و، نوځکه مې هوډ وکړچې د ګرانو لوستونکو لپاره یې په دقیقه توګه وژباړم. د اړتیا په وخت کې مې د ښه تشریح په خاطر د ډنمارکي وکیلانومرسته غوښتي ده. پاملرنه وکړئ ژباړنې ته:

د ګډ بازار د محکمې پریکړو ځینې امتیازات ډنمارکي اتباعوته منلي دي. په ځینو حالاتو کې یو ډنمارکي تبعه په خپل هیوادکې د اروپایي ګډ بازار د قانون څخه ګټه اخیستلای شي چې د نوروامتیازاتو تر څنګ دلاندې شرایطو په پوره کولوسره ښځه/میړه د الحاق په ډول په ډنمارک کې اقامت ورته اخیستلای شي:

کیدلای شي چې یوه بهرني ته د اقامي کارت ورکړه شي چې د یوه ډنمارکي تبعې د کورنۍ غړی وی.

**د دایمې اقامې د اخیستلو نوی قانون**

د دایمې اقامې د اخیستلو نوی قانون پر ۱۵ می ۲۰۱۷ زکال نافذ شو. ټول هغه غوښتونلیکونه چې د ۲۰۱۷ زکال د مارچ پر ۱۵ نیټه او یا تر دې وروسته ورکول شوي وي، د نوموړي قانون مطابق ارزول کیږي.

په نوي قانون کې اساسي بدلون دا دي چې مخکې تر شپږو کالو وروسته د دایمې اقامې غوښتنلیک ورکول کیدي خو اوس تر (۸) کالو وروسته دا چاره تر سره کیږي. هغه وخت دایمې اقامه ورکول کیږي چې د نورو شرایطو د پوره کولو تر څنګ ټول (۸) کاله په ډنمارک کې اوسیدلي وي، کیدلای شي د څلورو اضافي غوښتنو د پوره کولو په صورت کې تر (۴) کالو وروسته دایمي اقامه هم واخیستل شي. باید هیره نه وي که څوک جرم وکړي کیدلای شي د اتو کالو موده ورته اوږده شي او یا د دایمي اقامې د اخیستلو حق ور څخه واخیستل شي.

د پخواني قانون پر بنسټ باید وروستي دري کلونه سړي کار کړی وای اوس د کار موده څلور وروستي کلونه ته جګه شوه،

مانا دا چې د غوښتنلیک د ورکولو د نیټې څخه څلور وروستي کلونه سړی باید کار کړی وي. په پخواني قانون کې د غوښتنلیک په وخت کې سړی باید لږ تر لږه وروستي دوه کاله او شپږ میاشتي کار کړي وای اوس دا موده دري کاله اوشپږ میاشتو ته جګه شوي ده.

که څوک څلور اضافي شرایط هم پوره کړي نو کولای شي تر څلورو کالو وروسته دایمي اقامه تر لاسه کړي. څلور اضافي شرایط په لاندې ډول دي:

په ټولنه او جامعه کې فعال رول لوبول، د کارکولو اضافي غوښتنې، د لوړ عاید درلوونکي او ښه ډنمارکي ژبه زده کول.

باید وویل شي چې د دایمي اقامې غوښتنلیک سره باید یو ټاکلي مقدار ټکس تحویل شي. دا پیسې دوباره د غوښتنلیک څخه د صرفنظر کیدلو په صورته نه ورکول کیږي.

نوټ: باید ووایم چې د دایمي اقامې موده تر ۱۹۸۸ زکال پورې دوه کاله وه. هیڅ ډول شرایط یې نه درلودل، پرته له دې چې کډوال وپوهیږي، په اتومات ډول د دایمي اقامې کارت د پوستې په واسطه راتلي. تر دې وروسته د دایمي اقامې موده دري کاله شوه چې هم په اتوماتیک ډول ورکول کیدي. اوس یې وینو چې د (۶) کالو څخه و (۸) کالو ته موده وغځیدل او سخت شرایط هم ور سره اضافه شوی دي.

**د کورنیو د یو ځای کیدلو (الحاق) قانون:**

دا قانون هم د هر حکومت په بدلون سره تغیر کوي. دا بدلون دوې برخې لري که سوسیال ډموکراټان په واک کې وي په

پرتلیزه توګه اسانتیاوي رامینځته کیږي، که د ځان ساتو یاني کانسرویټیو یا هم ښۍ اړخې لیبرال په واک کې وي نو قوانین ډیر سختیږي. اساسي علت یې دا دي چې ښۍ اړخه ګوندونه د ډنمارک د خلکو د ګوند ملاتړ ته اړتیا لري او دا ګوند د بهرنیانو د ډیریدو سره سخت مخالفت لري. اوس په ۲۰۱۸ زکال کې ښۍ اړخه ګوندونه په واک کې دي نو د نویو بدلونونو په تړاو ستاسو پاملرنه را اړوم:

**د څلرویشت ۲۴ کلنو قانون:**

د میړه او ماینې د یو ځای کیدلو لپاره د (۲۴) کلنۍ قانون چې دواړه باید دغه عمر پوره کړي وي، حتمي شرط دي، البته د اروپایي خوځښت په قانون کې (۲۴) کلنۍ ته اړتیا نشته. ډنمارکي مقامات ادعا کوي چې د (۲۴) کلنۍ قانون ځکه اړین دي چې د ښځو د جبري واده کولو څخه مخنیوي وشي. باید ووایم که میړه یا ماینې مخکې سیاسي پناه اخیستي وي او په هغه وخت کې د خپل میړه او یا ماینې په تړاو معلومات وړاندې کړي وي او ځان یې متاهل معرفي کړي وی نو د دې قانون څخه مثتثنی دي.

هغه کډوال چې تر قبلیدو وروسته واده کوي بل اساسي شرط دا دي چې پر موقتي اقامه یې لږ تر لږه اته کاله تیر شوي وي. کیدلای شي تر دري کاله موقتي اقامې وروسته هم د کورنۍ د

يو ځای کيدلو غوښتنليک ورکړي خو ځيني ځانګړي شرايط باید پوره کړي.

د کورنۍ د يوځای کيدلو لپاره قانوني نکاحنامه په کار ده البته د نکاح په وخت کې باید میړه او مايينه دواړه حاضر وي او قبولي وکړي، غيابي نکاحنامه چې د وکيل په واسطه وي نه منل کيږي. دواړه باید ګډ کور یانې پته ولري خو کيدلای شي د ځانګړو شرايطو په درلودلو سره لنډ مهاله سره جلا وي. تر يوې ښځې زياتي نکاح کړې ښځې نه منل کيږي.

نوټ: د هغو کډوالو لپاره چې تازه اروپايي هيوادونو ته راځي، پورته معلومات يو عمومي چوکاټ دي چې باید د پناه اخيستلو ستونزې په دغه چوکاټ کې وويني. د زمان په تيريدو سره فرعي قوانين بدلون مومي خو د پناه اخيستلو دلایل په ټوليزه توګه د ژينو د کنوانسيون مطابق تر هغه وخت پورې بدلون نه کوي چې لويديزه اروپاه په قطعي ډول د پناه غوښتونکو لاره بنده نه کړي چې دا ډول احتمال ډير لږ دي.

همدا اوس شرايط ډير سخت شوی دي، په دې مانا چې د پناه غوښتونکي هغه اسناد چې راوړل شوي وي، په لويه کچه د شک په سترګه ورته کتل کيږي او د يو شمير اسنادو د کنترول لپاره د مختلفو لارو څخه ګټه اخيستل کيږي چې دا معمول لس کاله مخکې نه و. هغه پناه غوښتونکي چې ښه اسناد ولري او د

پناه غوښتلو داستان يې د اسنادو سره مطابقت ولري پرته له شکه په هر اروپايي هيواد کې اقامه تر لاسه کولای شي. هغه پناه غوښتونکي چې اسناد نه لري خو د پناه غوښتلو داستان يې واقعيت ته نژدي وي او پناه غوښتونکي يې په وضاحت او بشپړ فصاحت بيان کړلای شي، ډير چانس لري چې د يو وکيل په مرسته د اقامې سند په دوهم پړاو کې واخلي.

هغه کسان چې د اسمان او مځکې څخه وړغيږي او د خپلې کيسې د بيان څخه عاجز وي او يا هم د مرکو په وخت کې رد او بدل وړغيږي، بايد چمتو وي چې حتماً دوباره خپل هيواد ته ليږل کيږي.

**په افغانستان کې د واليدينو د پاملرنې وړ:**

زه پوهيږم چې په افغانستان کې جګړه ده، کار نشته، لوږه او دربدري واکمنه ده خو بيا هم په کار ده چې د تنکيو ځوانانو ليږل اروپاه ته د کورنۍ د سپما او يا د شتمنيو د پلورلو په پيسو په دې هيله چې زده کړې به وکړې، د جګړې څخه به په امن کې وي او په وروسته کې به د کورنۍ مرستندويه وي، ښه نظر نه دي دا ځکه:

ـ تنکي ځوانان د پناه غوښتلو د کيسې د دفاع کولو توان نه لري نو ځکه د منفي او رد ځواب يې په لوړه سلنه ممکن دي. تر منفي وروسته سرګردانه په اروپاه کې ګرځي او په نهايت کې بيرته هيواد ته ليږل کيږي. له يوې خوا سپما شوي پيسي بيرته

لاسته نه راځي د بلې خوا د ځوان روحيه ډېره کمزوري کيږي او د ځواني فعال وخت يې په سرګردانيو تيريږي.

ـ داسې اټکل به وکړو چې ځوان دا چانس ولري چې اقامه تر لاسه کړي. په يوه ازاده اروپايي ټولنه کې تنکي زلميان پرته د کورنۍ څخه د ډېرو ستونزو سره مل وي. په ډېرو داسې چارو اخته کيږي چې په اخر کې خپل ژوند يې هم ګډوډ او د کورنۍ سره مرسته خو اصلاً په ذهن کې نه راګرځي.

هيله لرم چې افغاني واليدين پورته ټکي ځکه په پام کې ونيسي چې دا زما د کار اساسي برخه ده او ډيره تجربه لرم، ترخه واقعيتونه مې په سترګو ليدلي چې ډير تفصيل او د واقعي داستانونو بيان بيل کتاب ليکلو ته اړتيا لري.

# څلورم څپرکی

د کډوالو ماشومان او زده کړې

ـ د کډوالو بچیان باید خپل راتلونکي ژوند ته پام واړوي

د ډیرې مودې راهیسي د کډوالو د بچیانو راتلونکي ته مې پام اوښتی دي. اساسي علت یي دا ګڼم چې په خپل ورځني ژوند کې د ډنمارکیانو په چاپیریال کې په زړه پوري او هم ډارووونکي تجربې تر لاسه کوم. د ډیر پخوا څخه مې وړاندوینه کړی وه چې د کډوالو ځوانانو د ښه ژوند یوازني لاره داده چې زده کړې وکړي. ممکن تاسو ته خندا درشي، په دي خاطر چې زه یو روښانه واقعیت بیانوم. زه د دغه روښانه حقیقت بیان ځکه اړین بولم چې په اروپایي هیوادونو کې ځوانان د ژوند لنډ مهاله خوښي ویني او د راتلونکي ژوند د ټینګو بنسټونو په جوړولو کې چرت هم نه وهي. په اروپایي هیوادونو کې ځوانانو ته کار پیداکیږي، لنډ مهاله پیسي ګټل کیږي. په ځوان عمر، موټر، لوکسې جامې، په هوټلونو کې ناسته او ولاړه او د ځواني د وختونو نوري عیاشي د ځوانانو د ژوند چاپیریال جوړوي. نو ځکه لید لوری یي د پام څخه غورځیدلي ښکاري. په لوړه کچه د لوړو زدکړو څخه چې ستونزمن کار دی، ډه ډه کوي. ډیري ځوانان په غیري مسلکي چارو لګه: دوکانداري، د رستورانو کارونه، پاک کاري اونورو ورته غیري مسلکي چارو باندي لګیاه دي.

دا ډول کارونه په نني اروپایي ټولنو کې ښه راتلونکي نه لري. ټولنه نور هم ماشیني کیږي، عادي کارونه هم زده کړو ته اړتیا

پیدا کوي. سره د دي چې همدا شیبه د ټولنیزو خدمتونو درانه کارونه دبهرنیانو پر غاړه بار دي. زما پخواني وړاند وینه دا وه چې ژر یا وروسته به د لوړو زده کړو ځوانان چې بهرني ریښه ولري، د جګړې اومه مواد به کیږي. په دي مانا چې د پوځ او پولسیو تشه به په همدغه ځوانانو ډکیږي. په ځانګړي ډول په پوځ کې چوپړ چې په نورو هیوادونو کې په جګړه ایزه دندو بوخت وی. د دي مطلب د ښه روښانه کولو له پاره پاملرنه وکړي د ډنمارکي ورځپاڼې پولیټکن 14[14] مقالي ته چې تردي سرلیک لاندې خپره شوی ده:

هغه ځوانان چې د دولت څخه نقدي مرسته تر لاسه کوي، باید په پوځ او پولیسو کې داخل شي
«دولت غواړی چې په پوځي قشلو او د پولیسو په مرکزونو کې د وزګارو ځوانانو له پاره د کار د ټریننګ (تمرین) له پاره شرایط مهیا کړي، ترڅو د ځوانانو له پاره د کار شرایط برابر شي. خو اړوند سازمانونه د دغه پلان په هکله اندیښمن دي. حکومت یوه غیري معمولي لاره په مخ کې اچوي چې وزګار ځوانان په کار واچوي. هغه ځوانان چې زده کړې لري او وزګاردي، باید د خبرو په وخت کې، مشاورین ټول د کار هغه ځایونه چې د دفاع په وزارت اوپولیسو کې ورته اړتیا وي، ځوانان ورته وهڅوي چې دغه دندې واخلي. دغه وړاندیز د کار او دفاع وزیرانو د همدغه ورځپاڼې سره په مرکه کې وویل. په دغه خاطر د کار مرکز د دفاع وزارت او د پولیسو سره په دي اړوند تړون لاسلیک کوي.

---

[14] - Politiken d.17.5.2012

د کار وزیر وایي چې د ځوانانو د کارپیدا کولو له پاره باید ډیرې لارې شتون ولرې. مخکې له دې نه موږ په دقیق ډول د دفاع د وزارت په اړوند ډیر سوچ کړی نه وو. د دفاع په وزارت کې ښه والی دا دی چې که سړی تصمیم ونیسي او د دفاع وزارت په چاپیریال کې زده کړې وکړي، ډیرې ځانګې شته چې انتخاب یي کړي. ځوانان به په انفرادي توګه د کار مختلف ځایونه د دفاع وزارت په څانګو کې وازمایي. د دفاع وزیر وایي: دا پروسه د مکلفیت د دوري د عسکري خدمت څخه توپیر لري. هغه ځوانان چې عمرونه یي د(۲۵ ـ ۳۰) کلونو پورې دي، شمیره یي ډیره ده چې کومه ځانګړي دنده نه لري او نه پوهیږي چې په راتلونکي کې څه وکړي. یوازنۍ ځای د دغو ځوانانو له پاره د دفاع وزارت مربوطات دي چې د ژوند راتلونکی بهیر یي ور تنظیم کړي. کیدلای شي چې دغه ځوانان یوه موده په ورکشاپونو، انداخت او اداري چارو کې مصروف واوسي.

د دفاع وزیر وایي چې: دا حتمي نه ده چې پورته ځوانان د یو ټاکلي مودې څخه وروسته د دفاع وزارت په مربوطاتو کې مقرر شي خو دا موده به مرسته وکړی چې د ځوانانو سترګې خلاصې شي او په اینده کې د کارپیداکول ورته اسانه چاره وي.»

## د کډوالو بچیان باید خپل راتلونکي ژوند ته پام واړوي

دوهمه برخه

د موضوع په دوام ستاسو پاملرنه د مشاورینو د مشرې بیټینا پوسټ [15] و تبصرې ته را ګرځوم:

موږ په پرنسیپ کې د پروګرام سره همږغي یو خو شرط یې دا دي چې دغه پروګرام یو مثبته پایله ولري او دغه کسان د دي امکان پیدا کړي چې د دفاع وزارت په مربوطاتو کې دنده پیدا کړي. که دغه ځوانانو ته د کار زمینه تر ټاکلې مودې پراکتیک وروسته پیدا نه شي، په حقیقت کې موږ ځوانان غولوو. زه ګومان نه کوم چې د دفاع وزارت د ځوانانو مقررولو ته اړتیا ولري. ډیر کسان چې د مکلفیت دوره پای ته ورسوي، هیله لري چې هلته په دایمي توګه دنده واخلي خو د منفي ځواب تر لاسه کوي.

د دفاع وزارت د پرسونل مسول دغه وړاندیز ته خوښ نه دي. نوموړی وایي چې: موږ د دفاع په وزارت کې غیري پوځي کسان نه لرو چې د ځوانانو سره د کار کولو تجربه ولري. هغه شمیر غیري پوځي پرسونل چې شتون لري په خپلو کارونو کې ډیر مصروف دي. د پرسونل مسول علاوه کوي چې ښه نوښت باید په درست ډول تنظیم شي. دغه ځوانان د کار اضافي قوه نه ده بلکې کار کول غواړي او چې دا کار ښوک وکړي ، لویه

[15] - Bettina Post

پوښتنه ده؟
د پولیسو مشر وايي چې موږ نه شو کولای چې پخواني مقرر خلک د ځوانانو په خاطر د دندو څخه لیري کړو. دغه نوي ځوانان باید زموږ د کارکونکو مرستندویه وي او معاش یې پوره ورکړل شي. که موخه دا وي چې موږ دغه ځوانان دکار له پاره تیار کړو، په رښتیا ګټوره پروژه ده.

د دفاع وزیر په ټینګه وايي چې موږ په دې لټه کې نه یو چې ارزانه د کار قوت پیدا کړو، ځکه موږ وعده کړی ده چې د دفاع وزارت په بودجه کې ډیره سپما وکړو. نو داسې نه کوو چې له یوه لورې خپل کارکوونکي د کار څخه ګوښه کړو او دبل لوري وزګار ځوانان په کار وګومارو. د کار او دفاع وزیران نه پوهیږي چې څو تنه ځوانان به په دغه پروژه کې شامل شي خو د راتلونکو درو کلنو له پاره (۱۳) میلیونه کرونه د دې پروژې له پاره په نظر کې نیول شوی دي. د ژباړنې پای

یادوونه: دافغانو ځوانانو څخه زما غوښتنه دا ده چې دا ډول پروژې جدي ونیسي. د تجربې له مخې د دغې پروژې پیل یو امتحاني دوره ده. او د بلی خوا د ځوانانو اذهان دغه ډول کارونو ته اماده کوي. دا لیري خبره نه ده چې وزګار ځوانان په ځانګړي توګه بهرنیان په نژدي راتلونکي کې د دفاع وزارت په نړیوالو دندو کې شامل کړي. باید هیره نه وي چې هر کال وزګارو کسانو ته د دولت نقدي مرستې لږیږي او داسې ورځ به راځي چې بې زده کړو ځوانان به یا په پوځ کې

د جګړو په ډګرونو کې خپل د خوراک ډوډۍ پیدا کوي او که نه د هر ډول نقدي مرستې څخه به بې برخې وي. روان اقتصادي حالت ښیي چې دولت نه شي کولای چې په دومداره توګه مرفه ټولنه داسې وساتي چې د کار وړ ځوانان په کورونو کې خوبونه کوي او دولت به پیسې ورکوي. د دغه ستونزې څخه د وتلو یوازنۍ لاره داده چې څو کاله زحمت وګالي، لوړې زده کړې وکړي چې هر هیواد درته اړتیا ولري.

په ډنمارک او اروپاه کې د افغاني ځوانانو حالت د زده کړو په تړاو

د خوښۍ ځای دي چې تر همدا ګړي د افغانانو ماشومان، ځوانان او پیغلې په لویه کچه په منځني او لوړو زده کړو کې د پام وړ ونډه لري. البته د سلنې له مخې یې شمیرنه په مختلفو هیوادونو کې توپیر لري. چې اساسي دلایل یې په لاندې ډول بیانوم:

ـ په هغو هیوادونو کې چې د پیسو ګټلو قانوني او غیري قانوني (تور کارونه) امکانات ډیر وي نو د نورو ځوانانو په ډول افغانان هم لوړو زده کړو ته لږ زړه ښه کوي چې ښې بیلګې یې انګلیستان او جرمني یادولای شم.

ـ د کډوالي په لومړیو کلونو کې یو لوي شمیر د اسلامپالو ګوندونو غړي همدغو لویو هیوادونو ته راغلي او په وروسته کې هم دا لړۍ پرمختګ کړي دي چې ډیر تعداد نالوستي کسان په همدغو هیوادونو کې استوګن دي نو ځکه د زده کړو په بدل کې د زیاتو شتمنیو په ټولولو مصروف شوي دي.

ـ په نورو ورو اروپايي هيوادونو په ځانګړې توګه په سکندنويايي هيوادونو لکه ډنمارک، سویډن، ناروې او فنلنډ کې زيات افغاني ځوانان په لوړو زده کړو بوخت دي. دا ځکه چې د ناقانونه کارونو چانس په يادو هيوادونو کې لږ دي. د بلې خوا ډير کډوال يې د لوړو زده کړو درلونکي وو، چې په دغو هيوادونو کې پناه اخيستي ده.

ـ په ځانګړې توګه د ډنمارک په اړوند ولیکم د خوښي ځای دي چې تقريباً پرته د استثنا څخه د هرې کورنۍ لږ تر لږه دوه يا دري ځوانان په لوړو زده کړو بوخت او يا يې پای ته رسولي دي.

د ډنمارک د اړوندې ادارې څخه مې د افغاني کډوالو ځوانانو د لوړو زده کړو د شمير په اړوند معلومات وغوښتي چې لنډيز يې وړاندې کوم:( د ۲۰۱۷ ز کال د جنوري د مياشتي په لومړی نيټې ۲۱۱ افغانانو د لوړو زده کړو ډيپلومونه تر لاسه کړي دي. خو د ۲۰۱۷ زکال د اکتوبر د لومړي نيټې څخه (۳۰۸) افغانانو په لوړو زده کړو پيل کړي دي خو هيره دې نه وي چې ۵۳۵۴ تنه افغان ځوانان د لوړو زده کړو په لست کې شامل نه دي. کيدلای شي يو شمير يې په کارونو بوخت وي، ځينې يې د زده کړو پيل ته انتظار وي خو دا هم امکان لري چې ځينې ځوانان وزګار په کورونو کې خوبونه کوي.

دا چې ولې په وروستیو کلونو کې د افغان ځوانانو یوه برخه نه غواړي چې لوړې زده کړې وکړي، دلیل یې وروسته وړاندې کوم.

- یوه بله ډله کډوال شته چې د والیدینو په تشویق سره یوازې د پیسو ټولولو لپاره لویدیزې اروپاه ته راځي. دا کډوال جرمني خو په ځانګړې توګه انګلیستان ته راځي. په انګلیستان کې د ناقانونه کارونو (تور کارونو) امکانات د پاکستانیانو او په لږه کچه د افغانانو په دوکانونو کې شته. د دغو کډوالو یوازنۍ موخه دا ده چې افغانستان ته زیاتې روپې واستوي هلته د ژوند ښه امکانات جوړ کړي.

د دغو ځوانانو والیدینو او دوي خپله هیڅوخت داسې فکر نه دي کړي چې د ځواني فعال وخت په ناقانونه چارو چې معاش یې د پاکستان په کچه دي، لګوي خو خپلې راتلونکي ته سوچ نه کوي.

ډیر داسې ځوانان شته چې د لیري او یا نژدي دوستانو په مرسته انګلیستان ته را رسیږي، د پناه غوښتلو غوښتنلیک یې رد کیږي، د ټاکلي شخص سره د مریې په توګه ژوند کوي. نوموړي کس یې په کلونو په یوه تل خونه (زیر خانه) کې د چارو د اجرأ لپاره ساتي چې لومړی خپل پور ور څخه واخلي او وروسته څه پیسي د خپلې کورنۍ لپاره جوړې کړې. دا

کسان د انګلیستان د ټولنې څخه هیڅ معلومات نه لري او په خپلو حقوقو خبر هم نه دي.

باید یوه مهمه موضوع په یاد ولري چې په انګلیستان کې د سکنډنیاوي هیوادونو په پرتله د کډوالو لپاره په مساوي حقوقو قایل نه دي. که ووایم چې ټوله کډوال په هغو سیمو کې استوګنه کوي کوم چې یوازې بهرنیان په لوړه کچه پاکستانیان استوګن دي، د ژوند سطحه یې هم د پاکستان د مهاجرینو په ډول ده، د واقعیت څخه لیري نه ده.

په ډنمارک او نورو سکنډنویایي هیوادونو کې د کډوالو د انټګریشن (په ټولنه کې د شاملیدلو) لپاره ځانګړې پروګرامونه شته. تلاښ کیږي چې کډوال په ټولنه کې د عادي اروپایي خلکو سره ګاونډي وي او په مختلفو سیمو کې ځای پر ځای کړي، په داسې حال کې چې په انګلیستان کې د بهرنیانو سیمه ټاکل شوي ده. ما یو ځل انګلیستان ته سفر وکړي دغه توپیر مې په خپلو سترګو ولیدي.

په انګلیستان کې یو بل معمول هم شته چې په خپله خوښه په داسې یوه کوټه کې چې د پولیسو د څار څخه لیري وي د څو تنو سره ګډ ژوند کوي او په تور (ناقانونه) کار په پټه توګه مصروف وي تر څو د پلار هیله ور پوره کړي او په کافي اندازه پیسې افغانستان ته ولیږي تر څو هلته جایدادونه ور

باندې رانيسي. دا چې د ځوان راتلونکي ژوند څه کيږي هيڅ ته د پوښتنې وړ نه دي. په انګليستان کې تور کارونه د پاکستان په ستنډرډ دي، د استوګنې ځای او معاش يې داسې دي لکه څوک چې په پاکستان کې ژوند کوي، يوازې د پونډ او افغاني اسعاري توپير يې شتمن کوي. دا ځوانان د اروپا د ارام ژوند څخه ناخبره وي، هغه حقوق چې يو کډوال لري، اصلاً دوي ور څخه خبر هم نه وي.

- په وروستيو څو کلونو کې چې د کډوالۍ د پناه اخيستلو شرايط سخت شوی دي، لکه مخکې مې چې ليکلي دي، ډير رد شوي کډوال ايټاليا ته ځان رسوي او هلته ژر د کډوالۍ سند تر لاسه کوي. د ايټاليا حکومت په پيل کې کډوالو ته د پنځو کلنو ويزه ورکوي خو د ژوند شرايط يې ډير خراب دي او د کار موندلو چانس هم ډير لږ دي په همدغه وجه دغه کډوال نورو اروپايي هيوادونو ته سفر کوي. دوي کولای شي چې ډيرو لويديزو اروپايي هيوادونو ته قانوني سفر وکړي خو په نورو اروپايي هيوادونو کې تر څو چې د يو اروپايي هيواد تابيعت تر لاسه نه کړي، د کار کولو اجازه نه لري. د دوي سفر دري مياشتي قانوني دي، دا چې په پاسپورت کې ټاپه نه وهي نو دوی کولای شي زياته موده په بل هيواد کې پاته شي.

دغه کسان هم د انګليستان په ډول د نورو ورته ځوانانو سره استوګن شي او د تور کار په لټه کې شي تر څو پيسي ټولې

کړي. په وروستیو کلونو کې د دغو ځوانانو شمیره په اروپایي هیوادونو کې ډېر زیات شوی دي. دا ځوانان هم د اروپایي ژوند د سهولتونو او زده کړو څخه بې برخې دي، یوازې په ناقانونه او پټ ډول په تورو کارونو مصروف وي تر څو چې د پولیسو لاس ته ورځي.

نوټ: د پام وړ ده چې په ځینو اروپایي هیوادونو کې کډوال د هغه هیواد د وګړو د ژوند د سټنډرډ سره مساوي امکانات نه لري، چې د دغو هیوادونو کې په سر کې انګلیستان قرار لري. په انګلیستان کې تقریباً ټول کډوال او یا افغان کډوال په هغو سیمو کې د ژوند کولو امکانات لري چې یوازې بهرنیان استوګن وي. ډېر کم لیدل کیږي چې ګاونډی یې یو انګریز وي. د بهرنیانو د انټګریشن یانې په ټولنه کې د ګډیدلو یانې شاملیدلو لپاره ډېره لږه پاملرنه کیږي. لوړې زده کړې په لویه کچه د فیس د ورکولو په بدل کې ممکن دي. په یوه خیرنه کوټه کې د څو تنو اوسیدل پرته د ښو امکاتو څخه هم په انګلیستان کې معمولي خبره ده.

باید ووایم چې په سکنډنویایي هیوادونو کې د زده کړو شرایط د نورو اروپایي هیوادونو په پرتله ډېر اسانه دي. په ځانګړي توګه ډنمارک د زده کړو لپاره ډېر ښه شرایط لري. د تحصیل په دوران کې یوه اندازه معاش لري او کولای شي د بانک څخه

په اسانه شرایطو پور واخلي کله چې زده کړې یې پای ته ورسیدلي د پوره دوباره غوښتنه ور څخه کیږي.

## څه وخت لویدیزو هیوادونو کډوالو ته په ورین تندي ښه راغلاست وایې؟

نه غواړم د کډوالۍ تاریخچه راوسپړم، غواړم وروستیو (۳۰ ـ ۴۰) کلونو ځغلنده ته نظر واچوم. په هغه وخت کې چې سړه جګړه په اوج کې وه او د سوسیالیستي هیوادونو پرمختګ او پیاوړی کیدل د لویدیزو هیوادونو او امریکایانو اندیښنې پارولي وې، د کډوالو د هوسایې او درناوې کلونه وو. په ځانګړي توګه د افغانستان د ثور پاڅون او د پخواني شوروي اتحاد اشغال او هم د ایران د اسلامي انقلاب بریالیتوب لویدیز هیوادونه ډیر وډارول. په همدي کلونو کې په ډیرو لویدیزو هیوادونو کې د کډوالو له پاره پنډغالي جوړې شوی. افغانان او ایرانیان یې په پټو سترګو او ورین تندي منل. دا د شوروي اتحاد سره د جګړې یوه سوله ایزه برخه وه. د سړې جګړې تر پای ته رسیدو وروسته د کډوالي سیستم په ټوله لویدیزه اروپا کې د زیګ زاګ حالت ته واوښت. بیا هم د افغانستان تر دوهم اشغال پوري د کډوالو د منلو شرایط ډیر ستونزمن نه وو.

**د کډوالو سره د سخت چلند کلونه**

کله چې په لویدیزه اروپاه کې په ځانګړی توګه د کډوالو شمیره مخ پر ډیریدو شوه نو د بهرنیانو سره په مخالفت ګوندونه رامینځته شوه. په حقیقت کې دغه ګوندونه د اویایمو کلونو په مینځ او وروستیو وختونو کې جوړ شوه خو ډیر محبوبیت یې نه درلودي.

کله چې سره جګړه د پای ته رسیدو په درشل کې شوه، د همدغو ګوندونو د محبوبیت کچه اهسته اهسته لوړیدله. کله به چې رسنیو د لیکلو کافي مواد نه درلودل نو د کډوالو په تړاو به ډول ډول لیکنې کیدلي. په (۹۰) یمو کلونو کې په ډیرو لویدیزو هیوادونو کې څو ځلې د ټاکنو د کمپاین اساسي موضوع هم شول.

اوس حالت په بشپړه توګه بدلون موندلي دي. د لویدیزو هیوادونو په ملاتړ او امریکا په مشرۍ په ډیرو اسلامي هیوادونو کې د جګړې اورونه بل وسائل شول چې هم د دوي په ملاتړ ډیرې بنسټپالې ډلې رامینځته شوي. افغانستان، عراق، لیبیا او سوریه یې د اور سره تبۍ کړه. په افریقایي هیوادونو لکه سومالیا، مالي او نورو کې هم بسټپالي ډلې راپیدا شوي. د جګړو او بنسټپاله ډلو د ظلمونو، وژنواو بې عزته کولو په وجه په میلیونونو انسان کډوالۍ ته اړ شوه. د شیخانو په بازارونو کې وړې نجونې په څو ډالرو پلورل کیږي ځکه اسلامي شفقت نه تر سترګو کیږي. همدا علت دي چې په زرګونو کډوال د لویدیزې اروپا لورې ته مخه کړی، څوک په اوبو کې ډوبیږي او څوک ځان رارسوي. د انسانانو قاچاق مافیایي بڼه خپله کړې ده.

ولې لویدیز نور کډول نه غواړي؟

ـ د هر چا سره پوښتنه پیدا کیږي چې ولې بډای عربي هیوادونه لږ تر لږه د مسلمانانو د اړتیا په وخت کې د پناه غوښتلو شرایط نه جوړه وي؟ یوه ورځ یو ډنمارکي متخصیص ډاکټر پوښتنه را څخه وکړه چې ایا د اسلام په اساساتو کې د

مهرباني، شفقت او د مظلومانو د لاس نيوي قوانين نه شته؟ خپله يې ځواب را کړ، تر هغه ځايه چې زه پوهيږم دغه قوانين ستاسو په اسماني کتاب قرآن کې په ډير صراحت شتون لري. ولې بډای عربي هيوادونه مرسته نه کوي، په داسې حال کې چې د سعودي د پاچا د الوتکې زينې د طلا څخه جوړې شوې دي. عربي شيخان او د شاهي کورنۍ غړي د نړۍ په ګران قيمته موټرو کې سپريږي، د عياشي انګازې يې نړۍ اوري. د يوې ښځې پر ځای څو نکاح شوي ښځې لري خو په څنګ کې غيري مشروع جنسي کړنې هم تر سره کوي.

ما ځواب نه درلود خو د هغه ډاکټر خبري مې تاييد کړي. د خواشينۍ ځای دا دي چې په عربي بډايو هيوادونو په ځانګړي توګه په سعودي کې بهرني مسلمانان که د اوسيدلو غوښتنه کوي بايد شتمنې يې د يو شيخ په نوم وي. که هغه ونه غواړي دغه کس د خپلې شتمنۍ څخه هم ګټه اخيستلای نه شي. يانې بهرنيان د غلامانو په ډول ژوند کوي. بډای عربان په ډيره بيشرمي د سوريې د جګړو څخه د تښتيدلو کډوالو تنکي نجونې رانيسي او خپل جنسي هوس ور باندې پوره کوي، نورې ډيرې دردونکي کيسې مې اوريدلي چې د بحث د اوږديدو په خاطر يې د ليکلو څخه ډه ډه کوم

- سره جګړه پای ته ورسيده نو د لويديزې اروپا پيژندګلوي ته په پخوانۍ بڼه اړتيا نشته. د سړې جګړې په دوران کې لويديز هيوادونه داسې معرفي کيدل چې ګواکې د ډموکراسۍ، د بشر حقوقو ته په درناوی د مځکې د کرې پر مخ بلاتشابه جنت دي.
- په ډيرو اسلامي هيوادونو کې د جګړې اور بل دي، په

میلیونونو سترې او ستومانه کډوال د لویدیزې اروپا پر لورې را روان دي چې د اروپاه د اقتصاد ملا ور ماتوي.
ـ د بنسټپالو ډلو د فعالیتونو پراخوالي چې همدغو اروپایانو د خپلو موخو له پاره جوړ خو اوس یې د دوي لمنو ته هم اور بل کړي دي. ورځ تر بلې دلته او هلته ترهګریز بریدونه تر سره کیږي چې د اروپا عامه ولس یې سخت اندیښمن کړی دي.
کیدلای شی نور پېټ او ښکاره دلایل هم شتون ولري.
په وروستیو کلونو کې د کډوالو مخالف ګوندونه ډیر غښتلي شوی دي، په دی مانا چې د اروپایې هیوادونو خلک هم د کډوالو د ډیریدو سره علاقه نه لري نو ځکه دغه ګوندونو ته وټونه ورکوي چې د کډوالو د زیاتیدو په مخنیوي کې بریالي شي. د ترهګریزو بریدونو زیاتوالي هم سیاستوال هڅولي دي چې د منل شوو کډوالو څخه د اسنادو اخیستلو پروسه ساده او اسانه کړي. برسیره پر دغو تلاښونو د کډوالو د راتلو له پاره ځانګړي تدابیر نیول کیږي چې زه به یې دلته مهمو ټکو ته اشاره وکړم:

**هسپانیا، یونان او ایټالیا ته د سمندر د لاري د راتلونکو کډوالو په تړاو:**

پورته دري هیوادونه شکایت لري چې د سمندر د لاری په زرګونو کډوال په غیري قانوني بڼه راځي خو د ګډ بازار هیوادونه مرسته نه کوي. پورته هیوادونه هڅه کوي چې داسې یو قانون جوړ کړی چې په کښتیو کې راغلي کډوال بیرته ستانه کړي. د پورته هیوادونو اقتصادي حالت ډیر خراب دي او د کډوالو د ستونزو د عهدې څخه وتلای نه شي. په همدغه دلیل ډیر کډوال هلته نه پاته کیږي او نورو اروپایې هیوادونو ته مخه کړي.

نور اروپایي هیوادونه شکایت کوي چې د ناقانونه کډوالو د راتلو اصلي دروازه ایټالیا، یونان او هسپانیا ده. دوي باید د دغو کډوالو مخنیوي وکړي. لیري نه ده چې د کډوالو د بیرته ستنیدو قانون د روان کال په راتلونکو څو میاشتو کې تصویب شي.

**د افغاني کډوالو د بیرته ستنیدو ستونزه:**

د پخواني ولسمشر حامد کرزي په وخت (۲۰۱۱ زکال) کې د اروپایي هیوادونو سره د کډوالو د بیرته ستنیدو تړون د [16] په نوم لاسلیک شوی دی. د همدغه قانون له مخې ډیرو اروپایي هیوادونو هغه افغاني کډوال چې د پناه اخیستلو شرایط یي بشپړ کړی نه وو، دوباره په خپل خوښه او یا جبري توګه افغانستان ته لیږل کیدل. همدغو هیوادونو ته د افغان ولسمشر او یو شمیر نورو لوړ پوړو چارواکو د راتللو په وخت کې داسې مرکې وشوی چې ګواکې شرایط عادي دي. په دغه لړ کې ښاغلي حامد کرزي او د هلمند ولایت والي ښاغلي محمد نعیم بلوچ په ډنمارک کې د معتبرو ورځپاڼو سره مرکې وکړي او د افغانستان د ښوو امنیتي حالاتو په باب یي مبالغه امیزه ویناوي وکړي. دغو مرکو په ډنمارک کې د کډوالو د پاره ستونزې ډیرې کړي. مجرد نارینه لیږل کیدل او وروسته کورنۍ د ماشومانو په ګډون هم په جبري توګه استول کیدل چې اوس هم دوام لري.

(ل: کله چې محمد نعیم بلوڅ ډنمارک ته په رسمي سفر راغي او غوښتل یې چې د اغوس د ښار د افغانانو سره وګوري، ماته

[16] MOU=Memorandums og understanding

د بهرنیو چارو د وزارت څخه ټلیفون وشو که د والي صاحب د غونډې په تړاو مرسته وکړم البته لګښت یې د بهرنیو چارو وزارت پر غاړه اخلي. ما په خوښي ومنله او دوستان مې ټاکلي ادرس او وخت ته خبر کړل. جالبه وه چې د همدې ورځې په سهار ما په همدغه ودانۍ کې د وکیل سره د ژباړن دنده درلوده او وکیلې یوه ورځپاڼه راکړه چې و یې لولم: په ورځپاڼه کې د والي صاحب د مبالغې نه ډکه مرکه وه چې افغانستان او امنیتي حالت یې ګل ګلزار ښودلي و.) ما نه غوښتل چې په غونډه کې وینا وکړم یوازې د والي صاحب د درناوي دنده مې مخته وړله خو اړ شوم چې د والي صاحب د مرکې په اړوند ځیني واقعیتونه بیان کړم. وروسته ډیرو کسانو والي صاحب تر پوښتنو لاندې بمبارد کړي. جالبه دا وه چې محمد نعیمی بلوڅ یو جهادي او قاچبر و، خو په سیاسي مسایلو نه پوهیدي، نو حالت یې ډیر خراب شو. تر ټولو جالبه دا وه چې کله والي صاحب راغلي د درناوي لپاره یې ور سره ملګرو د مبالغې په کچه زما څخه هم درناوي غوښتي چې زما لپاره د منلو وړ نه و.)

داسې ښکاري چې د افغانستان د ملي یووالي حکومت پالیسي د کډوالو په ګټه ده. د ډنمارکي ورځپاڼو په حواله د کډوالو د چارو د وزیر، ښاغلي حسین عالمي بلخي په تړاو لاندې مطالب ولولئ: « د افغانستان روانو امنیتي ستونزو ته په کتلو سره افغان حکومت تیار نه دي چې د اروپايي هیوادونو څخه په جبر شړل شوي افغان کډوال ومني. دغه مطلب د کډوالو د

چارو وزیر په یوه راډیویي مرکه کې د ناروې د یو ژورنالیست او د بشر د حقوقو فعال، مونا بینتزین [17] سره کړې ده. ښاغلي وزیر زیاته کړه چې افغان راشړل شوي کډوال د هغو ولایتونو دي چې همدا شیبه د جدي امنیتي ستونزو سره لاس او ګریوان دي. د اروپایي هیوادونو سره پورته ذکر شوی قرارداد اوس ختم ګڼل کیږي. د نورو اروپایې هیوادونو په څنګ کې ډنمارک هم په ځانګړی توګه مجرد نارینه رد شوی کډوال بیرته افغانستان ته رالیږي. په وروستیو وختونو کې کورنۍ د ماشومانو په ګډون هم په جبري توګه افغانستان ته راستانه کوي. ښاغلي وزیر وویل چې ټولو اروپایې هیوادونه ته لیک ولیږم چې نور هغه کډوال چې په جبر شړل کیږي په هوایي ډګر کې نه اخلو او بیرته به یې نوموړي هیواد ته ستانه کړو.

همدي موضوع په ډنمارک کې د کډوالو سره د مخالف ګوند ډیره غوصه پارولي ده. د نوموړی ګوند استازی وایي: کله چې موږ رسمي خبرتیا تر لاسه کړو په کلکه به د افغاني مقاماتو څخه غوښتنه وکړو چې خپل لیک بیرته واخلي. که دا کار ونه کړي موږ به ټولې هغه مرستې چې په کال کې تر (۶۰۰) میلیونو کرونو پورې رسیږي، ودروو.»

داسې ښکاري چې د لیبیا، عراق، سوریې او هم افغانستان امنیتي حالات به د کډوالي سیستم ډیر تر اغیز لاندې راولي او د پناه ورکولو پروسه به د ډیرې کندی سره مخامخ کړي. پای

[17] - Mona Bentzen

## پنځم څپرکی

### په کډوالۍ کې کلتوري ستونزې

د افغان کډوالو کلتوري ستونزې په لویه کچه په اروپايي هیوادونو، امریکا او استرالیا کې محسوس کیدلای شي. په ګاونډیو هیوادونو کې د افغانو کډوالو ستونزې د لویدیز په پرتله بله بڼه لري چې پر خپل ځای به يې تفصیل وړاندې کړم. پاملرنه وکړي د افغانو کډوالو ستونزو ته په اروپايي هیوادونو، امریکا او استرلیا کې یانې په ټولیزه توګه په بډایو هیوادونو کې چې د کلتوري لحاظه ډیر توپیر شتون لري.

### په اروپايي هیوادونو کې د کورنیو شخړو اساسي عوامل

افغان کډوال په اروپا کې په پرتلیزه ډول د ژوند ډیرې اسانتیاوې لري خو د هیواد څخه کډوال کیدل د ټولو اسانتیاو تر څنګ ډیرې ستونزې هم لري چې په هیواد کې دننه زموږ خلکو ته د ډیرو پوهیدو وړ نه ګڼل کیږي. ډیرې ستونزې په کلتورې برخه کې شتون لري.

په ځانګړی ډول په اروپا کې والیدین د اولادونو په روزنه کې ځکه پاتي راځي چې زموږ افغاني دودونه په بشپړه توګه د اروپايي کلچر سره په توپیر کې دي.

هغه موضوع چې د والیدینو او اولادونو تر مینځ ډیر کړکیچ رامینځته کوي هغه د واده کولو موضوع ده. د واده موضوع د نجونو له پاره د هلکانو په پرتله د ډیرو شخړو باعث کیږي، آن د وژولو سبب کیږي. ولې هیره دي نه وي چې هلکان هم په دی برخه کې لږ ستونزې نه لري.

بله مهمه موضوع د لور او زوي ورځنۍ کړه وړه دي خو د نجونو کړه وړه د کلتوري لحاظه د والیدینو د جدي مراقبت لاندې وي نو ځکه د نجونو او والیدینو تر مینځ جنجالونه را منځته کیږي. نجونې د وروڼو په پرتله توپیري چلند هم ډیرې مایوسه کوي چې وروسته شخړو ته لاره هواریږي.

اوس زه غواړم په دې تړاو یوه لیکنه د ډنمارکي ورځپاڼې یولنډ پوست [18] څخه وژباړم. د لیکنې سرلیک لاندې ولولي:

**ډیر بهرني ځوانان بغاوت کوی**

ډیر بهرني ځوانان (کډوال) د هغه کلتور څخه سرغړونه کوي کوم چې د عزت او شرم پر بنسټ ولاړ دي. د ځوانانو مراجعه د کډوالو ځوانانو د مرستې ځانګړی مرکز ته د ۲۰۰۶ زکال څخه تر اوسه دري برابره شوی ده، دغه مراجعه زیاتر د جبري ودونو په خاطر ده.

ډیر ځوانان د والیدینو هغه غوښتنې چې د چا سره واده وکړی، څنګه جامې واغوندې او ډنمارکي ملګري / ملګرې ونه لري، سرغړونه کوي. دغه ارزونه د بهرني ځوانانو د دوباره احیاء کولو د مرکز مشره، انیټا یوهنسن [19] کوي. نوموړي وایي چې دا ارزونه یي په دي خاطر کړي ده چې د کډوالو ځوانانو مراجعه ډیره زیاته ده په ځانګړی توګه دا شمیر تیر کال ډیره لوړ وو. په ۲۰۱۳ زکال کې ۲۲۷ ځوانانو مراجعه کړی ده چې د جبري واده کولو په خاطر د والیدینو تر فشار او تهدیدونو لاندې ول، د مرستې غوښتنه یي کوله. دا شمیر د

---

[18] - Jylland posten d.22.4.2014

[19] - Anita Johnsen

۲۰۰۶ زکال په پرتله درې برابره ده. دا شمیره تر واقعي شمیرې ډیره لږ ده ځکه ډیر کډوال ځوانان د دغه ډول فشارونو او تهدیدونو سره لاس او ګریوان دي خو د ویلو جرأت یې نه لري.

په ۲۰۱۳ زکال کې موږ ته (۲۵) نجونو شکایت وکړ چې د کورنۍ لخوا په واده کولو اړایستل شوی دي او (۱۱) نجونوشکایت درلود چې غواړي د هغه واده څخه چې په دوي په جبر منل شوی وو، ځان خلاص کړي. په همدي ترتیب یو شمیر زیاتو ځوانانو/ پیغلو شکایت درلود چې دوي وهل او ترټل کیږي او پر ټولنیزو اړیکو باندې یې زیات بندیز لګول شوی دي. د بیلګې په توګه ځوانان / نجونې د ډنمارکي ملګرو، ملګرې څخه منع کیږي. (ژباړن: د ملګري یا ملګرې درلودلو څخه مقصد د هلک او یا نجلۍ جنسي اړیکې دي).

د نوموړې مرکز مشره وایي چې زموږ بودجه په دولت او پارلمان پورې اړه لري نو موږ هغه ځوانانو/نجونو ته چې د جبري واده کولو څخه د کور څخه وزي، د اوسیدلو ځای ورکوو.

د مرکز مشره انیټه یوهنسن ارزونه کوي چې اوس هم ډیر ځوانان هغه کلتور چې والیدینو د ځانونو سره د خپل پلرني هیوادونو څخه راوړي دي، ورڅخه سرغړونه کوي. ځوانان نه غواړي چې د والیدینو د (شرم او حیا) و اصل ته دروناوي وکړي.

پیغلو اوس جرأت پیداکړی دي چې والیدینو ته داسې ووایي: « ګرانو والیدینو! تاسو ته د شرم ځکه نه ده چې ستاسو لور د

داسې کس سره ستا په خوښه واده وکړي، چې د لور ژوند دي ويجاړ وي او لور دې هغه سړی خوښ نه وی، خو تا په جبر ورته واده کړه؟ ايا تاسې واليدينو ته به سرلوړي نه وي چې لور دې د هغه چا سره واده وکړي چې ورسره خوشبخته وي او هغه سړی يې خوښ وی ولې ستاسو په خوښه نه و؟ انيټه يوهنسن ليکې چې زما په آند د کډوالو انټيګريشن په اروپايي ټولنو کې لويه ستونزه ده. زه ځينې کډوال پيژنم چې ډنمارکي ژبه يې ښه زده کړی ده، اولادونه يې لوړې زده کړې لري، د اروپايانو جامې اغوندې خو يو ځل ناڅاپه د خپلو هيوادونو د (حيا او شرم) اصطلاح ګانې ور په زړه شي او د اولادونو په وهلو او ټکولو پيل وکړي ځکه د واليدينو په آند حيا او شرم نه لري.

ځوانانو ته د مشورو ورکولو مرکز مشره سوسنه [20] چې په لويه کچه هغو ښځو ته چې د حيا او شرم په خاطر سزا ورکول کيږي، مشورې ورکوي. نوموړې وايي: تر اوس پورې وختی دي چې وويل شي، بهرني کډوال (ځوانان او پيغلې) په ټوليز ډول بغاوت کوي. نوموړي وايي چې د بغاوت جنبش په کډوالو ځوانانو او پيغلو کې پيل شوی دي او ډيري يې د بغاوت کولو په حال کې دي ځکه دوي پوهيږي چې د دوي سره مرسته کيږي نو ځکه نه غواړي چې په زاړه چوکاټ کې ژوند وکړي.

**د پيغلو سره مرسته کول اسانه چاره نه ده**

د همدغه ورځپاڼې ژورنالست يوه بيلګه وړاندې کوي:

---

[20] - Susanne W. febricus

په ۲۰۰۲ زکال کې (۱۵) کلنه خیفا عبدالغني په جبر اړ ایستل شول چې د ډنمارک څخه ولاړه شي او د یو ظالم نارینه چې تر خیفا دیرش کاله مشر و، واده وکړي. تیر کال (۲۰۱۳) زکال کې نوموړی بیرته د خپلو پنځو اولادونو سره د میړه څخه وتښتیدله او ډنمارک ته راغله. خو نوموړی ته د کډوالې سند ور نه کړل شو او بیرته اردن ته د اولادونو سره ولیږل شوه. د نوموړي سره د کډوالو اداري او هم د عدلیې وزارت مرسته ونه کړای شوای. نو ځکه باید ووایم کله چې نجونې د ډنمارک څخه ووزې د قوانینو پر اساس ستونزمنه ده چې د بیرته راتګ په صورت کې مرسته ورسره وشي.

ډنمارکیان غواړي ځینې والیدین د ډنمارک څخه وباسئ که والیدین خپل اولادونه د تربیې کولو له پاره خپلو هیوادونو ته ولیږي، والیدین یي باید د ډنمارک څخه وباسل شي.

- والیدین د اولادونو د لیږولو په صورت کې باید خپل اقامه د لاسه ورکړی؟

- که ځوانان دوباره ډنمارک ته راشي، کیدای شي بیرته یي د اوسیدلو اقامه ورکړل شي؟

دا پوښتنې هغه وخت رامینځته شوې کله چې (۲۷) کلنه خیفا عبدالغني ډیر مخکې په جبر د تربیې له پاره لیږل شوی وه، خو یولس کاله وروسته د پنځو ماشومانو سره بیرته ډنمارک ته راغله خو دوباره د اوسیدلو اقامه ورنه کړل شوه. پورته موضوع سیاسي ګوندونه وهڅول، د سوسیالیست ګوند یو برخه، لیبرال ګوند او د ډنمارک د خلکو ګوند (د کډوالو سره مخالفت لري) وړاندیز وکړي چې باید امکانات وڅیړو تر څو

د اولادونو په بدل کې د واليدينو څخه اقامه واخيستلای شو. که مور د نوموړی نجلۍ سره مرسته وکړو نو بايد واليدينو ته ور وپوهول شي چې د اولادونو سره جبر خراب عواقب لري. پورته ګوندونه ټينګار کوي چې بايد دا ډول امکانات شتون ولري خو د سوسياليست ګوند مشران وايي چې واليدين د خپلو اولادونو په تړاو حق لري خو په هر صورت چې اولاد په جبر خپلو هيوادونو ته ليږي، بايد واليدين په يو يا بل ډول سزا ووينې. واليدينو ته سزا ورکول د اولادونو سره مرسته ده. د يوموټي لست ګوند د پورته وړانديز سره مخالفت لري، دليل يي دادي چې دا ناشوني بولی چې د څو کلونو وروسته مور واليدين تر لاسو ونيسو او د ډنمارک څخه يي وغورځوو. د ډنمارک د خلکو د ګوند مشران وايي که واليدين پوه شي چې د اولادونو د جبري استولو په صورت کې مور هم ايستل کيږو، هيڅ وخت بيا دا کار نه کوي. که د خيفا په وخت کې هم دا قانون شتون درلودای، نو به خيفا به هيڅوخت د تربيې له پاره اردن ته ليږل شوی نه وای.

دوهمې پوښتنې ته چې ايا خيفا عبدالغني او د نوموړي په ډول ورته نجونو ته د استوګنې اقامه دوباره ورکړل شي، د ګوندونو نظرونه توپير لري:

ليبرال او د ډنمارک د خلکو ګوند د دوم ځل اقامې ورکولو سره مخالف دي، د سوسياليست ګوند نظر دادي که په رښتيا د نجلۍ ژوند ته په اردن کې ګواښ شتون ولرې، ډنمارک فقط بايد مرسته وسره وکړي. د يو موټي لست ګوند عقيده لري چې بايد

ډنمارک دغه ډول نجونو ته چې په جبر لیږل شوی دي، دوباره اقامه ورکړي.

د سوسیالیست ګوند یوه مشره وایي، که چیرې نومونړي د خپلې غوښتنې پر خلاف د والیدینو لخوا په جبر یو بل نارینه ته واده شوی وي او موږ هم وایو چې ډنمارک د جبري ودونو او د تربیې له پاره خپلو هیوادونو ته د ځوانانو د استولو سره مخالفت لرو او سربیره پر دغه نظرونو دغه مظلومې نجلۍ ته د بیرته راتګ په صورت اقامه نه ورکوو، په بشپړه توګه د پوهیدلو وړ نه ده ځکه موږ بیګناه انسانو ته سزا ورکوو. د خلکو د ګوند یو مشر غړی بیا بل نظر لري: که موږ لیږل شوو ځوانانو ته دوباره اقامه ورکړو، نو په حقیقت کې ډنمارک جبري ودونه او د تربیې له پاره د ځوانانو استول تاییدوي او دا به په یو همیشنې عادت بدل شي. والیدین به وایي چې اوس یې لیږو، ځکه بیرته اقامه ورکول کیږي.

په ۲۰۰۲ زکال ورته موضوع پیښه شوه. یوه (۱۵) کلنه سومالی نجلۍ ، شارو عثمان د والیدینو له لورې د ښې تربیې له پاره جبراً کینیا ته ولیږله شوه ، نوموړې په ۲۰۰۷ زکال کې دوباره ډنمارک ته راغله خو د دوم ځل له پاره ډنمارک اقامه ور نه کړه. شارو عثمان په اروپا کې د بشر د حقوقو ساتلو محکمې ته شکایت وکړ، تر څو په (۲۰۱۲) کال نوموړې محکمې پریکړه وکړه چې د ډنمارک پریکړه د بشر د حقوقو د قوانینو سره په ټکر کې ده. په دغه خاطر په هغه وخت کې کینې اړخو ګوندونو د حکومت سره یوه موافقه وکړه تر څو هغه ځوانان/نجونې چې په جبر نورو هیوادونو ته لیږل

کیږي باید ډنمارک یې دوهم ځل د خطر سره مخامخ نه کړي، خو باید ووایو چې دغه موافقه دومره ښه نه وه چې ټولې برخې په غیږ کې ونیسي.

د هغو ځوانانو / نجونو شمیره چې د بیلو بیلو دلایلو پر بنسټ زموږ د دوباره احیاء کولو مرکز څخه په ۲۰۱۳ زکال کې مرسته غوښتې ده:

جبري واده ته اړ ایستل ۲۵ تنه، د کورنۍ لخوا تهدید ۳۷ تنه، د ملګرې (نجلۍ) د کورنۍ له خوا تهدید ۳ تنه، د وهلو او ترټولو په وجه ۵۳ تنه، هلک یا نجلۍ ته د ملګری / ملګرې منع کول ۱۴ تنه، د جبري واده څخه د طلاق اخیستلو ممانعت ۱۱ تنه، پر ټولنیز اړیکو باندی بندیز ۲۱ تنه، اونور ۴۰ تنه چې مجموعاً ۲۰۴ تنو شکایت کړی دي.

نوټ: د خوښۍ ځای دی چې افغانان خپل اولادونه د اوږدې مودې (کلونو) د تربیې له پاره افغانستان ته نه لیږي. په افغانانو کې دا سفرونه لنډ دي چې میاشت او یا دوي میاشتې وي. دا ډول لنډ سفرونه د هلکانو او نجونو تجربې او پوهه زیاتوي. خو باید په پام کې ولرو چې اولادونه هغه وخت خپل هیواد ته بوزو چې د ښوونځي څخه رخصت وي. په دی اړوند زما تجربې ښودلې ده چې والیدین د ماشومانو رخصتي ته پام نه کوي او د تدریس په جریان کې د ماشومانو له پاره د اضافه رخصتي غوښتنه کوي. دا ډول غوښتنه د ماشوم پر راتلونکې د تعلیمي برخې ډیره ناوړه اغیزه لري. هیله ده چې افغاني والیدین دا ټکی په جدي توګه په پام کې ونیسي. د تربیې له پاره د ماشومانو لیږل خپلو هیوادونو ته په لومړی

درجه په عربانو کې، دوهم درجه سومالیانو او همدا ډول، ترکانو او نورو اسلامي هیوادونو کډوالو کې رواج لري چې پایلې يې ډیرې خرابې وي. اولادونه د زده کړو څخه بې برخې کیږي، کورنۍ شخړې، طلاق اود نورو مصیبتونو باعث کیږي.

په خواشینۍ باید ووایم چې افغانان، جبري ودونه، پر ټولنیزو اړیکو بندیز، وهل او ترټل او نور ټول هغه مسایل چې په پورته جدول (لښتلیک) کې ذکر شول، تر نورو هیوادونو پاته نه دي.

جبري ودونه: دا هغه ستونزه ده چې ډیر افغانان که څه هم د لوړو زده کړو څښتنان وي، لونې په جبر په افغانستان کې واده کوي او زامنو ته هم د افغانستان څخه پرته د زامنو د خوښیو نجونې په ډیرو ستونزو اروپا ته راولي.

پایلې: په اروپا کې ډیرې نجونې په زده کړو بوختې وی، ځوان چې د افغانستان څخه راوستل کیږي، په معمولی ډول نالوستی وي او که زده کړی هم ولري تر اوږدې مودې پورې په اروپا کې ګټه ورڅخه اخیستلای نه شي. په طبعي توګه دنجونو اړیکې او کړنې د افغانستان په پرتله په ورځنیو چارو کې ډیر توپیر لري چې د شخړو له پاره لوی پیلامه ګڼل کیدای شی. هلک خپل اقتصادي توان نه لري، په ژبه نه پوهیږي، ځان تر خپلې میرمنې کښته ورته ښکاري. د یو شمیر نورو ورته ستونزو په خاطر ګډ ژوند کول یا ډیر ستونزمن او یا خو په طلاق پای ته ورسیږي. که زوم د مور او یا د پلار د کورنۍ غړي وي نو ستونزه څو برابره درنه شي. او که هلک اقامه

ترلاسه نه کړي او بیرته ولیږل شي بله ستونزه ده. هلکانو ته جبري واده کول: په خواشینۍ باید ووایم چې په دې برخه کې هم زموږ افغاني والیدین په ځانګړې توګه میندې ډیره هڅه کوي چې زامن یی د نژدي کورنیو څخه او تر ډیره بریده د افغانستان څخه نجلۍ راولي او واده ورسره وکړي. که څه هم هلکان تر جینکیانو ډیره ازادي لرې خو د واده کولو په موضوع کې ډیره خپلواکې نه لرې. په داسې حالاتو کې د پلارواکی د قانون په حکم هلکان په اروپا کې هم د کومې نجلۍ سره اړیکې لرې هغه مظلومه افغانه چې اروپا ته راوستل شي د غلام مقام لري چې په ډیرو حالاتو کې تر څه مودې وروسته نجلۍ بغاوت کوي او په طلاق پای ته رسیږي خو د نجلۍ طلاق ډیرې ناوړه پایلې لري ځکه د کورنۍ او دوستانو څخه په افغانستان او اروپا کې جلا شي او په اروپایي ټولنه کې یوازې پریښودل شي او یا د مرګ د ګواښونو سره مخامخ وي. که نجلۍ د استوګنې اقامه تر لاسه نه کړې او دوباره افغانستان ته ولیږل شي نو مظلومه په افغانستان کې پرته د میړه څخه ژوند کوي او کیدلای شي په کال او دوکالو کې میړه یي د لیدلو له پاره ورشي.

باید پاملرنه وکړي چې ډیر هلکان او نجونې بیرته افغانستان ته استول شوی او لړۍ یي دوام لري. مانا داده چې د میړه / ماینې راوستل او په ځانګړی ډول اقامه تر لاسه کول اسانه چاره نه ده.

زما صمیمانه خواست (غوښتنې ) د والیدنو څخه په لاندې توګه بیانوم:

۱ ـ باید ډیره هڅه وشي چې پر اولادونو باور وشي او تر ټاکلي چوکاټ اولادونو (هلکانو / نجونو) ته ازادي ورکړل شي. د ژوند چاپیریال ورته تریخ نه کړل شي چې د بندیخانې شکل ولري.

۲ ـ تر ټولو ښه وسیله پوهاوي او زده کړې دي، اولادونه لوړو زده کړو ته وهڅول شي چې پایله یې له هره پلوه ډیره ګټوره ده.
۳ ـ د وهلو، ټکولو، ترشي تندې او غالمغال په بدل کې د اولادونو سره په دوامداره توګه خبري وشي، د افغاني کلتور ښې خواوې ورته بیان شي. خو مهمه دا ده چې د اولادونو غوښتنو ته هم په بشپړ زغم غوږ ونیول شي او د امکان تر سرحده په بشپړه خوښي تر سره شي نه دا چې د یوې لوی جګړې او غالمغال وروسته د اولادونو غوښتنو ته غاړ کښیښودل شي.

۴ ـ تر ډیره بریده هڅه وشي چې د اولادونو د زده کړو سره علاقه وښودل شي، د هلک او نجلۍ تر مینځ توپیر په بشپړه توګه له مینځه یووړل شي.

۴ ـ د اولادونو او والیدینو تر مینځ باید د باور او اعتماد چاپیریال رامینځته شي. باور او اعتماد د اولادونو د محبت احساس د والیدینو په مقابل کې ډیر زیاتوي چې اولادونه د خپلو والیدینو د درناوي په خاطرد ډیرو ناوړو کړونو څخه ژغورل کیږي.

۵ ـ وروستۍ ډیره مهمه مشور ده چې مور ته د اولادونو په روزنه او تربیه کې پراخه ونډه ورکړل شي. د مور او پلار

نظر د اولادونو سره د یوې پریکړې په تړاو باید په بشپړه توګه یو شان ته وي. کیدلای شي چې د اولادنو په نه شتون کې د اختلاف پرتکو خاوند او میرمن بحث سره وکړي. په یاد ولرئ د میرمنې سره محبت او درناوي ورته ښودل د اولادونو پر روزنه او راتلونکي ژوند باندې ډیره ښه اغیزه لري.

۶ ـ د زده کړو په جریان کې ځینې وړې ستونزې شته چې د والیدینو او ښځینه زده کړیالونه تر مینځ ستونزې زیږوي چې پایله یې د پیچلو ستونزو زیږنده کیدلای شي.

په اروپا کې د ابتدایي، منځنۍ او لوړو زده کړو په درسي نصاب کې سیر علمي هم شامله ده. زده کوونکي هلکان او نجونې د یوې اونۍ لپاره یو مرکز ته بیول کیږي چې د ژوند د چارو سره پرته د والیدینو اشنا شي. په نوموړي مرکز کې بیل، بیل پروګرامونه په نظر کې نیول شوي وي. زما د تجربو او لیدونو پر بنسټ بیان کوم: هر وخت چې د ښوونځي لخوا والیدینو ته د ورته درسي سفر خبر ورکړل شي نو د اسلامي هیوادونو والیدین د افغانانو په ګډون د نجونو د سفر سره مخالفت کوي. مختلفې پلمې جوړه وي او حتا د سفر تر سهار پورې هوکې وایي خو وروسته ناڅاپه ښوونځي ته خبر ورکړي چې زده کونکې ناروغه (درواغ) ده. باید دا ټکي په نظر کې ونیول شي چې دا ډول سفرونه د درسونو سره په نیغه اړیکې لري، کله چې زده کوونکي د سفر څخه را وګرځي تر یوې اونۍ پورې د نوموړي سفر په تړاو د پروژې په ډول ګروپي کار ورباندې کوي. هغه ماشوم چې سفر ته تللي نه

وي، د سفر او په وروسته اونيو کې ځان يوازې احساسوي چې پر راتلونکي تربيه باندې ډيره ناوړه اغيزه ښندي.

۷ ـ د ليسې او پوهنتون په دوران کې ورته سفرونه شته خو د ليسې او لوړو زده کړو په جريان يوه بله ستونزه ور اضافه کيږي.

معمولاً يو ځل په مياشت کې د زده کوونکو او محصلينو لخوا د ماښام لخوا د خوښي جشن نيول کيږي چې دا ډول جشنونونو ته بيا هم د ښځينه زده کوونکو او محصلينو د ورتګ اجازه نه وي. دلته زده کوونکې او يا محصله د ټولنيز ګډ ژوند څخه بې برخې کيږي او په خپل ټولګي کې ملګرې د لاسه ورکوي يانې په ټوليزه توګه يوازې پاتې کيږي.

دا چې زه هم لونې لرم او يوې لور مې د طب پوهنځي ولوستل که څه هم ما ټولو سفرونو او جشنونو ته اجازه ورکول خو بيا هم د پوهنتون په دوران کې ډير کلونه دومره يوازې وه چې حتا د مړو جسدونو د تسليخ او څيړنې لپاره يوازې تلخونې (زيرخانې) ته کښته کيدل. ماته به يې شکايت وکړي چې پلاره زما د ژوند لويه برخه په پوهنتون کې تيريږي خو د غرمې ډوډې د خوړولو په وخت کې هم زما سره څوک نه کښيني. ما وکولای شواي چې د ډيرې انرژې په لګولو سره خپل لور ته روحيه ورکړم تر څو پوهنتون ته ادامه ورکړای شي.

تر ټولو بده لا داده چې د همدغې نجلۍ ورور ټولو سفرونو، جشنونو او حتا د ښځينه ملګرې د درلودلو اجازه تر لاسه کوي. نو تاسې يوه شيبه سوچ وکړي او ځان د دغې نجلۍ په

موقف کې ووېني چې څومره روحې ستونزه به ورته زیږېدلې وي.

والیدین دا سوچ نه کوي چې زما لور ټوله ورځ د کور څخه بهر په زده کړو بوخته ده که وغواړي ناجایزه عمل وکړي، هیڅوک یې مخه نیولې نه شي. باید په یاد ولرو چې ځوانان د والیدینو په باور او اعتماد باندې ډېر ویاړ کوي او هڅه یې دا وي چې د والیدینو باور له مینځه ولاړ نه شي. که د والیدینو بې باورۍ احساس کړي، د خپل ورور په پرتله توپیري چلند ور سره وشي نو طبعي ده چې د حسادت انساني غریزه یې پارېږي هغو کړونو ته مخه کوي چې د والیدینو د هیلو څخه یې ډېرې لیرې وي.

یوه ورځ د ښوونځي په دهلیز کې تیریدلم  د دریم ټولګۍ یوه افغاني نجلۍ په ژړا ناسته ده او نورو نجونو ته خپله ستونزه بیانوي، زه ورته غوږ شوم. نجلۍ شکایت کوي چې پلار یې سفر ته نه پرېږدي او غوښتنه ورڅخه کوي چې ښوونکي ته ووایه چې زه خپله نه غواړم که څه هم والیدین مې مخالفت نه کوي.

په بله ورځ د ښونځي امرې را ته وویل چې نوموړي پلار را وغواړه چې خبري ور سره کوم، ما یې علت ورڅخه وپوښتي، د همدغه سفر په تړاو یې راته وویل خو ما خپل د سترګو د لیدلي حال په اړوند څه ونه ویل. کله چې پلار ته مې ټلیفون وکړي، پرته له دې چې زه د ملاقات موخه ورته بیان کړم هغه په ډېر قهر ځواب راکړي چې دا زما اولاد دي بل چاته اجازه نه ورکوم چې په ژوند کې لاسوهنه وکړي. په هر صورت

غونډه وشوه او ما د ژباړن په توګه په غونډه کې ونډه درلوده. تر ډېرو خبرو وروسته د ښوونځي امرې ومنل چې دا ځل دې په استثنايي توګه ستا لور د پاته کېدلو اجازه ولري. دا چې موږ په يوه سيمه کې استوګنه کول نو د لارې په اوږدو کې پلار را ته وويل چې هغه خپله نه ځي، دوي يې په جبر استوي خو ما په غيري مستقيم ډول د سترګو ليدلي حال داسې ورته بيان کړي چې ګواکي نورې نجونې مې په دا ډول يو حالت کې ليدلي دي نو ښه دي چې اجازه ورکړي. وروسته چې خبر شوم زما خبرو ښه نتيجه ورکړي وه.

**۷ ـ په ښوونځي کې لامبو**

په اروپايي ښونځيو کې بله لويه ستونزه په منځنۍ ښوونځيو کې د لامبو وهلو مضمون دي چې د واليدينو لپاره په يوه سرخوږي بدل شوي دي. د افغاني واليدينو په ګډون د نورو اسلامي هيوادونو کډوالو نجونو ته اجازه نه ورکوي چې د هم ټولګيانو سره په يوه حوض کې ولامبي. لامبو يو درسي مضمون دي چې هر زده کوونکي د ښوونځي په دوران کې په داسې هيوادونو کې چې د سمندرونو په مينځ کې پراته دي، بايد لامبو زده کړي. په داسې حال کې چې په ځينو ښوونځيو کې چې بهرني مسلمانان زيات دي، د نجونو او هلکانو د لامبو وختونه يې بيل کړي دي خو بيا هم د واليدينو قناعت ځکه نه حاصليږي ځکه لونۍ يې د نورو نجونو تر مينځ ځانونه نه پريولي يانې تر لامبو وروسته غسل نه کوي.

بله د حل لار هم پیدا شوي ده چې داسې د لامبو جامې پیدا شوي دي چې ټول وجود یې پټ وي خو بیا هم د والیدینو ستونزې حل نه دي.

۸ ـ د عیسوي مضمون تدریس

په ټولو اروپایي هیوادونو کې د ښوونځیو یو مضمون عیسویت دي. د مسلمانانو د راضي کولو لپاره پر نوموړي مضمون د مذهبي مضمون د نوم اینښودلو لپاره د سیاستوالو تر مینځ بحثونه وشول. په هر صورت د نوموړي مضمون تدریس د عیسویت تدریس نه دي په ټولیزه توګه د همدغه مضمون په ساعتونو کې د ټولو مذهبونو په باب تشریح ورکول کیږي. دا چې زه ښوونکي یم څو ځله مې د بل ښوونکي سره یو ځای د عیسویت په تدریس کې ګډون کړي دي ځکه د زده کوونکو جلبول بل مذهب ته په ښوونځیو کې د قانون له مخې منع دي خو بیا هم دا ستونزه شته.

دا هغه عذرونه ول چې ما تاسو دوستانو ته وکړل، نه غواړم ستاسو د اولاد په تربیه کې لاسوهنه وکړم. که زما په غوښتنو کې تر چوکاټ بهر څه وي، بخښنه غواړم.

پورته معلوماتونه یوه وړه بیلګه وه چې د ډنمارک کوچنی هیواد په تړاو مې وړاندې کړل. باید ووایم چې په ټولو بډایو هیوادونو کې همدا ستونزې شته، اوس چې ۲۰۱۸ زکال دي د پخوا په پرتله په ستونزو کې کمښت نه احساس کیږي بلکې ستونزې د پرمختګ په حال کې دي. د ډیرو داسې پیښو سره مخامخ شوی یم چې والیدین د اولادونو د شکایت په پایله چې ګواکي وهل او ترټل یې کړي دي، زندان ته لویدلي دي. د

وهلو او ترټلو موضوع د وړو ماشومانو سره ډيرې ناوړه پايلې لري ځکه د شکايت په صورت کې دولت ماشوم د واليدينو څخه اخلي او بل ډنمارکي کورنۍ ته يې ورکوي چې پالنه يې وکړي.

د ماشومانو د وهلو موضوع په لوړه کچه د ښونځيو د ښوونکو له خوا چې شک وکړي، دولتي مقاماتو ته خبر ورکول کيږي. البته قانون حکم کوي که ښوونکي ډير لږ شکمن شي چې ماشوم وهل شوي دي، بايد اړوندو مقاماتو ته ليکلي خبر ورکړي تر څو هغوي يې موضوع وڅيړي. زما د کار په جريان کې مې يو شمير افغاني واليدين ليدلي چې ماشومان يې جبراً ورڅخه اخيستي دي. دا ستونزه په ټولو اسلامي کډوالو حتا د اروپايانو تر مينځ هم شتون لري.

بايد پام وکړو د اولادونو سره په مينه، محبت پرته د وهلو ژوند وکړو، کيدلای شي هره ستونزه د خبرو د لاري حل شي خو اړينه ده چې واليدين هم نوی کلتور ته څه انعطاف ومنئ.

جبري ودونه:

اوس چې ۲۰۱۸ زکال دي او په لويديزه اروپاه کې د کډوال منل ډير ستونزمن دي بيا هم د نورو اسلامي هيوادونو د کډوالو په ګډون افغاني واليدين هم جبري ودونو ته دوام ورکوي. جالبه دا ده چې همدغو واليدينو د کلونو په جريان کې د جبري ودونو ډيره ناوړه پايلې ازمويلي دي خو بيا هم په داسې حال کې چې د زوم او يا ناوې راوستل اروپاه ته ډير ګران کار دي. بايد اضافه کړم چې د پخوانيو وختونو په پرتله د جبري ودونو د طلاق کچه په افغاني کورنيو ډيره زياته شوي ده. د زوم يا

ناوي نه قبليدل او يا د راوستلو نه امکانات بله ستونزه ده چې يو شمير زومان او ناوې د يوازيوالي په ناوړه سرنوشت اخته دي. د افغانستان په ځينو سيمو کې د طلاق موضوع ډيره حساسه ده چې په اروپاه کې طلاق کيدلای شي په افغانستان کې د وژونو سبب شي.

په اروپاه کې د ميرمنو ځانګړې ستونزه

په لويديزه اروپاه کې د څو ښځو سره واده کول منع او د جزا وړ ګرځي. دا مهمه نه ده چې په اسلامي قوانينو کې څلور ښځې جايزې دي. که څوک په اروپا کې استوګنه کوي د همدغو هيوادونو د قانون په وړاندې مسوليت لري.

په خواشينۍ بايد ووايم چې يو شمير د اسلامي هيوادونو څخه راغلي کډوال د خپلو هيوادونو عادتونه هير کړي نه دي او هڅه کوي چې تر يوې ښځې زياتي نکاح کړي ميرمنې ولري. دا دود په لوړه کچه په سوماليانو او يوه اندازه په عربانو او هم افغانانو کې ليدل کيږي.

**د افغانانو تر يوې زياتې ميرمنې:**

په ډنمارک، سويډن، جرمني او يو شمير نورو هيوادونو کې د دوو يا زياتو ميرمنو درلودل تر سترګو کيږي. هغه کسان چې په هيواد کې تر يوې زياتې ميرمنې درلودي د پوهيدلو وړ ده چې دواړې ميرمنې په هره ممکنه لار اروپا ته راولي.

بدبختي دلته ده چې د يوې ميرمنې سره اروپا ته راشي، تر لږ مودې وروسته د دوهمې ميرمنې هوس وکړي. دا چې په قانون کې د دوو ښځو لپاره ځای نشته نو لومړي ميرمن د وژلو په تهديد اړ باسي چې په محکمه او يا اړونده اداره کې طلاق ته

غاړ کښېنږدي، خو په اسلامي ډول يې د ځان حلاله ماينه ګڼې. کله چې دا کار وکړي نو د دوهمې ميرمنې د راوستلو کار پيل کړي او د لومړی ميرمنې کور بيل کړي. يوه ميرمن يې په يوه کور او بله يې په بل کور کې اوسيږي. د شرم ځای دا دي چې لومړي ميرمنه او ډير اوقات ټوله کورنۍ يې د دولت د مرستې په پيسو ژوند تيره وي.

کله کله ډير د شرمه ډکه پيښې کيږي د بيلګې په توګه طلاقه شوی ميرمن يې اميد واره شي. دولت پوښتنه کوي چې پلار يې څوک دي؟ ښځه مجبوره ده چې پلار يې ورته ور وپيژني خو ميړه يې نه غواړي چې رسوايي ته را ووزي.

داسې مې اوريدلي چې ښځه د مجبوريت څخه دولتي مقاماتو ته وايي چې د شپې لخوا د نڅاه کلوپ ته تللي يمه او د يو نفر سره هم بستره شومه چې اوس يې نه پيژنم. فکر وکړي چې افغاني باعزته با عفته ميرمنې څه ډول کارونو ته اړ ايستل کيږي او د نارينوو غيرت يې نه پاريږي.

د افغانستان په ګاونډ هیوادونو کې د کډوالو ستونزې

په افغانستان کې څه د پاسه (۴۰) کاله کیږي چې جګړه جریان لري. د جګړو تندوالي د کال د څلورو موسمونو په ډول دي. کله ډیره توده او کله هم ولس ته د نفس کښلو چانس ور په برخه شي. یو وخت افغانستان په نړۍ کې لومړی هیواد و چې د کډوالو شمیره یې زیاته وه خو همدا شیبه هم دوهم مقام لري. هغه کډوال چې په لویدیزې اروپا او امریکا کې استوګنه کوي پرته له دي چې هیواد او خپل ولس څخه لیري دي نوري جدي اقتصادي ستونزې نه لري. ولې د کډوالو ډیره ستره شمیره چې په پاکستان او ایران کې اوسیږي د اقتصادي ستونزو سربیره په لویه کچه نورې ستونزې هم لري.

**په ایران کې د کډوالو شمیره او ستونزې**

د ازداي راډیو د ۲۰۱۸ زکال د معلوماتو له مخې په ایران کې یو نیم میلیون افغان کډوال ژوند کوي چې نومونه یې ثبت شوې دي؛ خو د ایران د کورنیو چارو د امنیت د برخې مرستیال حسین ذوالفقار وایي چې همدومره شمېر نور افغانان په ایران کې ژوند کوي او اسناد نه لري.

حسین ذوالفقار ایسنا اژانس ته زیاته کړه چې هره ورځ نژدې یو نیم زر افغانان غیر قانوني ایران ته داخلیږي.

دوالفقار وویل، د دې سربیره چې په افغانستان کې کورنۍ جګړه اوس نه شته؛ خو بیا هم د افغان مهاجرو له ستونزو سره ایران مخامخ دی.

ذوالفقار وایي چې درې لکه شپیته زره افغانان په ایران کې قانوني کار کوي.

ذوالفقار دا مني چې یو شمیر افغانان یې په تېرو دولسو میاشتوکې بېرته له خپلې خاورې ایستلي دي؛ دی وایي چې نژدې پنځه لکه افغانان مو افغانسان ته په تیر یو کال کې لیږلي دي؛ خو تقریباً همدومره کسان بېرته ایران ته په غیرقانوني لارو راغلي دي.

په ۲۰۱۸ ز کال کې د کډوالو د وزارت د معلوماتو له مخې په ایران کې دوه میلیونه کډوال ژوند کوي خو یو میلیون څلور سوه زره کډوال اسناد نه لري.

په ایران کې د کډوالو ستونزې تر دي کچې رسیدلي چې ایراني اخندي حکومت یي په سوریه او عراق کې جګړو ته لیږي. د ایرانیانو هڅه دا ده چې افغاني کډوال تر مذهبي اغیزو لاندې راولي ځکه ډیري یي شیعه مذهبه افغانان دي. په ډیري اسانۍ سره د یوه او یا بل ایت الله تر اغیزې لاندې راځي په داسې حال کې چې ایراني مقامات په ډیره سپین سترګي سره د ځینو پارکونو پرمخ لوحي لیکلي چې افغانان یي د ورتګ اجازه نه لري.

غواړم د هغو کډووالو افغانانو په تړاو چې د ایران لخوا جګړې ته لیږول کیږي د نړیوالو رسنیو په حواله څه لاسوندونه وړاندې کړم:

د بی بی سی د ۲۰۱۷ زکال رپوټ یوه برخه ولولئ:

«نیویارک ټایمز ورځپاڼې یوه لیکنه خپره کړې چې سرلیک یې دی«ایران څنګه افغان کډوال د بشارالاسد په پلوی جګړې ته استخداموي؟

نیویارک ټایمز زیاتوي، ایران په ۲۰۱۴ میلادي کال کې د فاطمیانو لېوا رامنځ ته کړه چې په اصل کې د شیعه افغان مهاجرو څخه جوړه شوې لیوا ده او د ایران سپاه پاسداران او د حزب‌الله د نظامیانو لخوا روزنه ورکول کیږي.

په لیکنه کې د بامیانو د فولادي درې د یو ۱۹ کلن افغان عبدالامین یادونه شوې چې څنګه له بې وزلۍ ایران ته په کار پسې ولاړ او له هغه ځایه یې څخه د سوریې جګړې ته ورسېد؟

امین وایي، په سوریه کې یې په بېلابېلو سیمو کې په جګړو کې برخه لرله. د ده په وینا په هره جګړه کې افغانان د لومړۍ کرښې د جنګیالیو په توګه کارېدل.

د ورځپاڼې په وینا، په سوریه کې افغانان په دمشق، لاذقیه، حما، دیارالزور، حمص، حلب او پالمیرا کې د اسد د ځواکونو په پلوۍ جنګیدلي.

ځیني اټکلونه وایي، په دې جګړه کې د شپږ سوه په شا او خوا کې افغانان وژل شوي.

امین نیویارک ټایمز ته ویلي، د ګڼو افغانانو مړي یې د جګړې په ډګر کې کتلي او لږ تر لږه (۱۵) افغان ملګري یې په سوریه کې وژل شوي.

امین چې د حلب په جګړه کې له ټپي کېدو وروسته بېرته ایران ته ستون شو، له هغه ځایه اوس خپل پلرني ټاټوبي بامیان ته تللی، خو وایي، که دلته یې ګوزاره ونه شي بیرته ایران ته ځي او دا ځل ځکه له ایرانه د شړلو ویره نه لري چې د دې هېواد لس کلن اقامت ورکړل شوی دی.»

بی بی سی د ۲۰۱۸ زکال په یو رپوټ کې لیکي:

«د افغانانو د هغه پوځي ټولګي خپلې برسېره کړې شمېرې چې د ایران په لاربښوونه په سوریه کې جنګېږي، ښیي چې تر اوسه یې دوه زره غړي وژل شوي او زرګونه نور ټپیان دي.

د فرانسې خبري اژانس اې ایف پي رپوټ کې د ایراني رسنیو په حواله ویل شوي، چې د سوریې جګړه کې د دوه زره وژل شویو افغانانو تر څنګ اته زره نور افغانان ټپیان شوي هم دي.»

اټکل کیږي چې د سوریې په جګړه کې څه د پاسه شل زره افغاني جنګیالي ګډون لري. داسې هم ویل کیږي چې ایراني اخندان افغاني ماشومان هم د جګړو لپاره تر روزنې لاندې نیولي دي. هغه افغانان چې قانوني اسناد نه لري د تقریباً (۵۰۰ ـ ۸۰۰) ډالرو میاشتنی معاش او د راګرځیدو په وخت کې د اوږدې مدې د ویزې په ورکولو افغانان جګړو ته تشویقوي.

هغه کډوال که ښځې او ماشومان هم وي چې د دوي په فرمان نه وي په جبر يې د ايران څخه باسي. په کمپونو کې هم د ناوړه حالت سره مخامخ دي. د پوليسو لخوا ډير ناوړه چلند ور سره کيږي پرته له دې چې دافغانستان د حکومت ږغ واوري، پر افغانانو د اعدام جزا تطبيقوي. په زرګونو افغانان د ايران په جيلو کې په ډيرو ستونزو شپې سبا کوي.

دا چې ايران د مخدره توکو په استعمال کې د پخوا څخه شهرت لري نو ډير کډوال افغانان په دغه مرګوني نشه اخته شوي دي.

**په پاکستان کې د کډوالو شميره او ستونزې**

په پاکستان کې هم کډوال د ډول ډول ستونزو سره لاس او ګريوان دي خو په ايران کې د افغاني کډوالو سره د ستونزو توپيرونه په څرګند ډول ليدل کيږي. کله چې شوروي ماته وخوړه، امريکايان او پاکستان خپلو موخو ته ورسيدل نو د افغاني کډوالو ارزښت هم را لږ شوو، ځکه په ځانګړي توګه پاکستان د نورو ګټو په سوچ کې شو چې په مختلفو بڼو د افغانستان په چارو کې لاسوهنه وکړي. د دوي هڅه دا وه چې افغانستان د دوي تر بشپړي ولکي لاندې هيواد شي، البته چې د پاکستان دغه هيله د امريکا لخوا منلي شوی وه. د خواشينۍ ځای دا دي چې د نړيوالو پراخو مالي مرستو په منځ افغان حکومتونو و نه کولای شوای چې افغاني کډوالو ته داسې يو چاپيريال رامينځته کړي چې خپل په خوښه د کډوالی بدبخته ستونزمن ژوند پريږدي او د خپل هيواد غيږي ته راشي. په ميلياردونو ډالرونه هيواد ته راغلل، په رسنيو کې مو

ډیر اروېدل چې د کډوالو له پاره نړیوالو داسې پلانونه جوړ کړي دي چې د کار او استوګنې امکانات په واک کې ورکړل شي. سره د پورته امکاناتو افغان چارواکي بریالي نه شول چې د کډوالو ستونزې په بشپړه توګه حل کړي. علتونه یې څرګند دي خو اساسي علت یې بیساري فساد دي.

**د کډوالو اوسنۍ ستونزې او د حل لاري لټون**

په ایران کې د کډوالو ستونزې د پخوا په څیر دوام لري خو په پاکستان کې د تورخم تر پیښې وروسته حالاتو ډیر بدلون موندلی دي.

د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمشنري وایي:« په پاکستان کې مېشت افغان کډوال ترهګر نه دي. دغه څرګندونې د ملګرو ملتونو دکډوالو د عالي کمشنرۍ مشر فلیپو ګرانډي د پاکستان په پېښور ښار کې د افغان کډوالو د راستنېدلو له مرکز څخه دلیدنې پر مهال کړې دي.»

د همدی پاڼې په انګریزي برخه کې تر[21] سرلیک لاندې د ملل متحد د کډوالو د عالي کمیشنری لخوا مقاله خپره شوی ده چې په ځینو برخو کې داسې لولو: « تر اوس پورې هم یو نیم میلیون راجستر شوی کډوال په پاکستان کې اوسیږي. موږ توانیدلي یوو چې یوازې (۶۰۰۰۰) کډوالو ته زمینه برابره کړو چې خپل هیواد ته ستون شي. هر کډوال ته (۲۰۰) ډالره ورکول کیږي چې په افغانستان کې خپل ژوند پیل کړي.» په داسې حال کې چې د پورته رپوټ له مخې یو نیم میلیون

---

[21] - After decades in Pakistan, more Afghan refugees set to return

راجستر شوي کډوال او د ځينو سرچينو د اټکل له مخې يو ميليون غيري راجستر شوي کډوال هم په پاکستان کې ميشت دي خو د ملل متحد اداره يوازې د (۶۰۰۰۰) کډوالو په استولو بريالي شوی ده نو څنګه کيدای شي چې د پاکستان حکومت د کډوالو د وتلو وروستۍ نيټه د روان کال د جون (۳۰) نيټه ټاکلي ده؟

د بل لورې د ملل متحد يوازې (۲۰۰) ډالره د نوي ژوند د پيل له پاره ورکوي چې اداره اعتراف هم کوي چې دا پيسي ډيري لږ دي. ايا په (۲۰۰) ډالره په افغانستان کې د اوسيدلو ځای، د خوړولو مواد، د اوسيدلو د پاره د کور اړين توکي او نور د برابرولو امکان لري؟ هيڅکله نه. په داسې حال کې چې د کار او روزګار پيداکولو راتلونکي هم تاريکه ده.

د رسنيو په حواله پاکستان په دوو اونيو کې (۱۲۰۰) افغان کډوال بنديان کړي دي چې په غيري انساني توګه يي کړوي. دا يوازې د دوو اونيو رسمي شميره ده. په شخصي توګه په پاکستان کې د کډوالو کورنيو د معلوماتو له مخې د هر افغان کورته پوليس ورځي، تر پوښتنو او ګرويږونو لاندې نيسي په ډيرو حالاتو کې اسنادو ته اصلاً ارزښت نه ورکوي. د بډو اخيستلو سربيره کورنيو ته په مختلفو بڼو ازار ورکوي. په نړيواله کچه د پاکستان دوه مخي سياست د ترهګرو سره د مرستو په تړاو رسوا شوی دي نو ځکه غواړي چې د ترهګرو د روزنې او عملياتو سره مرسته د افغانستان پر غاړه واچوي. کله چې په پاکستان کې دوه کاله مخکې د پېښور پر يوه ښوونځي ډله ييز بريد وشو چې په ترڅ کې يې تر ۳۰۰ زياتو

زده کوونکو ته مرګ ژوبله واښته نو يي غوغا پيل کړه چې دا کار د افغانستان دي. په داسې حال کې چې د ملل متحد د کډوالو د ادرې عالي کميشنري پورته بيان کوي چې افغان کډوال ترهګر نه دي. نړۍ ته هم څرګنده ده چې پاکستان خپلي نادودي د نورو پر اوږو وربارووي.

د ۲۰۱۸ زکال د سپتمبر په مياشت د پاکستان نوی صدراعظم عمران خان د کراچي ښار په يوه غونډه کې وويل چې هغو بنګاليانو او افغانانو ته بايد د پاکستان تابعيت ورکړل شي چې ډير کلونه يې په پاکستان کې استوګنه کړی ده. د عمران خان اعلان د افغانانو د ډول ډول غبرګونونو سره مخ شو. ځينې افغانان په همدغه اعلان غوصه دي، ځکه تر اټک پورې دا سيمه د افغانستان خاوره ګڼي او د افغانستان په خاوره کې افغانانو ته تابعيت ورکول سپکاوي ګڼي، خو کډوال چې په پاکستان کې د ډول ډول ستونزو سره لاس او ګريوان دې، د عمران خان څرګندونو ته خوښ ښکاري.

پاکستان د کلونو په اوږدو کې د امريکا په مرسته پر کوزه پښتنخوا په ځانګړې توګه د وزيرستان پر بې وزلو پښتنو بمونه غورځول، کورونه يې په کنډواله ور بدل کړل او په زرګونو ځوانان يې ژوندې تري تم شول. د منظور پښتون د جنبش په راټوکيدلو سره څرګنده شوه چې د پاکستان پوځيانو په اګاهانه توګه بنسټپال په وزيرستان کې ځای پر ځای کړي او روزنه يې ورکول. د امريکا د فشار په ځواب کې به يې پر عادي وګړو بموري پيل کړي په داسې حال کې چې ترهګر به يې مصونو ځايونو ته انتقالول. منظور پښتون په ډاګه د (۸۰۰۰)

ځوانانو د تري تم کيدلو پوښتنه او ګروېږنه د پاکستان د څارګرې ادارې څخه کوي نو ځکه د دغه جنبش سره په لکونو ولسونه مل شوی دي.

د هيواد په دننه کې هم د جګړو په وجه ډير افغانان د خپلو کورونو څخه بی ځايه شوی او دا لړی دوام لري. د ستونزې حل ساده او اسانه چاره نه ده. د افغانستان حکومت ته په کار ده چې د کډوالو ستونزې ډيرې جدي ونيسي او د کارونو په لومړي لست کې ځای ورکړي. د نړيوالو اړوندو ادارو په مرسته د ستونزو د حل له پاره لستونې راونغاړي. د هيواد په دننه کې د موجودو امکاناتو څخه په لوړه کچه ګټه واخيستل شي او کډوالو ته د حداقل ابتدايي ژوند امکانات ولټوي. د افغانستان هغه واکمنان چې د همدغو افغانانو د وينو په بيه ميليونران شول او د نړی په کچه هوسا ژوند لري، که لږ يي وجدان بيدار وي د خپلو شتمنيو يوه وړه برخه دي د خپلو کډوالو ورونو د حداقل ژوند له پاره پانګونه وکړي. هيله ده چې حکومت د چوکيو د ويش پر ځای زموږ کډوال هيوادوال د پاکستان او ايران د ظالمانه کړونو څخه خلاص کړي.

**په اسلامي نړۍ کې د کډوالو د ناورين څخه ډک ژوند**

د لويديزو د جګړه ايزه ماشين د فعال ساتلو په موخه د دريمې نړۍ خلک په ځانګړی توګه مسلمانان د سونګ د توکو په ډول کاريږي. که خپل چاپيريال ته وګورو، په ډيرو اسلامي هيوادونو کې د لويديزو هيوادونو چې امريکا يي مشري کوي په پراخه لاسوهنه هر لورې انسان وژنه، ورانې او خونړې جګړې مخ پر ډيريدو دي. غواړم د لويديزو هيوادونو موقف د

کډوالو د ترینګلي حالت په تړاو د ډنمارکي ورځپاڼې پولیټکن[22] څخه وژباړم:

ملل متحد او د اروپا ګډ بازار،اروپایي هیوادونو ته د ډیرو کډوالو د راتللو خبرداري ورکوي

د ملل متحد د کډوالو اداره وايي چې د بیړیو په واسطه د کډوالو راتلل ایټالیا ته، لوړې کچې ته رسیږي نو اړینه ده چې اروپایي هیوادونه د ستونزې د حل له پاره د ملل متحد سره ګډ کار وکړي.

د ۲۰۱۴ زکال د اګست د میاشتي وروستیو رخصتیو ورځو کې د ایټالیا یوې بیړۍ (۱۹) مړه جسدونه او (۱۴۰۰) ژوندي کسان د سمندر څخه راټول کړل. داسې اټکل کیږي چې دغه کډوال د لیبیا د سواحلو څخه د یوې ډوبې شوي کښتي پاتې شونې دي او ګومان کیږي چې په سلګونو کسان به مړه وي. تر دې پیښې مخکې موږ او تاسو د دغه ډول تراژیدیو شاهدان یوو او دغه لړۍ دوام لري.

د ملل متحد د کډوالو د عالي کمیشنرۍ د ادارې ویاند وايي چې حالت ورځ تر بلې ترینګلي کیږي، اروپایي هیوادونه اړ دي چې سترګې خلاصي او ستونزې ووینې.

همدا ډول نوموړی وايي چې تر اوسه پورې ۲۰۱۴ زکال تیر شوی نه دي خو د کډوالو شمیره تر وړاندوینې ډیره زیاتیږي او ژوند ته یې ګواښونه شته. یوازې ایټالیا ته د سمندر د لارې تر

[22] - Politiken d.25.8.2014

اوس پورې (۹۷۸۰۰) کډوال رارسيدلي دي. تيرکال د شمالي افريقا څخه د عربي پسرلي په وجه د سمندر د لارې (۶۲۰۰۰) کډوال ايټاليا ته راغلي وو.

په همدغه ډول ډوب شوي کډوال د سږکال تر همدا شيبې پورې (۱۵۰۰) کسان دي چې تير کال دا شميره يوازې (۶۰۰) تنه وه. دا هغه کډوال دي چې قاچاقبران يي د ډيرو پيسو په بدل کې په زړو کښتيو کې اچوي تر څو اروپا ته راورسيږي خو ډيري يي ژوند د لاسه ورکوي.

تير کال يوه لويه تراژيدې پيښه شوه چې په يوه ځل (۳۵۰) تنه کډوال په سمندر کې ډوب شول. په هغه وخت کې د ګډبازار هيوادونو وعده وکړه چې د کډوالو د ځار، نجات او د پناه ورکولو له پاره به ځانګړي تدابير ونيسي. د ملل متحد د کډوالو د عالي کميشنري اداره وايي: سره د دي چې د ايټاليا له لوري په ملي کچه ډيرې هڅې وشوي خو نورو اروپايي هيوادونو خپلې وعدې پوره نه کړي. په دغه وجه موږ د ټولو اروپايي هيوادونو څخه غوښتنه کوو چې په ګډه د کډوالو په بحران کې مسوليتونه ومني او لازمې پريکړې وکړي. ډير کډوال په سمندر کې ډوبيږي او مري، د سوريې جګړه، حالات د کډوالو له پاره ورځ تر بلې ستونزمن کوي. نوموړی علاوه کوي چې اوس همدا شيبه بايد هڅې ګړندي شي چې د ډيرو انسانانو ژوند ته نجات ورکړو، دوهم قدم به دا وي چې اروپايي هيوادونه د کډوالو د قبلولو له پاره يو درست سيستم رامينځته کړي. موږ د ټولو اروپايي هيوادونو څخه غوښتنه کوو چې د کډوالو په تړاو په نړيواله کچه ګډ کار سره وکړي، موخه يوازې د ډوب شوو

کډوالو ستونزې نه دي، نورې ستونزې هم شته چې باید دقیقه پاملرنه ورته وشي.

د جولای په میاشت کې ایټالیا د ګډ بازار مشرتابه پر غاړه واخیست نو ځکه ډیر فشار یې راوړي چې د شمالي اروپا هیوادونه نه یوازې د کډوالو په منلو کې مرسته وکړي باید د نجات په پروسه کې هم مرستې ونه سپموي او سرحدي ادارې ته کافي نقدې مرستې ورکړي.

د ګډبازار راتلونکي کمینشر، جان جونکر [23] هم د شمالي اروپا د هیوادونو څخه د همکاري او سولډاریټي غوښتنه کوي. د هغه په نظر د فرونټیکس [24] اوسنۍ بودجه (۶۰۰) ملیونه کرونه د دندې په پرتله ډیرې لږ پیسې دي چې په سمندر کې د کډوالو د ډوبیدلو د خطر مخه ونیسي. د امریکا د ایمیګریشن انستیتوت اروپایانو ته خبرداري ورکوي چې دوي نه یوازې د سوریې د کډوالو په تړاو مرستې تنظیم کړي باید نور کډوال هم هیر نه کړي. یو اروپایي مشر وایي چې په میلیونو د سوریې کډوال په ګاونډیو هیوادونو کې ناست دي، د دغو انسانانو د سرنوشت په تړاو څه باید وشي؟ باید اروپایان په ګډه مرسته وکړي. نوموړي وایې چې ستونزه یوازې دا نه ده چې د ایټالیا او د جنوبي اروپا د نورو هیوادونو سره د کډوالو د نجات په تړاو مرسته وشي. خبره دا ده چې د کډوالۍ یو درست سیستم رامینځته شي تر څو اړ کسان د قانوني لارو څخه اروپا ته راشي. په واقعیت کې د دغومره ډیرو کډوالو د اوسیدلو له پاره

---

[23] - Jean-Claude Junker

[24] - Frontex

په اروپا کې ځای نه شته، نو ځکه باید د استوګنې ځایونه جوړ شي.
د ګډ کډوالۍ سیستم په خاطر ایټالیا، یونان، مالتا او د جنوبي اروپا نورو هیوادونو په ګډه په ۲۰۱۱ زکال یو دفتر د ایسو [25] پرانیستۍ. نوموړي دفتر د روان کال د جولای په میاشت کې یو رپوټ خپور کړ چې د انسان پر وجود لړزه راولي. په رپوټ کې راغلي دي چې تیر کال د ګډ بازار په هیوادونو کې (۴۳۵۰۰۰) انسانانو د پناه اخیستلو غوښتنه کړي وه. دا شمیره څرګندوي چې د ۲۰۱۲ زکال په پرتله د کډوالو د پناه غوښتلو کچه په ۲۰۱۳ زکال کې (۳۰) سلنه زیاته شوي ده.

د (ایسو) ویاند وایي چې د کډوالو لویه برخه د سوریې څخه ده خو د روسیې او لویدیز بالکان څخه هم راغلي دي. د سوریې کډوال په ۲۰۱۳ زکال کې ۵۰۰۰۰ تنه وه چې د ۲۰۱۲ زکال په پرتله دوه برابره وه. موږ وړاندوینه کولای نه شو چې د روان کال تر پایه به څومره کډوال راشي خو د سږکال په لومړیو میاشتو کې د تیر کال د همدغه وخت په پرتله (۱۹) سلنه زیات والي راغلي دي.

د ډنمارک په همهغه ورځپاڼه پولیټکن کې تبصره شوي، پاملرنه وکړئ لنډیز ته یې:

د ګډ بازار مشرتوب اوس د سویډن پر غاړه دي. هغوي وایي چې ډنمارک باید هغه کډوال چې په کمپونو (پنډ غالو) کې د نړۍ په ګوټ ګوټ کې پراته دي، د ملل متحد په مرسته په یو

---

[25] - Easo

څه زیاده کچه په قانوني ډول پناه ورکړل شي. د سویډن مشرتابه دا څرګنده کړه چې ټول اروپایي هیوادونه د کډوالو په اخیستلو کې مرسته نه کوي. سویډن ته د سږکال په جریان کې (۸۰۰۰۰) کسان راغلي دي.

ډنمارک په کال کې یوازې (۵۰۰) کډوال په بهر کې د پنډغالو څخه په قانوني توګه په ډنمارک کې مني. هیله ده چې دا کچه دوه برابره شي خو ډنمارک ډیر دلایل وړاندې کوي چې موږ نور ظرفیت نه لرو. دوهم هیواد المان دي چې د کاله (۲۰۰۰۰)کډوال په بهر کې د پنډغالو څخه مني.

په پای کې د کډوالو شمیره جوته کیږي:

- تر اوس پورې ۱۵۰۰ تنه کډوال په سمندر کې ډوب شوي دي.
- په ۲۰۱۴ ز کال کې ۱۰۹۰۰۰ تنه کډوال ایټالیا، یونان، هسپانیا او مالټا ته را رسیدلي دي.

- په همدې کال کې د پورته شمیرې څخه ۹۷۸۰۰ کډوال ایټالیا ته راغلي چې ۱۴۰۰۰ یي ماشومان دي. د دغو ماشومانو څخه یي (۸۰۰۰) تنه یي پرته د یو سرپرست څخه دي.
- د کال په لومړیو شپږو میاشتو کې ۱۱۳۰۰ تنه کډوال یونان، مالټا او هسپانیا ته راغلي دي.

- د جولای پر (۱۹) او (۲۰) نیټو (۸۰۰۰) تنه کډوال په ایټالیا او مالټا کې د مقاماتو له خوا را غونډ شول.
- د ملل متحد د کډوالو د ادارې د راپور له مخې د سوریې

مجموعي کډوال (۲۹۴۴۶۷۷) تنه اټکل شوي دي کوم چې د سوریې څخه وتلي دي.

ـ د سوریې په دننه کې د ۶۵۰۰۰۰۰ کډوالو څخه (۴،۲۵) میلیونه بیړنیو مرستو ته اړتیا لري.

**د کډوالو د نړۍ والې ورځي په ویاړ د بی بی سی رپوټ**
۲۰۱۸/۶/۱۹ زکال

په ۲۰۱۷ زکال کې ۶۸ میلیون خلک په زور بې ځایه شوي

د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو سازمان[26] وایي، په تېر ۲۰۱۷ کال کې په نړیواله کچه په زور د بې ځایه شویو کډوالو شمېر تر ۶۸ میلیون اوښتی و، چې دوه پر درې برخه یې د سوریې، افغانستان، جنوبي سودان، میانمار او سومالیا وو.

دغې ادارې په یوه تازه رپوټ کې د کډوالو د نړیوال کړکېچ اصلي لاملونه وسله والې نښتې او د ځورونې او تاوتریخوالي بېلابېل ډولونه بللي دي.

د رپوټ له مخې، په تېر ۲۰۱۷ کال کې ۶۸,۵ میلیون وګړي خپلو کورونو پرېښودو ته اړ ایستل شو، چې ۱۶,۲ میلیونه په یاد کال کې یو یا دوه ځلې بې ځایه شوي دي.

د دغه رپوټ موندنې ښیي، هره ورځ کابو ۴۴۵۰۰ کډوال یا په هره ثانیه کې دوه کسان بې ځایه شوي.

---

26 /UNHCR

په رپوټ کې راغلي، له څه باندې ۶۸ میلیون بې ځایه شویو وګړو څخه ۲۵,۴ میلیونه یې د شخړو، ځورونې او د ښکېلو ډلو د جګړو له کبله بې ځایه شوي.

د ملګرو ملتونو د کډوالو چارو اداري مشر فلیپو ګرانډي وویل: «موږ له یوه لوی کړکېچ سره مخامخ یو. نن چې د بې ځایه شویو نړیواله ورځ ده، غړو هېوادونو ته مې پیغام دا دی چې زموږ له طرحې ملاتړ وکړي؛ ځکه چې هېڅوک هم پخپله خوښه نه کډوال کېږي، خو موږ ټول دا غوراوی لرو چې له دوی سره همکاري وکړو..»

د جون ۲۰مه هر کال د پناه اخیستونکو د نړیوالې ورځې په توګه لمانځل کېږي.

«افغان حکومت له ترکیې غوښتي کډوال ور ستانه نه کړي»

ترکیه: ۳ میاشتو کې ۳۰ زره افغان کډوال راغلي.

په رپوټ کې ترکیه له ۳,۵ میلیون کډوالو ته د سرپناه په ورکولو سره، په نړیواله کچه د نورو هېوادونو پرتله لوی کوربه هېواد یاد شوی، چې ډېری کډوال له ناامنه ګاونډۍ سوریې ورغلي دي.

په ورته وخت کې، د افغانستان د کډوالو چارو وزارت وایي اروپایي هېوادونو ته د افغان کډوالو په تګ کې پام وړ کموالی راغلی دی.

د کډوالو چارو وزارت ویاند حفیظ الله میاخیل وایي د افغان حکومت یو لړ پروګرامونو او په اروپایي هېوادونو کې د کډوالو د منلو شرایطو سختېدو بهر ته د افغان ځوانانو د کډوالۍ د کمېدو اصلي لاملونه دي.

نن په افغانستان کې هم د کډوالۍ نړیواله ورځ لمانځل کېږي.

سوریه، افغانستان، سوېلي سودان، برما او سومالیا هغه هېوادونه دي چې په تېر زېږند کال کې د کډوالو شوو شاوخوا ۶۹ میلیونه وګړو اویا سلنه برخه جوړوي. افغانستان چې شپږ میلیونه وګړي چې د دغه شمېر پنځلس سلنه جوړوي په نړۍ کې کډوال دي په دویم کتار کې دی.

د ملګرو متلونو د کډوالو اداري تازه راپور ښیي چې د نړۍ له هرو ۱۱۳ کسانو یو په نړۍ کې کډوال دی. افغانستان د خپلو ګاونډیانو او سیمې پر تله ډېر کډوال لري. د افغانستان د کډوالو چارو وزیر سید حسین عالمي بلخي وایي افغانستان په کابو اویا هېوادونو کې کډوال لري.

په ورته وخت کې په تېره یوه نیمه لسیزه کې له پنځو میلیونو ډېر افغان کډوال بېرته خپل هېواد ته هم راستانه شوي او لا هم په تېره بیا له ایران او پاکستانه د بېرته ستنېدو په حال کې دي. بېرته ستانه شوي وګړي د افغانستان د ټول نفوس کابو شل سلنه برخه جوړوي.

تدامیچي: «له ۲۰۰۲ کال راهیسې پنځه نیم میلیونه کډوال افغانستانه ته ستانه شوي.»

(ل: د کډوالو د بیرته ستنیدو پورته شمیره مبالغه راته ښکاري.)

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د سرمنشي استازی تاداميچي یاماموتو وایي د خپلو وګړو په عزت بېرته ستنول باید د دولت یو لومړیتوب وي: خو د هغو کسانو پر وړاندې چې د افغانستان په ګډون خپلو هېوادونو ته بېرته ستنیږي ګڼې ننګونې شته. دا ننګونې د پخوا پرتله ډېرې شوې هم دي.

په ۲۰۱۴ کال کې له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو له وتلو او د نوي حکومت له واک ته رسېدو سره سم له افغانستان څخه کډوالي خپل اوج ته ورسېده او په شاوخوا یوه نیم کال کې دوه سوه زره کسانو د ګڼو خطرونو له منلو سره سره د اروپا په لور له قاچاقبرو سره د تګ یون وکړ.

(ل:نن د جون پر ۱۹ نیټه په ګڼو خبري سرویسونو کې اعلان شول چې په ۲۰۱۷ زکال کې (۱۲۴۰۰۰) کډوال اروپا ته راغلي دي.)

په کابل کې د کډوالۍ د نړیوالې ورځې په مناسبت د حکومت د اجرایي مشر د کاري دفتر په ودانۍ کې په جوړ شوي نندارتون کې د افغان کډوالو عکسونه هم ننداري ته ایښودل شوي چې پکې راستنو شوو وګړو ته د کورونو د بیارغونې او مسلکونو د زدکړې د کارځایونو عکسونه تر نورو ډېر تر سترګو کیږي.

په آسیا کې د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ مشر د افغان کډوالو د تدریجي او خوندي خپل

خوښې بيا ستنېدنې پر موضوع د ټينګار ترڅنګ په جنوا کې په را روانه نومبر مياشت کې د يوې ناستې د جوړېدو خبر هم ورکړی .

**په لويديزه اروپاه او يا ګډ بازار کې د کډوالو مجموعي شمير**

د اروپا د ستاتيستيک څخه څرګنديږي چې په ۲۰۱۶ زکال د ګډ بازار (لويديزې اروپاه) ته په مجموعې توګه (۱،۲) ميليونه کډوال راغلي دي په داسې حال کې چې دا شميره په ۲۰۱۷ زکال کې نيمايي شوي ده. يانې د ۲۰۱۷ زکال مجموعي شمير (۶۴۹۰۰۰) تنه ده. چې له دې شميرې څخه زيات کډوال په ترتيب سره جرمني (۱۹۸۲۵۵) تنه، ايټاليا ته (۱۲۶۵۵۰) تنه، فرانسې ته (۹۱۰۷۰) تنه او يونان ته رسيدلي دي.

د کډوالو اړوندو نړيوالو رسنيو راپور ورکړي دي چې يوازې په ۲۰۱۷ زکال (۳۲۰۰۰) کډوال په سمندر کې ډوب شوي دي چې په طبعي ډول په دغو کډوالو کې افغان کډوال هم شامل وو.

نوټ: پوښتنه دا ده چې ولې اروپايي مشران او امريکايان دومره زړه سوي لري چې هم مو وژنې او هم راته د استوګنې ځايونه لټوي.

که وکتل شي په ميليونونه انسان د لويديزو او امريکايانو د جنګي ماشين خوراک شوی او يا په دښتونو او بيبانونو کې د خپلو ماشومانو سره د لوږې او تندې څخه د زکندن شيبې شماري.

که د افغانستان اوږده جګړه تر نظره تيره کړو، په ميليونونو افغانان ووژل شوه او يا کډوالی ته اړ شول چې له دغې لويې

کتلې ځخه په زرګونو روزل شوي کدرونه هم ووژل شول، کډوال شول او یا د ژوند د نورو سلګونو ستونزو سره لاس او ګریوان دي. هغه محدود کسان چې اروپایي (جنت!!!) ته رارسیدلي دي، د بیکاري، جلا وطنې، د خپل مورنې هیواد د تودې غیږې ځخه لیرې په روحي ناروغیو اخته شپي او ورځي تیروي.

لندې کیسه مې را په زړه شوه: د سپټمبر د (۱۱) نیټې په تړاو د افغانانو او ډنمارکیانو په ګډه غونډه کې مې ژباړنه کول. د غونډې په پیل کې مو یو بل ته ځانونه ورپیژندل. کله چې افغانانو ځانونه معرفي کړل د تالار لویه برخه ډاکټران، انجنیران، ښوونکي، حقوقو پوهان او د نورو مسلکو کسان حاضر ول. یو ډنمارکي زما ځنګ ته رانژدي شو او داسې وپوښتل: ستاسو علمي کدرونه په دا کوچني ښار کې دومره ډیر دي چې په نورو ښارونو او هیوادونو کې اټکل کولای شم. دا راته ووایه چې افغانستان مو چاته پریښودي چې تاسو دلته راغلي یاست؟

زموږ د ولسونو او پوهانو نصیب مرګ ته ټیل وهل دي او یا یي په هیڅ بدلوي.

که افغانستان، عراق او لیبیا ته نظر واچوو، دا هیوادونه یي لومړي په کنډوالو بدل کړه او وروسته د دوي د لاسپوځو په واسطه د جګړو اور بل ساتل کیږي چې ټول مغزونه ورځخه فرار وکړي. پایله به یي دا وي چې ولسونه د ګدایي او فقر لاسونه لویدیزو هیوادونو او یا امریکایي واکدارانو ته نیولي وي.

که د افغانستان حالت تر شپاړلس کاله اشغال وروسته تر نظر تیر کړو، برسیره پر زړګونو ستونزو، مسخره ټاکنې یوه ښکاره بیلګه ده.

بل اساسي دلیل چې لویدیز هیوادونه د وروسته پاته هیوادونو یو محدودې شمیرې کډوالو ته پناه ورکوي، دا دي: پر خپلو ظالمانه او خونړیو کړونو باندې د بشر حقوقو ته د درناوي د درواغو جال غوړوي. د بل لورې ډار لري چې یو ځل په نړیواله کچه د میلیونونو کډوالو داسې طوفان رامینځته شي چې لویدیز هیوادونه به هم ور سره ډوب کړي نو ځکه د یو لږ تنفس کولو مجال ورکوي. په پای کې دومره باید ووایم تر څو چې دا بی انصافه نړۍ وې، د مظلومو او بی وسه انسانانو به همدا حال وي.

**افغاني کډوال په بحرونو کې غرقیږي او یا د ځان وژلو هڅې کوي**

دا ځل د ډنمارک د کډوالو په کمپونو کې کډوال د ځان وژنې هڅې کوي ځکه د زرګونو ستونزو څخه راتښتیدلي دی، په زرګونو ډالرونه یې قاچاقبرانو ته د خپلو کورونو، جایدادونو د پلورولو او یا هم د خپلو او پردیو څخه په قرض اخیستي پیسي، ورکړي دي. د لارې د ستونزو برسیره په کمپونو کې کلونه انتظار باسي خو وروسته د رد ځواب تر لاسه کوي او امر ورته کیږي چې هر څه ژر د ډنمارک څخه ووزي، که نه د پولیسو په زور یی بیرته افغانستان ته لیږي. نو یوازنې چاره د دوی له نظره د ځان وژنې هڅې دي، البته ورته حالت په سویډن، جرمني، هالنډ او نورو لویدیزو هیوادونو کې هم جریان لري.

څو ځله مې د تلويزيون د څپو او هم د کډوالو څخه په مخامخ خبرو کې اروېدلي دي چې په سل ګونه افغانان د يونان سره نژدي په بحر کې غرق شوی دي. د ايران او پاکستان د کډوالو کيسې خو لا ډيرې غمجنې دي.

ستاسو پاملرنه د څلورو پيغلو نجونو د ځان وژنې کيسې ته چې د ډنمارک په يو پنډ غالي کې پيښه شوی ده، راګرځوم: د ۲۰۱۳ ز کال د نوامبر په مياشت کې څلورو افغانو پيغلو هڅه وکړه چې ځانونه ووژني.

شبنم نومې (۱۸) کلنه نجلۍ وايي چې ورور يې په افغانستان کې د لاسه ورکړ او طالبانو غوښتل چې د نومړی سره واده وکړی نو ځکه کورنۍ يي د هيواد څخه وتښتيدل او شپږ مياشتې يي په تيښته کې ډير زحمتونه وګالل تر څو ډنمارک ته راغلل تر شپږو مياشتو وروسته يي منفي واخيستل. نومړی نجلۍ خپلو درو خورلڼو ته د خپلې کورنۍ کيسه وکړه دهغو ژوند هم دغومره د ستونزو نه ډک وو. دوی په ګډه پريکړه وکړه چې ځانونه ووژني.

دوي وايي چې په ډنمارک کې د ژوند ټول وسايل شته، پرمختللي تکنالوژي لري، د زده کړو پراخې زمينې برابرې دی خو موږ يوه کوچنی برخه ور په کښی نه لرو. موږ او کورنۍ مو د دوهمه درجه انسانانو په ليکه کې شميرې. شبنم د دوی په مينځ کې مشره نجلۍ وه چې د نورو خورلڼو له پاره يي د ځان وژنې پلان جوړ کړی و.

د دولت لوړ پوړ چارواکې د موضوع د ژورې څيړنې له پاره د سره صليب سره په ګډه د بهرنيانو د ادارې څخه بشپړ

معلومات وغوښت خو د بهرنیانو اداره لیکي چې موږ د موضوع په تړاو غمجن یو او پیښه لویه تراژیدي ګڼو خو باید ووایو چې دا ډول هڅې د اقامې د اخیستلو سره مرسته نه کوي. بشري اقامه یوازې د ناعلاجه ناروغتیا په وجه ورکول کیږي.
د ډنمارک د کډوالو په پنډغالو کې په وروستیو کلونو کې د ځان وژلو پیښې زیاتی شوی دي.

په ۲۰۰۸ ز کال کې ۱۲ پیښې، په ۲۰۰۹ زکال کې ۲۵ پیښې، په ۲۰۱۰ زکال کې ۳۴ پیښې، په ۲۰۱۱ زکال کې ۵۳ پیښې او د ۲۰۱۲ زکال په نهو میاشتو کې ۴۰ د ځان وژنې پیښې راجستر شوی دي.

په ۲۰۱۷ زکال د ډنمارک په پنډ غالو کې (۱۲۰) پناه غوښتونکو د ځان وژنې هڅه کړي چې څلور تنه پر ځان وژنه بریالي شول. البته په نورو لویدیزو هیوادونو کې هم د ډنمارک د وړوکي هیواد د پیښو اټکل کولای شوو.

د کډوالو دوباره لیږل و خپلو هیوادونو ته او په کمپونو کې د انتظار د مودې کړاونه، پناه غوښتونکي ځان وژنو ته هڅولي دي. په ځانګړې توګه په وروستیو کلونو کې د ټولې اروپاه سیاست د کډوالو د بیرته لیږلو په تړاو ډیر چټک شوي دي.

## اووم څپرکۍ

**د کډوالو ټولنې، مسجدونه او د بنسټپالو مرکزونه**

**ـ د کډوالو کلتوري ټولنې د اړوندو هیوادونو او افغانانو د کلتور ساتندوي**

دمخه تر دی چه په بحث پیل وکړم غواړم په ډنمارک کې د افغانی ټولنو او اتحادیو د جوړیدو د تاریخچې اوچارو‌په هکله څه ناڅه رڼا واچوم .

د افغانو کډوالو لومړنی ډله چه ډنمارک ته راغلل ، دا(۱۹۸۰ز) کال و. لومړنی کډوال ښاغلی ډاکټر محمد یعقوب وزیری اوښاغلی ډاکټر برهان داور وو، چه په پورتنی کال ډنمارک ته راغلل . تر ډیرو کلونو پوری د افغانانو شمیره په ټوله اروپایی هیوادونو کی او په ځانګړی ډول په ډنمارک کی ډیره لږ وه . که څه هم د اهیواد د اتحادیو او ټولنو هیواد دی ، په دی مانا چه حتا ناروغان د بیلګې په توګه د سرطان ناروغان، د زړه ناروغان او د ټولنې نورې کتلې اتحادیي لری چه د دوی د حقونو څخه دفاع وکړای شی . د بدنی روزنی اتحادیی ، د مسلکی کارګرانو اتحادیی او د کارفرمایانو اتحادیی یي ډیرې بارزې دي . له یوې خوا د افغانانوشمیره ډیره لږ وه او د بلې خوا هغه کډوال چې په پاکستان او ایران کې د اسلامپاله ګوندونو سره تړلي وو، د اتحادیو د جوړولو څخه یې ډیره کرکه درلوده او نه یې غوښتل افغانان په یوه ګډه ټولنه کې په یووالي کې سره راټول شي، نو ځکه کومه ټولنه نه وه ، که څه هم یوه ټولنه په ډنمارک کی د درو غړو په درلودلو سره په رسمیت پیژندل کیږی.

په (۱۹۸۸ز) کال کی د ښاغلی یعقوب وزیری او د افغانانو ډیرنژدی دوست پروفیسورکلاوس فردینان چه له بده مرغه اوس مړدی ، په نووښت سره د یوی افغانی کلتوری ټولنی د جوړیدو لپاره هلی ځلی پیل شوی.

لومړی یی د ډنمارکی قوانینو پراساس د ټولنی یوه اساسنامه جوړه کړه . چه د هغی اساسنامی سند تر اوسه هم په ډنمارکی ژبه زما سره موجود دی. سره د دی چه په اساسنامو کی د وخت په تیریدو بدلونونه راغلی دی، ولی هغه اساسنامه د افغانی اتحادیو د جوړولو لپاره لومړنی اساس و، چې افغانانو تردیرو کلونو ګټه ور څخه اخیستل . د دی ټولنی د جوړیدو لپاره ډیری هڅی وشوی ، ولی یو شمیر په اسلامي ګوندونو پورې تړلو افغانانو د اتحادیو او ټولنو د جوړولو سره مخالفت ښودی ، نوځکه په وارو، واروغونډی جوړی شوی مګر وروستی پریکړی ته نه رسیدل. تر څو په (۱۹۹۱ز) کال د ترکانو په اسلامی کلتوری مرکز چې د اغوس د ښارپه مرکزکی واقع دی ، غونډه وشوه اوهغه شمیر افغانانو چې د ټولنی د جوړیدو سره علاقه درلوده ، په خوښی سره د لومړی ځل لپاره د یوی افغانی ټولنی بنسټ د ډنمارک د اغوس په ښارکی کښیښود. طبعی خبره ده چه په لومړی سر کی د دی ټولنی شمیر لږ و، ولی تر ټولو دا مهمه وه چه د ټولنی ټولوغړو په دی ټولنه کی په ډیره خوښی او علاقه ونډه واخیستل. د ډنمارکی قوانینوسره نابلدتیا هم ستونزه وه ولی د ډنمارکی موسساتو په مرسته د ټولنی کارونه مخ په وړاندی تله . د دغی ټولنی نوم ( داغوس د افغانانواتحادیه ) کښیښوده شوه. نوموړی اتحادیی په ځانګړی ډول د ښځو او ځوانانو

لپاره ډیره خدمتونه وکړل . دا چې افغانی ښځی داسی یوی ټولنی ته چه رواجونه یی ورته بیګانه وه ، راغلی وی او د افغانانو شمیر هم لږ وو، او د هیواد په څیر د کورنیو تر مینځ لیده او کاته دومره نه و ، نو په طبعی ډول د دوی د خوښیو او د ساتیری چاپیریال تر نارینوو محدود وو . ډیر ژر د اشپزی پروګرامونه د ډنمارکی ښونځیو په سمبالو پخلنځیو کی په اونی کی یوځل د ښځو پواسطه د مازدیګر له خوا پیل شول. په دی پروګرامونو کی نارینوو هم په میاشت کی یوځل په یوازی توګه ونډه اخیستل ، په وروسته کی د ټولنی لخوا د دری او پښتو ژبی کورسونه په همدی ښوونځیو کی د خپل خوښی ښوونکو له لوری پیل شول . د سپورت ډلی جوړی شوی ، د ښځو لپاره ځانګړی د لامبو کورسونه او د ځوانانو لپاره نورتربیتی کارونه پیل شول . تر ټولو لا دا مهمه ده چې د هیواد د ملی او مذهبی ورو‌ځو نمانځنه په ګډه سره رواج وموند او نوی ځوانان په دی وپوهیدل چې موږ د خوشحالیو په ملی او مذهبی ورځو کی څه ډول دودونه لرو. په دی ورځو کی په لوړه کچه د هیواد ډیر دودونه او رواجونه پلی کیده . د دی ورځو د اهمیت او تاریخی ارزښت په هکله ویناګانی اورویدل کیدی، د هغو ځوانانو لپاره چې خپل ګران هیواد یی یا هیڅ نه وه لیدلی او یا هم په ډیره کمه کچه یی اشنایی ورسره درلودل ، په زړه پوری او د دوی د زده کړی لپاره ګټور وو. په دی لړ کی د ټولنی د میرمنو په نووښت یو ډیر په زړه پوری دود رامنځته شو. کله به چه یوه غمجنه پیښه د تولنی کومی کورنی ته پیښه شوه یانی د کومی کورنی غړی به دلته په ډنمارک کی وفات شو، ترهغه وخته چې مړی به یا خاورو ته سپارل کیده

او یا به هیواد ته انتقالیدی، د ټولنی د میرمنو لخوا به هره ورځ په نوبت سره د اړوندې کورنی او د هغوی د میلمنو لپاره خواړه تیاریده او د دوی کورته وروړل کیده . د میلمنو لپاره به هرڅه پرمیز ورته کښیښودل شوه او پاتی خواړه به یی په یخچال کی ورته کښښوده . په دی مانا، هغی کورنی چې غم ورته پیښه شوی و، د فاتحی په ټولو ورځو کی اړنه وو چې خواړه تیارکړی او یا د میلمنوعزت داری وکړی . په دی ډول به د نوموړی کورنی د غم دروند پیټی یو څه سپک شو. دا هغه اصیله افغانی عنعنه ده چه تراوسه په همدی ډول دوام لری .

دا چې په لومړی سر کی د افغانانو شمیر ډیره لږ و، د اوس په شانی د افغانی مجللو هوټلونو اړتیا نه وه، نو ځکه داسی امکانات د خوښی د محفلونو لپاره هم موجود نه وو . د ټولنی غړو د خوښی د جشنونو، ودونو، د زیږیدنی د کالیزی د نمانځنو او یا نورو دی ته ورته خوښیو د مجلسونو لپاره هری کورنی په خپلو کورونو کی د ورکړل شوو موادو څخه خواړه برابرولـه او په خوښیوکی د خپل محفل په څیر ونډه اخیسته او د هیڅ ډول مرستی څخه یی ډده نه کوله . چې تراوسه هم د کوچنی محفلونو لپاره د اتحادیو د غړو ترمینځ دغه په زړه پوری عنعنه شتون لري . بل عنعنه دا هم وه چې کله به نوی کورنی د اغوس ښارته راستانه شوه د ټولنی د ډیرو غړو له خوا د اورګاډی په تم ځای او یا هم د اغوس په هوایی ډګر کی ښه راغلاست ورته ویل کیدی چه دا د نوی راغلی کورنی لپاره ځکه په زړه پوری وه چې په یو نوی هیواد کی ځان یوازی احساس نه کړي . او وروسته د ډیرو کورنیوله لوری د افغانی عالی دود له مخی ماښامنی ډوډی ورته کیدله . بله دا

چې نوی کورنی د ژبی او نوی ښارسره اشنايي نه درلوده، په دی هکله هم برسيره د مقاماتو د مرستی څخه د ټولنی د غړو له خوا مرسته ورسره کیده . ولی دا دود د وخت په تیریدوسره په دوه دلیله یو څه کمزوری شو :
ـ دا چې د افغانانو د راتلوشمیر مخ پر ډیریدو شو، نوعملی ستونزه موجوده وه ، د بلی خوا د هری کورنی شمیره هم زیاته شوه اوپه خپله یی د کارونو د عهدې څخه وتلای شول او په دی هکله اړتیا نه احساس کیدل . د کلونو په اوږدو کی د ټولنی په فعالیتونو کی زیاتوالی راغی او د ځوانانو د روزنی لپاره ځانګړی پاملرنه وشوه . که څه هم د(۹۰) یمو کلونو په جریان کی د ډنمارک د دولت لخوا په لږه پیمانه د مورنی ژبی د زده کړی لپاره د کورسونو جوړول پیل شول ، چې په دی کورسونو کی دری ژبه او په هرو پنځلسو ورځو کی د ټولو شاګردانو لپاره د پښتو ژبی تدریس کیدی.

د پښتوژبې د زده کړې لومړنۍ رسمی کورس د اغوس په ښار په (۱۹۹۶ز) کال پیل او په ټولیزه توګه دا پروسه د ډنمارک نورو ښارونه ته وغځیدل. کله چې دا پروسه د دولت لخوا په (۲۰۰۴ز) کال کی ودریده، نو د ژبی تدریس په خپلی خوښی سره پرته له معاشه ښوونکو لخوا د افغانی ټولنی په مرسته پیل شو، چې د اغوس په ښارکی زموږ د ګرانی خورملالۍ شیرزوی هڅی اوتلاښونه د ډیری ستاینی وړدی . ملالۍ خور په افغانستان کی مسلکی ښوونکی وه او اوس په ډنمارک کی برسیره پردی چه د کورنی چاری اورسمی کارهم لری ولی د خپل لوړ افغانی احساس په درلودلوسره تر همدا شیبې چې د ۲۰۱۸ زکال نیمايي ده، د رسمی وخت نه وروسته

په ډیر ویاړ دا مقدسه چاره مخ ته بیایی چې ډیر شمیر افغانی زلمیان د نوموړی په هڅو تر ډیری کچی پوری په مورنیو ژبو لیکل اولوستل کولای شی، پر ځای یی بولم چې د ملالی خور دغه وطنی ، سپیڅلی دنده په صادقانه اجراً کولو سره موږ افغانان باید د دی خدمتونو ته د درناوی سرټیټ کړو. او د پاکه خدایه څخه د روغ صحت، بریالیتوبونو او خوښیو دوعاګانی ورته وکړو.

تراوسه کولای شو، ووینو چې د افغانی ټولنوجوړول څومره اغیزه د افغانی کلتور په ساتلو کی کړی ده .

**مسجدونه د مسلمانانو د عبادت مرکزونه**

تر دوهمې نړیوالې جګړې وروسته په لویدیزه اروپا کې د صنایعو پرمختګ پیل شو، د شپیتمو او اویایمو کلونو په دوران کې د کار د قوي کمبود احساس شو نو ځکه په لویدیزه اروپا کې ښځو د کار مارکیټ ته لار پیدا کړه خو اړتیا بیا هم پوره نه شوه. همدا علت و چې اروپایانو د نورو هیوادونو څخه میلمانه کارګران را وبلل چې په دې لړ کې ترکیه لومړي هیواد و، چې ډیر کارګران یې اروپا ته را ولیږل. د ترکانو د ډیریدو سره ترکي ټولنې جوړې شوي نو ځکه د عبادت لپاره د مسجدونو په جوړولو هم پیل وشو.

د بیلګې په توګه د ډنمارک د اغوس په ښار کې چې زه اوسیږم او په ۱۹۸۹ زکال دغه ښار ته راغلم، د ترکانو یو مسجد شتون درلودي او بس. البته دا مسجد کومه ځانګړی ودانۍ نه درلوده، په یو اپارتمان کې د هستوګنې د ودانۍ شکل یې درلودي.

کله چې د اسلامي هیوادونو کډوالو د اروپاه لور ته مخه کړه نو په طبعي ډول د هر اسلامي هیواد کډوالو هڅه وکړه چې مسجدونه جوړ کړي. دا بدلون د نیویمو کلونو څخه پیل شو چې اوس ښه په زرب پر مخ روان دي.

د مساجدو جوړولو موخه ډیره مقدسه وه، د ورځني عبادت څخه علاوه ځکه مسلمانانو اړتیا درلودل چې د مړینې په وخت کې د تکفین، تدفین او فاتحې اخیستلو لپاره مناسب ځای ولري. مخکې د فاتحې مراسم په داسې سالونونو کې پر ځای کیدل چې د اروپایانو لخوا د خوښیو او یا نورو ورته مجلسونو د جوړولو لپاره په نظر کې نیول شوي وو. په هغو ښارونو کې چې افغانان زیات ول، بریالي شول چې د افغانانو مسجدونه هم جوړ کړي. سومالیانو او عربانو هم مسجدونه جوړ کړل. ترکان بریالي شول چې لوی مسجدونه چې منارونه ولري هم جوړ کړل. د سویډن د مالمو په ښار کې ډیر لوي ښایسته مسجد شته، د ډنمارک د اغوس په ښار کې هم ترکانو داسې مسجد جوړ کړي چې منارونه لري. په وروستیو کلونو کې د لویو مسجدونو په جوړولو باندې ځینې اروپایان په غوصه شوی دي، نو ځکه هڅه کوي چې پر دولتي مقاماتو زیات فشار راوړي چې د ډیرو مسجدونو د جوړولو مخنیوي وشي.

که په لنډه توګه ووایم په اروپاه کې د میشتو مسلمانانو د دیني مرسمو د اجرأ کولو اړتیاوې په بشپړه توګه پوره شوي دي.

**د بنسټپالنې د عقایدو د ترویج مرکزونه**

مخکې تر دې چې د سرلیک پر موضوع ژور بحث وکړم، اړینه یې ګڼم چې هغو مسایلو ته اشاره وکړم چې په اروپایي

بډايو هيوادونو کې ځوانان، پيغلي او په ټوليزه توګه کډوال د بنسټپالنې په جال کې بند وي.

ـ کله چې کډوال د خپل کور او ټاټوبي څخه ليري شي نو هغه دودونه او رواجونه چې دوي ور سره اشنا وو، داسې بدلون مومي چې راغلو کډوالو يې انتظار نه درلود. په نوي ټولنه کې د مشرانو عزت او درناوي د خپل هيواد په ډول نه وي، کشران هغه څه کوي چې د کور څخه بهر يې په خپل چاپيريال کې د نورو ځوانانو څخه ويني. په افغانستان او نورو ډيرو اسلامي هيوادونو کې د پيغلو کړه وړه د مور او پلار تر بشپړ کنترول لاندې وي خو په نوي ټولنه کې د پيغلو د کړو وړو کنترول ډيرې ستونزې را پورته کوي، او يا د واليدينو اتوريته په بشپړه توګه له مينځه ځي.

ـ هغه واليدين چې په نوي ټولنه کې د ژبې سره اشنايي و نه لري او يايې د زده کولو توان يا شوق و نه لري نو ستونزې نورې هم زياتي وي. د يوې خوا د پخوا په شان داسې پلار نه وي چې کار ولري تر څو پر اولادونو اقتصادي اغيزه وکړي د بلې خوا د ژوند په ورځنيو چارو کې د اولادونو مرستې ته محتاج وي.

ـ په اسلامي هيوادونو کې د امريکا او لويديزې اروپا (ناټو) جنګي ماشين تر حد تير ظلمونه او جنايتونه چې بيلګې يې د عراق د ابوغريب زندان او د افغانستان د بګرام زندان شرمونکي پيښې يادولای شم.

ـ د شوروي د اشغال په دوران کې د امريکا، لويديزو او عربي هيوادونو په ګډ اتحاد د بنسټپالو پياوړي کول.

ـ په ټولیزه توګه د امریکا په مشرۍ په اسلامي هیوادونو کې د جګړو پیل.

ګرانو لوستونکو! د پورته او یو شمیر نورو عواملو په شتون کې په نړیواله کچه د بنسټپالنې عقاید په بیړه خپریږي. په وروستیو کلونو کې د طالبانو، الشباب، بوکو حرام، داعش او په لسګونو نورې ډلې را پیدا شوی چې په ټولیزه توګه ټولې ډلې د خشونت او وژلو لار خپله کړیده.

ځینې ترهګري ډلې د همدغو بډایو هیوادونو په بشپړ ملاتړ را مینځته شوی دي، تر څو وکولای شي د خپلو موخو د پیاده کولو لپاره ګټه ور څخه پورته کړي.

په وروستیو (۱۰ ـ ۱۵) کلنو کې د کډوالو په مینځ کې د افراطي ایډیالوژیګانو د خپرولو لپاره ډیر ګړندي کار روان دي. په تیر وخت کې مسجدونه یوازې د کډوالو د عبادت او مذهبي مراسمو مرکزونه وو خو اوس زیات مسجدونه د بنسټپالنې د ایډیالوژیګانو د ترویج په مرکزونو بدل شوي دي. باید هیره نه وي چې د پاکستان، مالیزیا او نورو اسلامي هیوادونو څخه د تبلیغیانو په نوم ځینې کسان اروپاه ته راځي او د اسلامي تبلیغاتو په تړاو ګټور ګامونه اوچتوي خو په دغه ډلو کې د افراطیت کړی هم ځای لري چې ځوانان بنسټپالو عقایدو ته هڅوئ. نړیوالې افراطي اسلامپالې ډلې په ټوله اروپاه کې فعالیت کوي، ورځ تر بلې یې ملاتړي مخ پر زیاتیدو دي. تر ټولو بده دا ده چې د بنسټپالو ډلو ملاتړي د تحصیل کرده ځوانانو په مینځ کې زیاتیږي، غواړم دوې بیلګې وړاندې کړم:

ـ په وروستیو کلونو کې یو شمیر ځوانان د اروپایي هیوادونو څخه سوریې ته د داعش په ملاتړ جګړو ته تللي دي.

ـ د حزب التحریر اسلامپاله ډله د پخوا څخه په اروپاه کې ژورې ریښې درلودې.

**افغان کډوال او بنسټپالنه**

په خواشینۍ باید ووایم چې افراطي ایډیالوژیګانو په اروپاه میشتو افغان کډوالو کې هم ریښې زغلولي دي، او په لویه کچه د ځوانانو د لوړو زدکړو په مخنیوي کې رغنده رول لري.

پورته مې ځینې علتونه بیان کړل. د همدغو علتونو په وجه والیدین فکر کوي چې خپل هیواد، کلتور، مذهب او هر څه یې د لاسه ور کړي دي نو ځکه مسجد ته پناه وړي. اولادونه هم ډیر تشویقوي چې د ژوند کمبودي په مسجد او عبادت کې ولټوي. په خواشینۍ باید وویل شي چې ټول مسجدونه د پخوا په شان خپله اصلي دنده چې اسلامي تعلیم دي، مخته نه وړي په بدل کې ځوانان په مسجدونو کې د مختلفو افراطي ایډیالوژیګانو ښکار شي.

والیدینو د خپلو اندیښنو د لیري کولو لپاره ماشومان او ځوانان اړ باسي چې د سکایپ په واسطه د پاکستاني ملایانو څخه اسلامي تعلیم زده کړي خو د پاکستاني ملایانو پر تدریس والیدین هیڅ کنترول نه لري. که ربنتیا ووایم والیدین په اګاهانه یا نا اګاهانه توګه خپل اولادونه اور ته ټیل وهي چې وروسته پښیماني هیڅ مرسته کولای نه شی.

د داسې افغاني والیدینو سره مخامخ شوی یم چې اولادونه یې سرکښنې پیل کړي او په خطرناکو افراطي چارو بوخت وي، خو والیدین یې د مخنیوي لپاره څه کولای نه شي او پښیماني هم مرسته نه کوي چې په نتیجه کې په روحي نا ارامیو اخته شي.

دا ډول ځوانان د لوړو زده کړو په بدل کې مصر او نورو عربي هیوادونو ته سفر کوي چې عربي ژبه زده کړي او هلته د مختلفو خطرناکو بنسټپالو کړیو سره اړیکې ونیسي چې مغزونه یې په بشپړه توګه ور ته پریولل شي. د دې پر ځای چې زموږ د دردیلي ولس د ټپونو د ملهم لپاره د اروپاه د امکاناتو څخه په ګټه اخیستنه اولادونه لوړو پر مختللو زده کړو ته تشویق تر څو په راتلونکې کې خپل کنډواله هیواد ته چوپړ وکړي، هغو لارو ته باید مخه نه کړي چې تیر څلویښت کلونه یې زموږ هیواد په کنډواله بدل کړي دي.

تر ټولو دردونکي دا ده، هغه پخواني مشران چې لوړې زدکړې یې درلودي او ولس ته یې د چوپړ وعده ورکړې اوس د بنسټپالنې د عقایدو په پرمختګ کې په اګاهانه او یا غیري اګاهانه توګه مرسته کوي. د پرون وعدې یې هیرې، دا ځل ځانونه بل ګودال ته ټیل وهي.

پاملرنه وکړي د یوې غمجنې پیښې کیسې ته:«په وروسته کې غواړم د یو هیوادوال پیغام د موضوع په تړاو را نقل کړم:« د ۲۰۱۸ زکال د سپټامبر په لومړی اونۍ کې د رسنیو له لارې خبر خپور شوو چې د هالنډ د پارلمان یو غړي غواړي چې د محمد (ع) په تړاو د سپکاي څخه ډک فلم خپور کړي چې

مخکې يې داسې يو هڅه کړې وه. په رسنيو په ځانګړې توګه د فيسبوک پر ټولنيزه پاڼه افغانانو د موضوع په تړاو بېل بېل نظريات خپاره کړه. د نيکه مرغه د فلم خپريدل توقف شول خو د سپټمبر په لومړی نيټه يو افغان زلمي پر دوو تصادفي هالنډيانو د چاقو په واسطه بريد وکړي. ځوان د پوليسو لخو وويشتل شو چې حالت يې ډير خراب دي. دا ډول کړنې د بنسټپالو او افراطي عناصرو هڅې دې چې ځوانان غلطو لارو ته هڅوي.» د بنسټپالو تبليغاتو پايله تر پورته کيسې هم غمجنه کيدای شي.

۲۰۱۸/۶/۲۹

د فيسبوک پر ټولنيزه پاڼه يو افغان محمد سعيد لاندې خبر داری ليکلی دي:

«اروپا مېشتو افغانانو، باخبر!

بچيان او د کورنۍ غړي مو د افراطيت له لومو لرې وساتئ. په ډنمارک کې يوه افغانه نجلۍ له داعش سره د همکارۍ په تور نيول شوې او ممکن افغانستان ته ولېږل شي. په دې وروستيو کې له پاکستان او ځينو عربي هېوادونو ځينې ترهګر د قاريانو، ملايانو يا تبليغيانو په نامه اروپا مېشتو مسلمانانو ته د وټزاپ يا سکايپ له لارې ديني درسونه ورزده کوي. دوی په دې جامه کې خلک کرار کرار افراطيت ته رابولي او ترهګرۍ ته يې هڅوي.

له دې خلکو د خپلې کورنۍ غړي وساتئ او دوستان مو خبر کړئ.»

یو بل وروړ ضیاء رحماني د فیسبوک پر پاڼه لیکي:

« د افراطیت د ترویج او ترغیب دا اور خو له ډېره وخته په منځنۍ ختیځ، مرکزي، سویلې او ختیځه آسیا کې د فزیکي تبلیغاتو له لارې روان وو مګر اوس په افغانستان د پرلیکه شبکو له لارې چې عمدتاً واټس آپ دی ورځ تر بلې زیاتېږي او حاکمه طبقه یې تماشا کوي چې ډېر ژر به په یوه لوی درد سر ورته تبدیل سي چې هغه وخت به یې مهارول ورته ناممکنه وي»

دا هغه واقعیتونه دي چې ما پورته بیان کړل. په سلګونو افغانان لګیاه دي خپلو لوڼو او زامونو او حتا میرمنو ته یې په پاکستان کې د سکایپ د لارې ملایان استخدام کړي په دې پلمه چې اسلامي تدریس ورته کوي. زموږ هیواد چې د پاکستان ګاونډی دي په همدغو افراطیانو یې هیواد را کنډواله کړي خو د هغې تجربې څخه عبرت نه اخلو. په اروپاه کې ناست پیسي هم ورکوو او اولادونه د بلا په خوله ورکوو. افسوس.

## اتم څپرکی

په افغانستان کې د کډوالۍ تاریخي بهیر تر ۱۹۹۲ زکال پورې لکه مخکې مې چې وویل د کډوالۍ اساسي دلیل جګړه ده نو زموږ د تاریخ په مختلفو پړاونو کې په یو یا بل ډول افغانان نورو ملکونو ته کډوال شوي او یا اشغالګرو قوتونو خپل سرتیري زموږ په هیواد کې پریښودلي او دلته استوګن شوی دي چې زه یې د تفصیل څخه ډه ډه کوم. خو زموږ هندو او سک هیوادوال د دغو جګړو محصول دي چې په کابل، کندهار، اروزګان، پکتیا او یا نورو ولایتونو کې میشت دي. البته دوي په تجارت کې ډیرې تجربې لري نو ځکه ډیر یې د تجارت دنده مخته وړي خو باید یو واقعیت په ډاګه شي چې افغانستان د هر افغان په ډول ورته ګران دي چې ښه بیلګه یې ډاکټره انار کلي هنریاره د سنا د جرګې غړې یادولای شم. د دوي د ژوند کړاونو او بریو ته وروسته راګرځم.

په (۱۹) او (۲۰) پیړۍ کې د عادي کډوالو تر څنګ زموږ د وخت پاچهان او امیران هم په جبر کډوالۍ ته اړ ایستل شول. غوره بیلګې یې:

۱ ـ امیر دوست محمد خان و چې په برتانیي هند کې د انګریزانو په امر کډوال و، تر څو د افغاني مجاهدینو په سرښندنه او د امیر د زوي وزیر محمد اکبرخان د تورې په برکت بیرته هیواد ته راستون شو او د دوهم ځل لپاره د پاچهې پر تخت کښیناستي. ( د افغان او انګریز تر لومړي جګړې وروسته)

۲ ـ غازي محمد ایوب خان چې د انګریز سره یې په دوهمه جګړه کې د میوند په سیمه کې انګریزانو ته مرګوني ماته ورکړه خو د کورني اختلافاتو په وجه اړ ایستل شو چې په برتانوي هند کې کډوال شي د ژوند تر پایه هلته پاته شو او مقبره یې هم په پیښور کې ده.

۳ ـ امیر عبدالرحمن خان پوره یولس کاله په تزاري روسیه او یا د هغوي په مستعمرو کې تیر کړل تر څو د انګریزانو تر دوهمې ماتې وروسته بیرته افغانستان ته راستون شو او په ۱۸۸۰ زکال پر تخت کښیناستي.

همدا ډول غازي امان الله خان د سقاوي بغاوت په وجه د خپلې کورنۍ سره ایټالیا ته کډوال شو چې د ژوند تر پایه د خپلې کورنۍ سره اوسیدي خو د ملکې ثریا او د غازي امان الله خان مړه جسدونه افغانستان ته راوړل شول چې په جلال اباد کې خاور ته وسپارل شول.

ظاهرشاه هم د سترګو د علاج لپاره ایټالیا ته تللي و چې په ۱۹۷۳ زکال سردار محمد داود چې د ظاهرخان د کاکا زوي او اخښی و، کودتاه وکړه. ظاهرخان هلته کډوال شو او کورنۍ یې هم تر څه جنجال وروسته په ایټالیا کې ور سره یو ځای شول ولې د ملکې حمیرا مړی کابل ته  راوړل شو خو ظاهرخان په کابل کې وفات وکړ او په پلرنۍ هدیره کې خاور ته وسپارل شو. شاشجاع هم په برتانوي هند کې اوسیدي چې د انګریزانو په مرسته یې د کابل تخت ونیوي او د انګریزانو تر ماتې وروسته د افغان او انګریز په لومړي جګړه کې په کابل کې ووژل شو. په ټولیزه توګه د محمد زایي کورنۍ مشران په

برتانوي هند کې اوړده موده یا د لنډ مهال د پاره اوسېدل چې نادر خان او ورونه يې شاولي خان، شامحمود خان او هاشم خان هم د امير حبيب الله خان په وخت کې افغانستان ته راغلل چې د مصاحبانو لقب یې خپل کړي او وروسته يې تر ۱۹۷۸ زکال د دواد خان د پنځو کلونو جمهوريت په ګډون پر افغانستان واکداري وچلوله.

دغه لنډ معلومات زموږ د اميرانو او شاهانو په اړوند و.

افغانستان ته د کډوالو راتلل:

په وياړ سره باید ووایم چې زموږ ګران هیواد هم اړو او محتاجو کډوالو ته غيږ پرانيستي وه چې په معاصر تاريخ کې د غازي امان الله خان د واکداري سره جوخت دا پروسه په چټکۍ پیل شوه. کله چې په تزاري روسیه کې د اکتوبر انقلاب (۱۹۱۷ زکال) بريالي شو نو د انقلاب سره په مخالفت کې په ځانګړي توګه د منځني اسيا په هيوادونو کې د انقلاب ضد ګروپونه چې د بسمه چيانو په نوم يې يادول، پيدا شول.

ډاکټر رحمت نبي ځیرکیار د ۲۰۱۸ زکال د مي د میاشتي پر اتلسمه نيټه د(مليت، ملت وملی ستم اوخراسان ...) په نوم د نعيمي په پاڼه کې ليکنه خپره کړه، د ليکنې په یوه برخه کې لولو:

(په ۱۹۱۷ کې د لينن په مشرۍ په روسيه کې بلشويک/کمونيستي نظام د پخوانی تزاري نظام ځای ونيو.

کله چې بلشویک/کمونیستي واکمني په مرکزي اسیا کې برلاسې شوه، ګڼ شمیر(اووه نیم لکه = ۷۵۰۰۰۰) تاجکانو، ازبکانو، ترکمنانو، او کرغیزیانو افغانستان ته پناه ویوړه(وسیلي میتروخین،کې جي بي په افغانستان کې. واشنګټن، ډي. سي. ۲۰۰۲، تجدید ۲۰۰۹، په انګریزي ژبه: ۱۷ مخ).

حسن کاکړ په خپل دغه کتاب کې «حسن کاکړ د امان الله خان پاچهي ته نوي کتنه» لیکي:

د بخارا امیر میر سید عالم و (ص ۳۲)

داسې ویل کیږي چې افغان حکومت په فرغانه کې د بسمه چیانو د یو مشر محمد امین بیګ سره اړیکه درلوده. که د افغان په ګټه د اسلامي خلافت په ملاتړ ودریږي وسلې او سړي به ورکړي. (ص ۳۳)

تر ۱۹۱۹ ز کال وروسته شورویانو د منځني اسیا ډیر ځایونه فرغانه او بخار ونیوله او د افغانانو لاس یې د پنجدې څخه هم لنډ کړي او د بخارا امیر هم په ۱۹۲۱ زکال افغانستان ته پناه راوړه. د افغانانو او شورویانو مناسبات د لږ وخت لپاره خراب شول (ص ۳۴)»

په دې تړاو باید ووایم چې د بخارا د امیر په ګډون د منځني اسیا څخه ډیر کډوال افغانستان ته راستانه شول چې دا بهیر د نادر خان په واکمنۍ کې هم دوام درلودي. د دغو کډوالو یوه برخه د بلخ، جوزجان، سمنګان ولایتونو کې میشت شول خو

یوه لویه برخه یې هلمند ته واستول، د دولت لخوا مځکې ورکړل شوي. کله چې ما د هلمند په ولایت کې ماموریت درلودي، د دغو کډوالو د ډلې څخه ډیر یې په دولتي ادارو کې دندې درلودي او مځکې په نادعلي سیمو کې ورکړي وي. مځکې ډیرې حاصلخیزې وي نو ځکه د ښه عزت ژوند یې درلودي. باید ووایم چې د بخارا د امیر د کاکا زوي د هلمند د پنبې او نباتي غوړیو په فابریکه دنده درلوده. کله چې ما هلته ماموریت پیل کړي هغه وفات شوی و.

د کمونیزم څخه د منځني اسیا یو شمیر وګړي چې افغانستان ته را فرار شول، یوه دردونکي خو په زړه پورې کیسې سره مخامخ شولم:

یوه کورنۍ د قزاقستان څخه بلخ ته د نادر خان په وخت کې کډواله شوی وه، د کورنۍ ځوان زوي چې د هغه په قول څه کم اتلس کلن و، یو ځل بیا د ورته دلیل په وجه لویدیزې اروپا ته کډوال شو. دا ځوان کورنۍ جوړه کړه او د دولت لخوا پر ورکړل شوي ځمکه یې کار کولو او ارامن ژوند یې درلود. مشر اولاد یې زده کړې کوي او د ښوونکي په توګه دنده تر سره کوي. په ۱۹۸۰ زکال د شورویانو تر اشغال وروسته یو ځل بیا لویدیزې اروپا ته په د خپلې کورنۍ سره په تیښته بریالي کیږي. ما خپله ور سره ولیدل او دوه ځله د ورته ستونزې کړاونه واقعاً دردونکي وو. نوموړي په ۲۰۰۷ کال په اروپا کې وفات شو.

د کډوالو بله لویه ډله د پاکستان د بلوچستان بلوڅان او په ټولیزه توګه ځینې پښتانه، د بلوڅانو او پښتنو ځینې مشران هم

په افغانستان کې په ډېر عزت ساتل کېدل. د بېلګې په توګه د مشرانو څخه اجمل خټک، خیر بخش مري او خان عبدالغفار خان نومونه اخیستلای شم. باید ووایم چې لومړی کس اجمل خټک و چې د ظاهرشاه په وخت کې افغانستان ته راغلي او په کابل هوټل کې ځای ورکړي. خان غفار خان هم ډېر کلونه د دارالامان ماڼې ته څېرمه په یو مجهزه بنګله کې اوسیدي.

په کابل کې د خوشال خان لیسه د همدغو کډوالو پښتنو د زده کړو په موخه جوړې شوې وه چې ډېر شمیر قبایلو ځوانانو زده کړې په کښې کولې، البته نور زده کړیالان یې نه درلودل. د زده کړیالانو شمیر یې د (۱۰۰۰ ـ ۱۲۰۰) تنو رسیدي. په خوست کې هم یوه ابتدایي ښوونځي په همدغه موخه جوړه شوی وه. باید ووایم چې څنګ ته یې د رحمن بابا لیسه هم وه خو هغه یوازې د ځینو پښتنو سیمو په ځانګړی توګه د پکتیا څخه زده کوونکي درلودل چې د شپې ځای او خواړه یې ورکول.

یوه خبره باید روښانه کړم چې افغانانو هیڅکله د لر او بر پښتنو ته د کډوالو په سترګه کتلي نه دي، دوي خپل افغانان ګڼيځ. د خوشالخان لیسې څخه یو شمیر فارغ زده کړیالان د پوهنتون تر زده کړو وروسته د افغانستان په لوړو ادارو کې ګومارل شوی دي نو په حقیقت کې د وزیرستان د سیمې زیات کسان په افغانستان کې شته د پښتونخوا پښتانه د افغانانو په سترګو او زړه کې افغانان ګڼل کیږي او واقعیت همدا دي ځکه د ډیورنډ منحوسې کرښه د دوو وروڼو کورونو په مینځ وکښل شول چې دا د انګریزي استعمار د فتنو بقایاوي دي. اوس چې

په ۲۰۱۸ زکال په پاکستان کې د پښتنو خوځښت د خپلو حقه حقوقو د اخیستلو لپاره جریان لري، د افغانستان خلک پوره خواخوږي ور سره کوي. په کابل کې په همدغه موخه یوه خیمه درولې ده چې ډیر افغاني مشران لیدنه ور څخه کوي. په خواشینئ باید ووایم چې په ۲۰۱۸/۳/۲۴ زکال د کابل د تحصن پر هغې خیمې چې د لر او بر پښتنو د ملاتړ په موخه جوړه شوی وه، د مقناطیسي بم په واسطه چاودنه وشول څو تنه ټپیان خو زاهدالدین شهید شو. دا دي د کوزې پښتونخوا د پښتنو په ملاتړ لومړنۍ شهید افغانانو ورکړي. د افغانستان په ډیرو ولایتونو کې د همدغه غورځنګ څخه ملاتړ جریان لري. دغه ملاتړ جوته کوي چې د لر او بر پښتانه یو ځان او وجود دي. ډیرو افغانانو د کوزې پښتنونخوا سره د خواخوږي او ملاتړ په خاطر د پښتنو د غوزنګ د مشر، منظور پښتون انځور د فیسبوک پر پاڼه لګولي دي.

د ببرک کارمل او نجیب الله د واکداري په وخت کې ډیر پښتانه قبایل د کابل په لوکسو هوټلونو کې اوسیدل البته دا هوټلونه د سرحداتو او قبایلو وزارت لخوا کرایه شوي وو. د بیلګې په توګه د پلازا او متروپول هوټلونه یادولای شم. د دغو ځوانانو څخه زیات کسان یې د افغانستان د حکومت لخوا د لوړو زده کړو په خاطر د وخت سوسیالیستي هیوادونو په ځانګړې توګه شوروي اتحاد ته لیږل کیدل.

هغه بلوڅان چې د پاکستان د حکومت سره یې ستونزې درلودي، په ډلو ډلو افغانستان ته راتلل. د ظاهرخان او بیا د دوادخان د جمهوریت په وخت کې د بلوڅانو لوي شمیر په

قلات او د کندهار د کوکران په سیمه کې اوسیدل، البته دغو بلوڅانو پاسپورټونه نه درلودل په واقعي مانا کډوال وو. د دولت لخوا د اعاشې او اباتې مرستې ور سره کیدلې.

د ببرک کارمل او د نجیب الله د واکمنۍ په وخت یو ډیر شمیر بلوڅ کډوال د هلمند مرکز لښکرګاه کې اوسیدل. دا کډوال ما د نژدې څخه لیدلي وو. د هلمند د پنبې او نباتي غوړو فابریکې شاته په دښته کې په کلیوالي ډول کورونه جوړ کړي وو او د خپل مشر حاجي هزار میر چې د بلوڅو د جنبش د مرکزي کمیټې غړی و، د خپلې کورنۍ سره یې ژوند کولو. ما د حاجي هزار میر سره نژدي پیژندګلوي او ملګرتوب درلودي. نوموړي په همدغو ختینو کورونو کې د خپلو خلکو په مینځ کې اوسیدي. بلوڅانو د خپل مشر ساتنه د یو هیواد د ولسمشر په ډول کول. بعضي وختونه هزار میر زما د لیدلو او یا کوم کار لپاره فابریکې ته راتلي د نوموړي په راتګ سره به ټوله فابریکه د هغه د وسلوالو لخوا څخه کلابنده وه. په هلمند کې د (۳۰۰۰) کورنیو په شاوخوا کې بلوڅان اوسیدل، دوي هم پاسپورتونه نه لرل. دولت په بلوڅي ژبه د دوي په کلي کې ښوونځي ورته پرانیستي ول. د هر لوی یا ماشوم پر سر یې د میاشتي (۹۰۰) افغاني معاش ورکولو. پر دې سربیره د کوپوني موادو څخه یې هم ګټه اخیستلای شوای.

د دوي په کلي کې د هزار میر په امر بندیخانه جوړه شوی وه چې خپل مجرمین یې ور په کښې ساتل. هزار میر د لوی جنایت په صورت کې د اعدام واک هم درلوداي چې یو ځل یې دوه نفره اعدام هم کړل.

ځینو بلوڅانو د غوړیو او نورو فابریکو کې کار کولو او ځینې په کوچنیو تجارتونو لکه د پسونو پلورلو بوخت وو.

یو وخت د غوړیو فابریکه د پرسونل د کمښت سره مخامخ شول، نو هزار میر ته ورغلم چې د فابریکې د شپې د کارګرانو د کمښت په اړوند مې ورته وویل چې د فابریکې په موټړ کې کارګران کار او بیرته کورته را انتقال کړو ځکه بلوڅانو د شپې د کار اجازه نه درلوده. هزار میر را سره ومنله ولې زیاته یې کړه:«زه کوښښ کوم چې بلوڅان په تجارت او کارونو روږد نشي ځکه بیا جګړه نه کوي.» خو زما سره یې تر هغه وخت پورې چې اړتیا لیري کیدل، د کارګرانو مرسته وکړه. هزار میر خپله (۹) کاله په جګړه کې ونډه اخیستي وه او په غرونو کې ژوند کاوه. د هغه په قول په نوموړو (۹) کلونو کې یو ځل هم خپل کور لیدلي نه دي.

هزار میر په پاکستان کې د بلوڅو د جنبش سره د اړیکو ساتلو په خاطر په میاشت کې یو یا دوه ځله ټاکلي نفر د ریګیستان د لارې بلوچستان ته لیږل.

یوه خبره ډیره مهمه ده چې باید یادونه یې وکړم هغه دا چې شوروي مشاورینو د دوي د شتون سره ډیره علاقه درلوده او د دوي په مینځ کې څارګرې شبکې درلودې، دا چې د کومو موخو لپاره کار ور څخه اخیستي، والله اعلم.

کله چې په ۱۹۹۲ زکال مجاهدین قدرت ته ورسیدل نو هر څه د ورانۍ، چور او چپاول مزه وڅکل چې بلوڅان هم د دې توفان څخه په امان کې پاته نه شول. د بلوڅانو څاروي چور او تالان شول او یو شمیر بلوڅان ووژل شول او نور یې بیرته

پاکستان ته فرار شول چې البته په وروسته وخت کې غبرګون څرګند شو. خانو چې د قومي غونډ یو مخور قوماندان و، د مجاهدینو څخه د تیښتې په وخت د کویټې د هوایي ډګر څخه د بلوڅانو لخوا وتښتول شو. بلوڅانو نوموړي د بلوڅو په وژنو تورن ګڼي. خانو تر ډیرې مودې ورک و، خو څوکاله وروسته د پاکستان د حکومت په هغه چاپه کې چې پر بلوڅانو یې اجرأ کړل، خانو یې هم د دوي په بندیخانه کې موندلي و، چې وروسته ازاد شو خو څو کاله وروسته په هلمند کې ووژل شو.

د کډوالو بهیر د ۱۹۷۳ ـ ۱۹۹۲ زکال پورې:

د سردار داود خان د جمهوریت په دوران (۱۹۷۳ ـ ۱۹۷۸) زکلونو کې لومړنې ډله کډوال چې د افغانستان د اوسنیو بدبختیو زنې ورته ویلای شوو، د جوانان مسلمان ډله وه. کله چې په ۱۹۷۶/ ۱۹۷۵زکلنو کې د پاکستان او نورو څارګرو ادارو په ملاتړ د وخت اخوانیانو د برهان الدین رباني، ګلبدین حکمتیار او احمدشاه مسعود په لارښوونه د هیواد په ځینو سیمو لکه کنړ، لغمان او پنجشیر کې بلواوي وکړي او دولتي ودانیو ته یې اور واچاوه خو بلوا ژر ناکامه شول نو پورته دري تنه په بیړه پاکستان ته کډوال او د پیښور د ګورنر نصرالله بابر په لمن کې پناه واخیستل چې د ای اس ای تر روزنې لاندې ونیول شول. په همدغه وخت کې د پولیتخنیک محصل وم نو زموږ د ټولګي څخه هم یو تن وتښتیدي. په دغه ترتیب په پوهنتون کې د جوانان مسلمان په ډله پورې مشهورو تړلي کسانو پاکستان ته پناه یووړه. نو ځکه زه وایم چې د افغانستان په تاریخ کې دا

هغه کډوال دي چې نن يي هم ولس بيه پري کوي او د افغانستان پر زرين تاريخ يې توره لکه پريښودل.

کله چې د ثور نظامي پاڅون بريالي شو، د بهرني او کورني عواملو له کبله په افغانستان کې د کډوالۍ نوی څپه چې د مخکې څخه يې ډېر توپير درلودي، پيل شوه. د پوځي پاڅون د بريالیتوب سره جوخت د نړۍ سوپر قدرتونو د خپلو ګټو پلاس راوړولو او پراخ غوښتني سياست ته نوی چانس وموند. پخواني شوروي اتحاد تودو اوبو ته د تزار د وخت خوب په واقعيت بدلولو ته ځانونه نژدي ګڼل خو په مقابل کې د امريکا ستراتيژيستان مخکې لا د خوب څخه را ويښ شوي وو چې بايد د شوروي اتحاد د پرمختګ په مخ کې خنډونه جوړ کړي. کله چې حالات نور هم پيچلي شول نو امريکايانو نه يوازې دا چې د شوروي اتحاد پرمختګ مخه ونيسي بلکې د ويټنام جګړې کسات هم ور څخه واخلي. په پاکستان کې پخواني په جوانان مسلمان پورې تړلو د اي اس ای لخوا روزل شوو کډوالو چې مخکې مې يادونه ورڅخه وکړل د بيا را ژوندي کيدلو ښه چانس لاسته ورغلي ځکه د پاکستان څارګرې ادارې د دوي شتون او فعالولو ته ډيره اړتيا احساس کړل چې په لږ وخت کې د نړۍ د خطرناکې او قوي څارګرې ادارې يانې سي آی ای هم جدي پام ور واوښتي.

د ثور د پوځي پاڅون لږ وخت وروسته پاکستان او ايران ته په لږه کچه د کډوالۍ پروسه پيل شوه چې اساسي علتونه يې لاندې وړاندې کوم:

ـ د حکومت او ادارې سره د نوي واکمنۍ نااشناتوب

ـ په دولتي ارګانونو کې د نوو بې تجربې او احساساتي ځوانانو مقرري

ـ په ګوند کې د ژورې بې اتفاقي ریښې

ـ د افغانستان د خلک ډیموکراتیک ګوند نژدیوالي د کفري او کمونیستي شوروي اتحاد سره

ـ د شوروي اتحاد دوه مخې سیاست

ـ د وخت د حکومت عجولانه او بې سنجسه اصلاحي پروګرامونه.

ـ د اصلاحاتو د فرمانونو د پیاده کولو لپاره د وړ کاري ټیمونو کمښت

ـ د ولسونو سره د دولت د مسولینو ناوړه چلند

ـ بې ځایه مرګونه او زورونې

ـ د دولت مخالفینو د اصلاحاتو پر وړاندې د اسلام څخه ناوړه ګټه اخیستنه.

ـ د پاکستان دښمنانه سیاست د افغانستان د نوی حکومت پر وړاندې

ـ د امریکا او لویدیزو هیوادونو ملاتړ د افغان حکومت د مخالفینو څخه چې مخکې د پاکستان په خاوره کې د ای اس ای تر روزنې لاندې وو.

ـ د افغانستان په ځینو غرنیو سیمو کې د مخالفینو او دولت تر مینځ د جګړو پیل.

ـ بایدووایم چې د مجاهدینو تبلیغات د هجرت په تړاو هم ډېر اغیزمن وو. په دې تړاو (جنګ در افغانستان) کتاب چې د عزیز اریانفر لخوا ژباړل شوي، د ۱۲۲ پاڼې څخه ځینې مطالب ستاسو د لوستلو لپاره وړاندې کوم:«د هجرت (کډوالۍ) اصطلاح یې د محمد (ع) د هجرت څخه چې د مکې څخه یې مدینې ته هجرت وکړي، اخیستي او د افغانستان پر شرایطو یې تطبیقول.» په دې اړوند مولوي محمد نبي په یوه رساله کې لیکلي:«حضرت محمد(ص) د الله (ج) په امر د کفارو د ازار او ظلم څخه د مکې څخه و مدینې ته هجرت وکړي... د هر مسلمان دنده ده چې د پاک خدای (ج) امر ته غاړه کښېږدي، په هغه هیواد کې چې اسلامي واکمنۍ نه وي، د هغه څخه هجرت وکړي. د هر مسلمان دنده ده چې د اسلام تر بریالیتوب پورې جهاد ته دوام ور کړئ.»

ـ هغه کسانو چې د پاکستان په مختلفو سیمو په پنډ غالو کې ژوند کولو، د کورنۍ د نفقې غم هم په سر اخیستي و، خو د یوې خوا په پاکستان کې کډوال ته د چارو پیدا کول لویه ستونزه وه، د بل لورې که چاره یې هم موندلي واي، دومره پیسي یې ګټلای نه شوای چې د کورنۍ نفقه ور باندې برابره کړي. د اسلامپالو ډلو مشرانو هغو کسانو ته چې جګړو ته ولاړ شي، ډېرې پیسي ورکولي خو جګړه مار کولای شوای د چور او چپاول څخه هم پیسي لاسته راوړي نو ځکه د جګړو مارو لیکي غښتلي کیدلي او ډیرو کسانو کډوالیو ته زړه ښه کاوه.

دا هغه اساسي ټکي وو چې د خلقيانو د واکمنۍ په پیل کې دلته او هلته يې جګړه پيل کړل. دولت هم جګړه په ډيره قهرجنه توګه ځپل. په طبعي ډول د جګړه مارو په ځپلو کې بی ګناه انسان هم وژل کيدل او هم کيدلای شواي، عام ولسونه زوروول شوي وو، کښتونه او کورونه يې وران شي، خو جوخت ور سره د دښمن پراخ تبليغ مل وو، چې يو شمير هيوادوال پاکستان او ايران ته کډوال شول.

د ۱۹۷۹ زکا د ډسمبر پر (۲۷) مه د شوروي اتحاد د سره لښکر يرغل او د ببرک کارمل په مشري د نوی حکومت جوړول، ولسونو ته په اثبات ورسول چې زموږ هيواد د شوروي اتحاد په منګلو کې اشغال او په افغانستان کې به کمونيستي حکومت ټينګ شي. جګړې پراخې شوي، د پاکستان لاس وهنه بربنډه او پراخه شوه. د ملګرو ملتو د پريکړه ليکونو پر بنسټ د شوروي يرغل په شديدو ټکو وغندل شو، او د ژر وتلو غوښتنه ور څخه وشوه. امريکا، لويديزو هيوادونو او عربي هيوادونو د مخالفينو سره چې د مجاهدينو نوم يې ورته غوره کړي، د وژونکو وسلو پراخې مرستې پيل کړي. جګړه په ټول شدت پيل شول، هر لور ته د جهاد نارې سورې خپرې وي. د افغانستان ولس د شاهی دورې د څه د پاسه څلويښت کلن خوب څخه را پاڅيدلي وو، هغه نسل چې د انګريز سره په جګړو کې څو ځله ښکيل شوی وو او د جګړې مزه يې څکلي وه، نور د افغانانو په مينځ کې شتون نه درلود. همدا دليل و، (چې د جنګ خوږې خبري او ساعت يې تريخ دي) پخواني متل ته چا سوچ کړی نه و، نو ځکه جګړه په ډير زرب او درب پيل شوه. د افغانستان مځکه او هوا د توپونو،

الوتکو او راکټونو تر ډزو لاندې وه. مجاهدینو هم تر خپل وس پورې د لارو، اقتصادي پروژو، ښوونځیو، کلینیکونو، بندونو، پلونو او دولتي ودانیو په ورانولو باندې زړه سوی نه درلودي.

په دغه اړو دوړ کې څوک د دولت او شورویانو د بمبوریو، توپونو، تلاښیو او زورنې څخه کډوال شول، څو څوک د مجاهدینو د ظلمونو، وژنو، د شپې له مخې د کورونو څخه د ایستلو او ورته وحشتونو څخه فرار او کډوالي ته اړ شول. په دغه ترتیب په میلیونونو افغانان په پاکستان، ایران او یو لږ شمیره هندوستان، بډایو لویدیزو اروپایي هیوادونو، امریکا او استرالیا ته په فرار بریالي شول. باید ووایم چې په قانوني ډول د هیواد څخه وتل استثنایي حالت درلودي، یانې په پاسپورت د هیواد څخه وتل ناشوني کار و. بشپړو کورنیو د غرو د لارې په ډیر بد حالت کې پاکستان او ایران ته ځانونه رسول چې په لارې کې د لوږې، تندې او نورو زیاتو ستونزو سره مخامخ وو. په ځانګړې توګه په لارو کې د مجاهدینو او دولت له خوا په لارو کې د ښځ شوو ماینونو، د الوتکو بمبارد او یا د مجاهدینو د ازار او ناوړه چلند ډار دا ستونزې څو برابره زیاتولي.

د (جنګ در افغانستان، نوشته ګروهي از دانشمندان روسي، ترجمه عزیز اریانفر) د کتاب په ۱۳۳ پاڼه کې د کډوالو د شمیري په اړوند لولو:«په ۱۹۷۳ زکال څو سوه کډوال، په ۱۹۷۸ زکال ۱۵۹۹۰۰ تنه کډوال، د ۱۹۷۹ زکال سپټمبر ۱۹۳۰۰۰ تنه کډوال، د ۱۹۷۹ زکال ډسمبر ۴۰۲۱۱۰۰، ۱۹۸۰ زکال اضافه تر یو میلیونه تنه کډوال، د ۱۹۸۱ زکال د

می میاشت تر دوه (۲) میلیونه زیات کډوال، په ۱۹۸۲ زکال نژدي ۲،۸ میلیونه کډوال خو د ۱۹۸۳ زکال د می میاشت تر ۲،۳ میلیونه زیات کډوال په پاکستان او ایران کې شتون درلود. د کتاب په ۱۳۵ پاڼه کې راغلي دي چې دا کډوال زیاتره د پاکستان په سهیل لویدیز او بلوچستان په (۳۳۰) پنډغالو کې اوسیدل.)

البته په اروپایې هیوادونو، امریکا او استرلیا کې د ژوند شرایط جوړ و، خو د پاکستان او ایران شرایط افغاني کډوالو ته د جهنم حیثیت درلودي.

په ای اس ای او ایراني شبکو پورې تړلو ګوندونو د کډوالو د غریبي او فقر څخه ګټه اخیستنه پیل کړه او یا یې د اسلام په نوم د جهاد او غزا تبلیغات دومره پیاوړي کړل چې افغانان یې د خپل هیواد ورانۍ او ورور وژنې ته وهڅول.

د کور په دننه کې هم ورته چلند په شدت جریان درلودي. ښځې، ماشومان او ځوانان د جګړو څخه هر لورې ته په تیښته وه، ډیري کسانو د مجاهدینو د ظلمونو او د الوتکو د بمباریو څخه لویو ښارونو ته پناه وړل، نو ځکه د ښارونو د نفوس شمیره دومره وپړسول شوو، چې د اوسیدلو د یوې خونې پیدا کول هم اسانه چاره نه وه. په کلیو او بانډو کې خلک یوه او بل لورې ته په دې امید چې ژوندي پاته شي، په تیښته وه.

یو چا کیسته راته وکړه چې د الوتکو سخت بمبارد پیل شو، نو د کور مخې ته ولاړم چې یو شمیر پورته او بل شمیر کښته لور ته په تیښته وه، هیڅوک نه پوهیدل چې کوم لورې ته امن دي.

دا لړۍ کال په کال مخ پر زیاتیدو وه، کمښت نه ور پکښې ښکاریدي. کله چې په ۱۹۸۶ زکال ډاکټر نجیب الله د ببرک کارمل ځایناستي شو، او د ملي مصالحې پروګرام اعلان شو. د ۱۹۸۷ زکال په اوږدو کې د پاسپورټ اخیستل تر یوې کچې ازاد شول. په پیل کې پرته د کومې پلټنې پاسپورتونه ورکول کیدل ولې تر لږ مودې وروسته ازادي محدوده شوه،د پاسپورت ِاخیستونکو غوښتنلیکونه باید د خاد (د دولتي خدماتو اداره) د اداري تایید درلودلای. په دغه ترتیب دولت وکولای شواي چې د هغو کسانو د وتلو مخه ونیسي کوم چې دولت نه غوښتل د افغانستان څخه ووزي.

د وتلو مصونه لار هندوستان ته ویزه اخیستل و، په پیل کې د هندوستان د ویزې اخیستل یو څه ساده کار و، خو د څو ورځو په تیریدو سره د هندوستان ویزه هم د چوغکې شیدې شوي. د خلکو دومره ګڼه ګونه وه چې ډیرو کسانو د سفارت مخې ته شپې تیرولي، د اریانا شرکت ټکټونه هم د رشوت ورکولو پرته ناممکن شول.

په دغه دوران کې یو شمیر ښاري او ګوندي کسانو موقع پیدا کړل چې اروپا او یا نورو بډایو هیوادونو ته کډوال شي. په تیرو کلونو کې چې د پاسپورټ اخیستل ازاد نه و، دولتي، ګوندي او حتی پیژندل شوو ښاري خلکو ته د پاکستان او ایران لخوا سفر د سر په بدله و. ځینو اسلامي ګوندونو د افغانستان سرحد ته د پاکستان په نژدې ښارونو، کویټه او پیښور کې د جاسوسۍ جال درلودي، کله به چې څوک د سرحد څخه را تیر

شو یا به ترور او یا هم د پاکستان ای اس ای ته سپارل کیدي. د ترور په تړاو د ګلبدین حکمتیار نوم ډیر اخیستل کیږي.

د ډاکټر نجیب الله د حکومت په ورستیو کلونو کې کله چې د شوروي اتحاد پوځونه ووتل، جګړو نور شدت پیدا کړ نو ځکه د کډوالو شمیره د کور دننه او هم بهر ته مخ په ډیریدو شول. دا لړۍ د مجاهدینو تر واکمنۍ پورې دوام وکړئ.

# نهم څپرکی

په افغانستان کې د اسلامي (جهادي) حکومت پیل او کډوالۍ نوی بهیر
د ۱۹۹۲ زکال د اپریل اتمه ویشتمه نیټه

د افغانستان ولس په ډیره میړانه د زړه له کومې د شوروي پوځیانو په وړاندې اوږده کلونه مبارزه وکړه او په میلیونونه افغانان قرباني شول، او په میلیونونو افغانان په بهرنیو هیوادونو کې کډوال او د ژوند سخت دردونه یې وزغمل، هیله یې دا وه چې هیواد به یې ازاد او اشغال به پای ته ورسیږي. په خواشینۍ باید ووایم چې افغان ولس د اوو ګونو او اته ګونو تنظیمونو د ناوړه نیت څخه خبر نه وو، په دې هم نه پوهیدل چې عام ولس د سي ای ای او ای اس ای د شومو غرضونو لپاره د پورته تنظیمونو په واسطه د اسلام په خطر کې دي په نوم غولول شوی وو. د جهادي تنظیمونو مشرانو دوې موخې درلودي: یو دا چې د سي ای ای او ای اس ای موخې په بریالیتوب پیاده کړي او بل دا چې دوي پر واک داسې خیټه واچوي چې هر څه د دوي غنیمت وګڼل شي. د افغانانو د اوږدو کلونو د رنځونو، ټپونو د ملهم ایښودلو او یتیمانو د اوښکو پاکولو هیڅ پلان یي نه درلودي.

د مجاهدینو مشرانو د واک نیولو لپاره مخکې تر دې چې د کابل واک خپل کړي د هغه دښمن سره چې نژدې لس کاله یې افغان ولس ور سره په جګړه اخته کړي وو، د واک د نیولو لپاره معامله پیل کړه. په ډیرو کتابونو کې د مجاهدینو د مشرانو د پټې معاملې څخه چې د کریملین سره یې په لار اچولي وه، پرده پورته شوي ده. زه به دلته د (از پادشاهي

مطلقه الی سقوط جمهوری دموکراتیک افغانستان، جلد دوم، نوشته عبدالوکیل وزیر خارجه حکومت نجیب الله ص، ص ۸۱۵ ـ ۸۲۲) کتاب ته مراجعه وکړم. په کتاب کې د مجاهدینو د مشرانو د سفر په تړاو په تفصیل معلومات شته خو زه یې لنډیز وړاندې کوم:

«دا سفر د شوروي او پاکستان د څارګرې ادارې په مستقیم تفاهم صورت ونیوي. په پاکستان کې د افغان حکومت شازدافیر، قدرت الله احمدي د شوروی د سفارت د شازدافیر سره ولیدل او کابل ته یې د غونډې لنډیز په (۳۹۵۷ نمبر ټلیکس نیټه:۱۳۷۰/۷/۲۶ ل.ل) د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت ته لیږلي و، د ټیلیکس متن: (د اکتوبر پر ۱۶ نیټه په اسلام اباد کې د شوروي د سفارت شازدافیر د خپل سفیر په هدایت زما سره ولیدل. ماته یې د نواز شریف او اپوزیسیون د مشرانو، د شوروي د سفیر او شهریار خان، مجددي په اړوند او هم د شوروي د شازدافیر ملاقات د حسین ګل د ګلبدین د استازي، حمید کریاب او مجددي په تړاو معلومات راکړ چې لنډیز یې دا دي: د اکتوبر پر ۱۳ مه نیټه د پاکستان د ای اس ای د مشر اسد دراني په بلنه مجددي، ګیلاني، ګلبدین، رباني او احمدشاه د سیاف استازي غونډه جوړه شوه او شوروي ته د هیت ترکیب په تړاو بحث وشو. خالص او سیاف شخصاً په غونډه کې حاضر نه وو، خالص ویلي و چې روسان ظالمان او افغانان مظلومان دي او هغوي موږ ته باید راشي، احمدشاه د سیاف استازی د خپل مشر په دستور هیڅ نظر وړاندې نه کړ...)»

په همدې کتاب کې داسې دوام ورکوي:(د مجاهدینو د مشرانو د مذاکراتو لومړی پړاو د شورویانو سره د ۱۹۹۱ زکال د نومبر پر ۱۱ نیټه په مسکو مې پیل شو. د شوروي پلوه غونډه د بوریس یلسن د لومړی مرستیال روتسکوي په مشري چې د شوروي د بهرنیو چارو وزارت لوړ رتبه غړي، اندرونوف د شوروي اتحاد د عالی شورا استازي ګډون درلودي. د مجاهدینو د هیت مشر برهان الدین رباني و. برهان الدین رباني ژورنالیستانو ته وویل: (مذاکرات ډیر جوړونکي او د امیدونو ډک وو، د مذاکراتو په جریان کې روتسکوي نوی وړاندیزونه درلودل چې په دوهم دور مذکراتو کې په ۱۳ نومبر پیلیږي، خبري ورباندې وکړو. مجاهدین به د شوروي سره د افغانستان د مسلې د حل په اړوند مرسته وکړئ. په سیمه کې د ثبات د ټینګولو په خاطر باید په کابل کې اسلامي رژیم رامینځته شي. شورویان باید د کابل پر حکومت د اقتصادي مرستو په ګډون ټولې مرستې بندي کړئ. د مجاهدینو هیت د شوروي د مختلفو مقاماتو سره لیدنې درلودي چې طرفین په کابل کې مجاهدینو ته پر واک سپارلو همږغې شوه.»

لنډه دا چې د پاکستان د مشرانو تر څار لاندې د مجاهدینو حکومت د صبغت الله مجددي په مشري جوړ شو، چې دوې میاشتي به واک لري او وروسته به واک د څلورو میاشتو لپاره برهان الدین رباني ته سپاري. د ۱۹۹۲ زکال د اپریل په اتمه ویشتمه (۲۸) نیټه د مجاهدینو کاروان د کابل ښار ته را ورسیدي. همدغه ورځ وه چې په افغانستان کې یوه بله دردناکه غمیزه پیل شوه. د دې پر ځای چې د ولس پر ټپونو ملهم کښیښودل شي، چور، چپاول، بی ناموسي او وحشت پیل شو. د

ثور د اتمې نیټې په تړاو د (جنګ های کابل، لیکوال:جنرال سید عبدالقدوس سید، ص، ص ۲۳۹ ـ ۲۴۰) د کتاب څخه څو مهم مسایل تاسو ته را نقلوم:

«د دریم مکرویان پر سړک مې د کاروان د راتللو تماشا کول. د کابل چاپیریال چې ګلونو بوی یې کولو، یو ځل فضاء د کاروان په را رسیدو سره د باروتو او دود بوی ونیول. د کابل اسمان د خفیفه او ثقیله وسلو د فیرونو د دود په وجه ، توره څیره واخیستل. هغو خلکو چې د مجاهدینو بریالیتووب یې د جګړې پای او د سولې د راتلو ښه فرصت ګاڼه، په خپله غلطی وپوهیدل. کوم سیلانیان چې د مجاهدینو د کاروان د لیدلو لپاره د کورونو راوتلي وو، د وسلوالو مجاهدینو په لیدلو چې ځان د حتمي مرګ څخه وژغوري، ژر خپلو کورونو ته پناه یووړه... د خلکو شپږم حس کار وکړی، چې د پیښور څخه راغلی کاروان، د جګړې، تباهي او د اوه سرې اژدهار په څیر د پردیو لخوا را لیږل شوی دي، تر څو کابل وران او په اور کې لولپه کړي.»

په همدې پاڼه کې راغلي چې ش.ستانیزي په خپل کتاب کې داسې لیکي:«د ثور په اتمه نیټه صبغت الله مجددي کابل ته را ورسید، په پلچرخي کې نبي عظیمي ښه راغلاست ور ته ووایه. په کوڅو کې خلک نه تر سترګو کیدل. هغه وخت چې شاه شجاع د انګریزانو لخوا کندهار ته ورسول شو، خلکو د کوڅو څخه تیښته وکړه، ورته صحنه د مجددي په راتلو سره تر سترګو کیدل.»

د همدې کتاب په ۲۴۰ پاڼه کې د عبدالروف بیګې د کتاب څخه داسې لولو:«د صبغت الله مجددي به راتلو سره ملاتړو یې د کابل ښار د درنو او سپکو وسلو په فیرونو روښانه کړي و، چې انساني تلفات یې هم درلودل.

په هغه ورځ انسان ته سوچ پیدا کیدي چې د شر نړۍ ده او ډزو خولې وازې کړې دي. د انسانانو د ژوند اخیستلو لپاره داسې ښکاریده چې راغلی کاروان د وینو تږی دي. د کابل په ښار کې (۱۵۰) تنه پاک او بی ګناه اوسیدونکي ټپیان او ووژل شول. د کابل ښار د لومړی ضربې څخه بیا پر پښو و نه دریدي ځکه وروسته د درنو ضربو په پایله کې ښار پر زنګنو شو.»

د مجاهدینو په راتللو سره داسې جنایتونه تر سره شول چې د بشریت په تاریخ کې به لږ لیدل شوي وي نو ځکه زه یوازې یوه بیلګه وړاندې د همدې کتاب د ۳۴۲ مې پاڼې څخه د ناهید د شهادت په اړوند بیانوم:«ناحید ۱۶ کلنه د ښوونځي زده کونکې په مکرویان کې اوسیدل. د ۱۹۹۲ زکال په نیمایي کې د مجاهدینو وسلوالو یې په دې هیله چې پر ناهید تیري وکړي، برید وکړ. پلار یې مقاومت وکړي خو ناهید د پنځم پوړ څخه ځان لاندې وغورزاوه او ځای پر ځای شهیده شوه. پلار او کورنۍ یې تابوت پر اوږو واخیست چې واکدارانو ته د دوي د وحشت بیلګې په نمایش کښیږدي خو وسلوالو مجاهدینو یې مخالفت وکړي.»

په کابل کې اور بل و، د هیچا عزت، شتمنې او کورنۍ په امن کې نه وه، نو ځکه په زرګونو کابلیانو او د هیواد د ګوټ ګوټ

څخه افغانانو د کډوالي نوي پړاو پیل کړي. تر ۶۵۰۰۰ زیات کابلیان په شهادت ورسیدل. افغانانو یوازې ځانونه او کورنۍ ایستلي خو بیا هم په پاټکونو کې د ډول ډول ستونزو سره مخ وو، که څه هم هر څه یې جهادي وحشیانو ته پریښودلي وو. د کډوالي دا لړۍ هم ډیره دردناکه او د کمیت له لحاظه هم ډیره غوښینه وه. په ډلو ډلو ښځو، ماشومانو، بوډاګانو او ځوانانو د تیښتې لار نیولې وه. عصري ترانسپورتي وسایل یا چور شوی وو او یا هم د جګړه مارو په واک کې وو، نو ځکه خلکو د لاسي کراچیو او یا د خرو په واسطه د کشوني کراچیو څخه کار اخیستي. مظلوم ولس د خپلو توکو په غم کې نه وو، یوازې خپل سرونه ایستل، حداقل توکي یې د ځان سره اخیستل. سره د دې چې د مرمیو په باران کې د ژوندي پاته کیدلو هڅې کولې، د پاټکونو د وحشي قوماندانانو لخوا چور او بې عزته کیدل. په ټول هیواد خو په ځانګړي توګه په کابل کې کربلا وه. هیڅوک نه پوهیدل چې کوم لورې ته تیښته وکړي. چا د پاکستان او یا ایران پر لور منډې وهلې او څوک خپلو ولایتونو او کلیو ته په تیښته وه. د کابل ښار تش او د مړو د ښار په توګه زخمي زخمي ښکاریدي. پر سړکونو یوازې د مړو جسدونه او د وحشیانو موټری کاروانونه چې د توپک شپیلي یې د خلکو او کورونو لورې ته نیولي وي، ښکاریدل.

**د طالبانو واکمنۍ ۱۹۹۶ سپټمبر**

د طالبانو واکمنۍ چې د ۱۹۹۶ زکال د سپټمبر پر اویشتمه ماښام یې کابل ونیوي، د ځان سره یې بیلا بیل پیغامونه راوړل. لومړي پیغام یې د ډاکټر نجیب الله او د هغه ورور

بيرحمانه وژنه وه چې په اغلب ګومان د پاکستان په هدايت تر سره شوه. د عبد الحي مطمين په کتاب کې تأکيد شوی چې د نجيب الله وژل د طالبانو خپلمنځي پلان و، خو نړوالې رسنۍ ادعا لري چې دا کار د پاکستان د څارګرۍ ادارې په ځانګړې توګه د جنرال حميدګل په امر تر سره شو.

بل زيري يې د کابل او ټول افغانستان خلکو ته دا وو، چې مال او ناموس يې په بشپړه توګه خوندي دي. دا يو واقعيت دي چې طالبانو د مجاهدينو د وخت د بی ناموسي کړونو ته د پای ټکي کښيښود، پاټکونه يې ړنګ کړل، غلاوي، چور او چپاول پای ته ورسيدي، او خلکو د هيواد د يوې برخې څخه بلې برخې ته پرته د ډار څخه سفر کولای شوای، د افغانستان د تجزيې هيله چې شمالي ټلوالي يې ارزو درلوده، د ريښې څخه له مينځه ولاړه.

وروستنۍ پيغام يې د علم او پرمختللې تدريسي سيستم او ښځو سره د ظالمانه چلند پيام و. د طالبانو د واکمنۍ سره د ښوونځيو په ځانګړې توګه د نجونو د ښوونځيو دروازې وتړلې شوي، د کونډيانو د کار مخه يې ونيوله. د همدغو کونډيانو ښار ته د راوتلو بنديز را مينځته کړي، حتا د کورونو د ښيښو د تور رنګ ورکولو امر يې هم وکړئ. د کتابونو څخه يې د ژوندې موجوداتو د انځورونو د مينځه وړلو امر وکړي. په ټوليزه توګه پر هيواد يې تور جال وغوړاوه. د امر بالمعروف او نهی عن المنکر مذهبي پولسيو په خلکو د يوه وخت لمونځ څو ځلې ادأ کاوه، ولسونه تر سږمو راغلل نو ځکه يې د هيواد څخه کډوالي ته مخه کړه. د (۱۹۹۶ ـ ۲۰۰۱ ) زکلنو په مينځ کې

ډیر روڼ اندي اروپا او نورو هیوادونو ته کډوال شول. کډوالۍ ځو علتونه درلودل:

ـ د ښوونځیو تړل

ـ د ښځو پر کار او ګرځیدلو بندیز او هم د ښځو د زده کړو سره کلک مخالفت

ـ د پخوانیو دولتي او ګوندې کار کوونکي تروروال چې بیلګې یې ډیرې دي.

ـ په هیواد کې دوامداره جګړه او د سوله ایز افغانستان د هیلو مړاوي.

ـ د القاعده سره د طالبانو خواخوږي په ځانګړی توګه د اسامه بن لادن پر فعالیتونو د سترګو پټول.

د افغانستان د فرهنګي تاریخي اثارو د مینځه وړل د بیلګې په توګه د بامیانو تاریخي بتان.

ـ د نړۍ د اسلامي هیوادونو د علماوو او پوهانو مشورو ته غوږ نه نیول.

ـ د طالبانو په مینځ کې د پاکستان اغیزناکه نفوذ.

ـ د دولتي اداري ناسم چلول او د د طالبانو د ملاتړو روڼ آندو مشورو ته غوږ نه نیول.

او نور...

د طالبانو د پنځه کلنۍ واکمنۍ په دوران کې ډیر خلک د کورنیو سره د خپل اقتصادي توان مطابق مختلفو هیوادونو ته

کډوال شول. باید ووایم چې یو شمیر کډوال د خپلو جایدادونو د دوباره اخیستلو لپاره افغانستان ته ولاړل، ځکه طالبانو دا زمینه ورته برابره کړې وه. لنډیز دا چې د یوې لورې د خلکو لپاره زمینه برابره شول چې د خپلو شتمنیو د لاسته راوړولو لپاره خپل هیواد ته ستون شي خو د بل لورې د طالبانو د سختو کړونو په وجه ډیر هیوادوال دوباره کډوالۍ ته اړ شول.

## د حامد کرزي او اشرف غني د واکمنۍ دوران

د ۲۰۰۱ زکال د اکتوبر پر اوم مابنام د امریکا پوځ پر افغانستان یرغل وکړ، د امریکا یرغل د شمالي ټلوالي په مرسته چې په چور، چپاول، بی ناموسي او وحشتونو کې نړیوال ریکارډ درلود، د افغانستان پر بی وزلو او بی دفاع وګړو درانده بمونه و اورول. ژر طالبان پر شاه شول او د امریکا تر مشرۍ لاندې د بن په کنفرانس کې حامد کرزي د انتقالي حکومت مشر وټاکل شو او نژدې د دولت نور ټول واک شمالي ټلوالي یانې د جمعیت اسلامي ګوند ته انتقال شو، خو د پنجشیر ولسوالي او احمد شاه مسعود پلویانو غوښینه برخه درلوده. سره د دې چې طالبانو هم جګړه نه غوښته خو شمالي ټلوالي او امریکایانو د پوځ د زور د لارې خبرې کولي. شمالي ټلوالي یا خپل پخواني مخالفین او یا د پیسو ټولولو لپاره د عامو وګړو په زورولو او بندي کولو لاس پورې کړ. ژر ډیر خلک وپوهیدل چې په افغانستان کې ژوند کول ورته ګران دي. په همدې وجه یې د هجرت او کډوالي لار ونیول، څوک پاکستان، ایران او ډیر شمیر د اروپاه پر لورې وخوځیدل. په پیل کې دا

پروسه ډېره سسته وه ځکه ولسونو د امریکا او ملاتړو هیوادونو څخه ډیرې هیلې درلودې. باور یې درلود چې ژر به افغانستان په یو پرمختللي، ارام او ازاد هیواد بدل شي. دا چې د امریکایانو او شمالي ټلوالي ظلمونو ورځ تر بلې زور اخیست نو د ولسونو هیلې هم په نا امیدو بدلې شوې. د خلکو سره د امریکایانو او شمالي ټلوالي ناروا چلند او حتا د خلکو پر عزت تیري د دې دلیل شو، خلک اړ شول چې بیا وسلې ته لاس واچوي او طالبانو هم د دغه طلایې فرصت څخه ګټه واخیستل، د ولس په خوا کې ودریدل، جګړه بیا توده شوه او د کډوالۍ لړې د دریم ځل لپاره پیل شوه. په ۲۰۱۶ ز کال د اروپاه پر لور د کډوالو طوفان راغلي. البته چې د دغو کډوالو لویه شمیره د سوریې کډوال وو، خو ډیر افغانان هم په دغه اړو دوړ کې اروپاه ته راورسیدل.

د حامد کرزي په دوران کې تر ۲۰۰۶ زکال وروسته په تدریج سره هر کال کډوال زیاتیدل، البته دغه زیاتونه د امنیتي حالاتو سره په نیغه اړه درلوده.

د اشرف غني د واکداري د پیل څخه (سپټمبر ۲۰۱۴ زکال) بیا تر اوسه (۲۰۱۸ زکال جولای میاشت) د هیواد حالات ورځ تر بلې ترینګلي کیږي. باید په یاد ولرو چې د بارک اوباما د اندیښنو ډکه پالیسي هم د دې عامل شول چې طالبانو د امریکایي پوځونو ته انتظار ایست چې د امریکایانو په وتلو سره جګړه نوره هم خونړۍ کړي. څه نژدې د څلورو کلنو په دوران کې ولسوالیو او حتا ولایتونو سقوط وکړي خو په ډېرو ځاني تلفاتو سره بیرته ونیول شول. د امنیتي ځواکونو تلفات په

شمیر کې حیرانونکي زیاتوالي راغلي دي، په هر برید کې په درجنو سرتیري شهیدان کیږي، حتماً به طالبان هم دغومره تلفات لري.

په زغرده ویلای شم چې په کور دننه او بهر ته د کډوالو په شمیرې کې د پام وړ زیاتوالي راغلي دي چې پورته مې بیان ورباندې کړي دي. ولس ډیر سرگردانه او لا لهانده دي نو ځکه د هلمند ولایت د لښکرګاه د ښار څخه لس تنه د سولې او اوربند په هیله تر کابل پورې پر پښو راغلل، او اوس مزاری شریف ته رسیدلي، پریکړه یې کړي ده چې خپل حرکت دوام ورکړي او حتا نا امنه سیمو ته هم د سولې پیغام ورسوي. هر لورې ته ولسونه د سولې او جګړه بس کړي نارې وهي، خو طالبان جګړه یوازې د امریکایانو په وتلو پورې تړلی ګڼئ. د ۲۰۱۶ زکال وروسته چې اروپاه د سوریې او هم افغانستان څخه په لکونو کسان کډوال شول، اروپاییان یې هم وارخطا کړه چې باید د کډوالو مخنیوي وکړي. نو ځکه لکه پورته چې بیان ور باندې وشو، مختلف پلانونه یې تر لاس لاندې نیولي چې د کډوالو راتلل اروپاه ته ودروئ.

## د ليکوال محمد ابراهيم نعيمي لنډه پيژندنه

محمدابراهيم نعيمي په ۱۹۵۳ کال د کندهار په پنجوايي ولسوالۍ کې زيږيدلی دی، پلاريې ښوونکی و او پلرنۍ کورنۍ يي چې د کندهارد ښکاپوربازاردی ، يوه روحانې کورنۍ وه. دپلارد دندې په وجه د هلمند ولايت د ګرشک په ولسوالی کې لوی شوی او د ابوالفتح بستي ليسه يي په ۱۹۷۱ زکال کې پای ته رسولې. په همدغه کال د کابل پوهنتون د پوليتخنيک په پوهنځۍ کې شامل شو. په ۱۹۷۶ زکال يي د کانو ايستلو څانګه پای ته ورسوله او سملاسي يې د عسکري خدمت د احتياطو دوره پيل کړه او تر شپږ مياشتو وروسته يي ترخيص ترلاسه کړ. د۱۹۷۷ زکال په اوړي کې د پروان ولايت د فرنجل غوربند د بيرايتو په کان کې د انجيرپه توګه مقرر شو. په دغه ترتيب يي د کانو او صنايعو په وزارت کې بيلابيلې دندې ترسره کړې، د هلمند په ولايت کې د پنبې او نباتي غوړيو د فابريکې ريس شو، شپږمياشتې د پلچرخي په زندان کې سياسي محبوس و، د کانو او صنايعو په وزارت کې د ډبرو د سکرو د مرکزي ادارې کارکوونکی اوپه پای کې له دولتي دندې څخه ګوښه ، دوه کاله يې د شخصي کار په لړکې د ګلدوزۍ او خامکدوزي دوکان درلود، او په ۱۹۸۹زکال و ډنمارک ته کډوال شو . اوس په ډنمارک کې له خپلې کورنۍ ، ميرمن او درو اولادونو سره ژوند کوي .

ځو کاله کیږي چې د خپلې عادي ورځنۍ دندې ترڅنګ یې له لیکنوسره مینه پیدا کړې ده چې په دری ، پښتو او ډنمارکې ژبه یي ډیرې لیکنې په بیلابیلو ویبپاڼوکې خپرې شوې دي. همدا ډول د ډیرې مودې راهیسي یوه ویبپاڼه nahimi.dk چلوي چې په انګریزي ، ډنمارکي ، پښتو او دري ژبو سیاسي او ټولنیزې لیکنې خپروي .

**د لیکوال چاپ شوي کتابونه:**

۱ ـ (او لا ګلونه سوځي) یې لومړی کتاب و چې په ۲۰۱۲ زکال خپور شو، همدغه کتاب په ډنمارکي ژبه هم په ۲۰۱۵ زکال کې خپور شو. د کتاب منځپانګه د افغانستان د ښځو د ژوند د تاریخي بهیر بیان دي.

۲ ـ په ۲۰۱۲ زکال کې د هیواد سفرنامه چې په لنډه توګه د افغانستان د حالاتو انځور په ۲۰۱۰ زکال ترسیموي.

۳ ـ (په افغانستان، عراق او لیبیا کې د ناټو جګړې) یې ژباړلې چې په دوو ټوکو کې د ۲۰۱۶ زکال کې خپور شو.

۴ ـ د پیشقل بای کیسې لومړی ټوک د طنزي کیسو مجموعه د چاپ کال مارچ ۲۰۱۶ زکال

۵ ـ په افغانستان کې د امریکا پټې موخې او لوڅ جنایتونه د چاپ کال ۲۰۱۷ زکال

۶ ـ د پیشقل بای کیسې دوهم ټوک د طنزي کیسو مجموعه د چاپ کال مارچ ۲۰۱۸ زکال

۷ ـ افغانستان اونږۍ د بنسټپالنې په تورجال کې مارچ ۲۰۱۸ زکال

۸ ـ اوسنۍ کتاب

په درناوي ۶ / ۷ / ۲۰۱۸ زکال ډنمارک



**Download from:aghalibrary**